# ولی مو اسلام ومانه

## د لویدیځوالو د مسلمانېدو لاملونه


**تألیف:**

**عبدالظاهر داعی**



۱۳۹۱ ش = ۱۴۳۳ ق = ۲۰۱۲ م

**د کتاب نوم:** ولی مو اسلام ومانه

**د کتاب اصلي نوم:** چرا مسلمان شدیم؟

**لیکوال:** عبدالظاهر داعی

**موضوع:** نور عقیدوي مسائل (ایمان، جبر، اختیار، قضا او قدر، مهدی، انسان، شیطن، پیريې، فرشتی او...)

**د چاپ شمیر:** لومړي (دیجیتال)

**د چاپ تاریخ:** سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق

**سرچینه:**

**دا کتاب د عقیدې د کتابخانې سایت نه داونلود شوی دی.**

**www.aqeedeh.com/pa**

**برښنا لیک:** **book@aqeedeh.com**


**د موحدینو ګروپ ویب پاڼو**

| | |
|---|---|
| www.mowahedin.com | www.aqeedeh.com |
| www.videofarsi.com | www.islamtxt.com |
| www.zekr.tv | www.shabnam.cc |
| www.mowahed.com | www.sadaislam.com |

**په عقیدې سایت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسایت د همغږۍ په معنا نه ده.**


contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب فهرست


**د کتاب فهرست ........................................................ أ**

**مقدمه.................................................................. ۱**

**لومړی څپرکی: د اسلام عظمت ........................................ ۵**

د لویدیځوالو د مسلمانېدو لاملونه ...................................... ۵

تعصبات او بې احترامی د انسانانو ترمنځ: ............................. ۸

کومه لاره غوره کړو؟ .................................................. ۹

د دین د لارې غوره والی عقل ته نژدې ده ............................ ۱۱

په نورو ادیانو د اسلام د مقدس دین ښه والی ......................... ۱۲

اسلام تر ټولو ستر نړیوال دین دی ...................................... ۱۳

**دویم څپرکی: په امریکا کې د اسلام په اړه یو ځغلنده نظر........... ۱۵**

د امریکایي پوه (جوزېف ادوارد) کیسه ................................. ۱۸

یو قرآن او څو انجیلونه:.................................................. ۲۲

د قرآنکریم معجزې: ..................................................... ۲۳

عبد الرحمن یوه پرښته ده:................................................ ۲۵

اسلام ته د بلنې پروګرامونه.............................................. ۲۶

د داوود موسی بسکوک د مسلمانېدو کیسه ............................. ۲۷

د جوزیف موریس (محمدیوسف) د مسلمانېدو کیسه .................. ۲۹

(سلام او دعوت):........................................................ ۳۰

(د شهادت کلمه):........................................................ ۳۲

د فاروق عبدالحق د مسلمانېدو کیسه (ډاکټر رابرت ډیکسونکرین) ..... ۳٤

د نورو هیوادونو په پرتله امریکا کې خلک زیات اسلام خواته را اوړي ولې؟ ...................................................................... ۳٤

ټولنيز هدف........................................................ ۳۵
عملي رنګ........................................................ ۳٦
الهي وړانګې........................................................ ۳۹
د چارلز د مسلمانېدو کيسه ........................................................ ٤۱
اسلام د معجزو دين ده........................................................ ٤۱
د قرآنکريم تفسير او معجزې يې........................................................ ٤۲
د معجزو دين........................................................ ٤۳
څنګه يې خپل ايمان ښکاره کړ........................................................ ٤۳
د (پروفيسور جفری لانګ) د مسلمانېدو کيسه ........................................................ ٤٤
داعی الله فردان........................................................ ٤۷
محمد عبد الله ........................................................ ٥۰
عبدالرحمن ........................................................ ٥۰
د فارس د خليج جنګ: ........................................................ ٥۱
له اسلام نه بېرته مخ اړول:........................................................ ٥۲
اسلام ته بېرته راګرځېدل:........................................................ ٥۲
ديو امريکايي شاعر، منتقد او ليکوال کرنل دونالد اس راکويل مسلمانېدل ........................................................ ٥۳
د محمد سيد د مسلمانېدو کيسه ........................................................ ٥٤
کليسا تر سوال لاندې ........................................................ ٥٤
د يو شي په لټون........................................................ ٥٥
شهادتين........................................................ ٥٥
څنګه مې ژوند بدل شو؟........................................................ ٥٦
د پاول اوبارټلټ د مسلمانېدو کيسه ........................................................ ٥٦
د اسلام په اړه........................................................ ٥۸
د بودايزم منل او بېرته خوشې کول........................................................ ٥۹
د اسلام په لټه........................................................ ٦۰
د قرآن لوستل........................................................ ٦۰
پرانيستی کور........................................................ ٦۰
روحي هڅونه........................................................ ٦۱

د اسلام په لاره........................................................٦٢
وروستنۍ مانع........................................................٦٢
زما ننۍ هڅونه........................................................٦٣
اسلام ته راګرځېدنه........................................................٦٤
د سندي وبر د مسلمانېدو کیسه ........................................................٦٤
د حسن پففرکرن د مسلمانېدو کیسه ........................................................٦٥
مهربانه کورنۍ........................................................٦٦
پوهه د عقل په مقابل کې........................................................٦٧
نړیوال او مذهبي حقایق ........................................................٦٧
په پوهنتون کې........................................................٦٨
د مذهب اړوند کلاسونه ........................................................٦٨
مهاتما ګاندي او قرآنکریم........................................................٦٩
په رمضان کې روژه نیول ........................................................٧٠
سکېزم او بهائیت........................................................٧٠
شهادتین........................................................٧١
د ژول اي ویت د مسلمانېدو کیسه ........................................................٧٢
د الف کارلسون د مسلمانېدو کیسه (اسلام زما د پرمختګ سبب شو) ..٧٣
ستاسې د مسلمانېدو سبب څه وه؟ ........................................................٧٣
پدې لاره کې مو کومې ستونزې درلودې؟........................................................٧٤
اسلام د انسان ژوند څنګه بدلوي؟........................................................٧٤
د نوح ها میم کلر د مسلمانېدو کیسه ........................................................٧٥
په مسیحي کورنۍ کې لوئېدل ........................................................٧٥
د انجیل د لوستلو هڅه........................................................٧٦
د فلسفې لوست........................................................٧٦
د شیکاګو په پوهنتون کې........................................................٧٨
په الاسکا کې د کبنتۍ د خدمتګار په توګه........................................................٧٨
١٧ کلن امریکایي زلمی ........................................................٧٩
**دریم څپرکی: د بریتانویانو مسلمانېدل........................................................٨٢**

په اروپا کې د اسلام خپرېدل ........................ ۸۲
د ستیفن جورجیو د مسلمانېدو کیسه ........................ ۸۳
عقل د انسان غوره زیور........................ ۸٤
په اصلي تمځای کې ........................ ۸٤
زوکړه........................ ۸٤
د خپل ژوند په اړه وایي........................ ۸۵
ستیفنس سندرغاړی و........................ ۸۵
شهرت او ناروغی........................ ۸۵
ستره لاربنوونه ........................ ۸٦
اسلامي روزنه........................ ۸٦
قدس ته سفر ........................ ۸۷
څنګه له موسیقۍ لرې شو؟........................ ۸۸
اسلامي تعلیماتو ته یې پاملرنه ........................ ۸۸
له سودخوړلو ژغورنه........................ ۸۸
له سندرو تر نعتونو........................ ۸۸
د اسلام پر لور بلونکی........................ ۸۹
د لامان پول د مسلمانېدو کیسه ........................ ۸۹
د ژوند کیسه یې........................ ۹۰
مسیحي لامان ........................ ۹۰
د ځان په لټه ........................ ۹۱
اسلام د خوښۍ دین دی........................ ۹۲
ایماني شیبې........................ ۹۲
پر ملګرو یې اغیزه او ددې کار اعلان........................ ۹۳
پر لامان د لمونځ اغیزه........................ ۹۳
د لویدیځ په اړه وایي ........................ ۹٤
**څلورم څپرکی: د المانیانو مسلمانیدل........................ ۹٦**
(دکتور مراد هوفمان) په الجزایر کې د المان سفیر ........................ ۹٦
دویمه پیښه د ښکلا او هنر حادثه: ........................ ۹۹

**پنځم څپرکی: د فلیپینانو د مسلمانېدو کیسې ........................... ۱۰۳**
د یو فلیپیني کشیش سامي فرناندس د مسلمانېدو کیسه ............۱۰۳
د برناردو د مسلمانېدو کیسه ..............................۱۱۰
له یو ژوند نه تر بله......................................۱۱۰
د اسلام د پېژندلو ډول ..................................۱۱۱
د رودلیوفرناندو د مسلمانېدو کیسه ..........................۱۱۲
آیا انجیل د خدای کلام ده؟..................................۱۱۲
د هېرمن تشنکو د مسلمانېدو کیسه ..........................۱۱۵
اعلان.........................................................۱۱۸
عمره.........................................................۱۱۸
د محمد سوامي د مسلمانېدو کیسه ..........................۱۱۹
ناڅاپي خبر....................................................۱۲۰
نوی ژوند......................................................۱۲۰
اذان ژورنالیستیکي وسیله.....................................۱۲۱
د تلویزیون بلونکی...........................................۱۲۲
مسیح د خدای بنده او رسول.................................۱۲۲
د اسلام زده کړه..............................................۱۲۳
**شپږم څپرکی: د هندیانو د مسلمانېدو کیسې.......................... ۱۲۴**
د ناریر د مسلمانېدو کیسه ..................................۱۲٤
د ارای یوراج له ټولې کورنی سره د مسلمانېدو کیسه ............۱۲٦
ابراهیم او اسماعیل په بیت الله کې...........................۱۲۸
د راما شاندرا د مسلمانېدو کیسه ...........................۱۳۰
له اسلام سره پېژندګلوي .....................................۱۳۰
اسلام ته داخلېدل............................................۱۳۱
د فینکاتاریدي د مسلمانېدو کیسه ..........................۱۳۲
د هدایت لار...................................................۱۳۳
هر څه په حساب دي..........................................۱۳٤
مور او پلار....................................................۱۳٥

مالوریدي سوپاریدې د مسلمانېدو کیسه ........................................ ۱۳۵
انسان محاسبه کیږي.................................................................. ۱۳۷
د کورنی عکس العمل.................................................................. ۱۳۸
بیت الله...................................................................................... ۱۳۸
**اووم څپرکی: د سریلانکایانو د مسلمانېدو کیسې ........................... ۱۳۹**
د فیمالاسینا د مسلمانېدو کیسه ................................................... ۱۳۹
اسلام پېژندنه.............................................................................. ۱۳۹
**اتم څپرکی: د فرانسویانو د مسلمانېدو کیسې ................................ ۱۴۲**
د موریس بوکای د مسلمانېدو کیسه ............................................... ۱٤۲
د تیاري هانري د مسلمانېدو کیسه ................................................ ۱٤٤
**نهم څپرکی: د یهودانو د مسلمانېدو کیسې ..................................... ۱۴۶**
د حاخام د مسلمانېدو کیسه ......................................................... ۱٤٦
د یوسف کوهین د مسلمانېدو کیسه ............................................... ۱٤٦
د قرآن کریم لوستل...................................................................... ۱٤۷
**لسم څپرکی: د عربي مسیحیانو د مسلمانېدو کیسې.......................... ۱۴۹**
د اسحاق هلال د مسلمانېدو کیسه ................................................ ۱٤۹
**یولسم څپرکی: د کانادیانو د مسلمانېدو کیسې................................ ۱۵۲**
د ګاري میلر د مسلمانېدو کیسې ................................................... ۱٥۲
**دولسم څپرکی: د چینایانو د مسلمانېدو کیسې................................ ۱۵۴**
د اس اس لای د مسلمانېدو کیسه ................................................. ۱٥٤
یو ښکلی خوب............................................................................. ۱٥٥
**دیارلسم څپرکی: د واتیکان دیو غړي مسلمانېدل.............................. ۱۵۶**

# مقدمه

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه، ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهدِه الله فلا مضل له، ومن يُضلل فلا هاديَ له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ ١٠٢﴾ [آل عمران: ١٠٢].

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ﴾ [النساء: ١].

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ٧١﴾

[الأحزاب: ٧٠-٧١](١).

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَن يَرۡتَدَّ مِنكُمۡ عَن دِينِهِۦ فَسَوۡفَ يَأۡتِي ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ يُحِبُّهُمۡ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ يُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوۡمَةَ لَآئِمٖۚ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ٥٤﴾ [المائدة: ٥٤].

«ای مؤمنانو که له تاسې نه څوک له خپل دین نه واوړي الله به نور ډېر زر داسې خلک پیدا کړي چې الله ته ګران وي او الله هغوی ته ګران وي، چې له مؤمنانو سره به نرمي کوي او پرکافرانو به زړور او تیز وی، چې د الله په لار کې به جهاد کوي او د

---

١- خطبهء این کتاب خطبهء ماثوره است که رسول الله ﷺ به اصحابش آن را یاد می‌داد. و من آن را از کتاب شیخ ناصر الدین آلبانی گرفتم: خطبة الحاجة التي كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يعلمها أصحابه تاليف محمد ناصر الدين الألباني، بيروت: المكتب الإسلامي (١٤٠٠)، ص: ٢.

هېڅ ملامتوونکي له پرې اچولو نه نه وېرېږي، دا د الله فضل دی چاته يې چې خوښه شي ورپه برخه کوي يې، الله د پراخه وسايلو څښتن او په هر څه پوه دی».

«عَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَيَبْلُغَنَّ هَذَا الْأَمْرُ مَا بَلَغَ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَلَا يَتْرُكُ اللَّهُ بَيْتَ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ إِلَّا أَدْخَلَهُ اللَّهُ هَذَا الدِّينَ بِعِزِّ عَزِيزٍ أَوْ بِذُلِّ ذَلِيلٍ عِزًّا يُعِزُّ اللَّهُ بِهِ الْإِسْلَامَ وَذُلًّا يُذِلُّ اللَّهُ بِهِ الْكُفْرَ وَكَانَ تَمِيمٌ الدَّارِيُّ يَقُولُ قَدْ عَرَفْتُ ذَلِكَ فِي أَهْلِ بَيْتِي لَقَدْ أَصَابَ مَنْ أَسْلَمَ مِنْهُمْ الْخَيْرُ وَالشَّرَفُ وَالْعِزُّ وَلَقَدْ أَصَابَ مَنْ كَانَ مِنْهُمْ كَافِرًا الذُّلُّ الصَّغَار وَالْجِزْيَة» حديث شمېره: (۱۶۳۴۴) مسند الشامين (مسند احمد ابن حنبل رحمه الله).

له تميم الداریﷺ روايت دی چې ما له رسول اللهﷺ څخه اوريدلي دي چي ويل يې: دا دين په تر هغو ځايونو رسيږي تر کوم ځای پورې چې شپه او ورځ رسيدلې وی او اللهﷻ به هيڅ کور هيڅ ښار ليرې او نيږدی ځای به داسي پرې نهږدي ترڅو يې خپل دين هلته نه وي داخل کړي په عزت د عزتمندو او په ذليل کيدلو د ذليلانو يعنی څوک چې دادين ومني الله تعالی به عزت ورته په برخه کړي او څوک يې چې ونه منی نو الله تعالی به يې له ذلت او خواری سره مخامخ کړي.

د سيانس او ټکنالوجي د پرمختګ پدې مهم پړاو کې د اسلام ددين عظمت او لويي پدې کې ده چې له نيکه مرغه کوم کسان له هغوی اسلام منی هغوی د خپلو هيوادونو روڼ اندې، متخصصين علماء او پوهان خلک دي چې وروسته له پوره مطالعی او هر اړخيزې څيړنی څخه دې پايلې ته رسيدلې چې د اسلام مقدس دين دی چې د بشر ناخوالو ته مثبت ځواب ويلي شي. خو بر عکس کوم کسان چې مرتد شول هغوی متاسفانه هغه خلک دي چې اصلاً ددې دين په هکله هيڅ معلومات نه لري او په ټول ژوند کې يې يو وار هم قرآن کريم ندی خلاص کړی چې په دې مبارک کتاب کې د انسان د لارښوونې لپاره څه شته بلکي ددې فاني دنيا د څو ناچله پيسو په مقابل کې يې خپل حق دين په باطل بدل کړی چې پدې هکله اللهﷻ فرمايی: ﴿وَإِن تَتَوَلَّوۡاْ يَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓاْ أَمۡثَٰلَكُم ۝٣٨﴾ [محمد: ۳۸].

«که تاسو (مسلمانان) له خپل دین څخه وګرځی نو الله پاک له تاسو نه پرته نور خلک راولی چې بیا به ستاسو په څیر نه وي».

درنو ملګرو! کله فکر کوو قرآن یوه الهی معجزه ده نو واقعاً دې حقیقت ته رسیږو او دا مومو چې معجزه ده چې دغه معجزه په ټولو الهي احکامو اغېزه اچوي او ټول احکام یوه معجزه ګرځي، د الله هر قانون په خپل ذات کې یوه معجزه ګڼلی شو، ډېر ځله داسې شوي چې زمونږه مسلمان ورونه د ځینو مستحبو او یا هم سنتو کارونو په کولو کې خپله بې پروایي ښيي خو چې د نویو مسلمان شویو له حاله سړی خبر شي نو پوهیږي چې هغوی د څومره یوې جزوي او وړې خبرې تر تاثیر لاندې راغلي او مسلمان شوي دي. حضرت محمدﷺ فرمایي: «لا يحقرن أحدكم من المعروف شيئا ولو ان يلقى أخاه بوجه طلق». تاسې د دین هېڅ ښه کار ته په کمه سترګه مه ګورئ که دا ښه کار ستاسې له یو ورور سره په ورین تندي مخامخ کیدل هم وي د لیدو کتلو هم وي. دا حدیث شریف مونږه ته راښیي چې انسان باید په خپلو ټولو معاملاتو کې په تېره مسلمان باید ډېره پاملرنه وکړي ځکه چې همدغه نېک خوي او کړه وړه د خلکو د پام وړ ګرځي او هغوی مسلمان کیږي. په لویدیځ کې خو دا عامه شوې ده چې د اسلام دین هسې یو دین ده او د ښځو حقوقو ته هېڅ پاملرنه نه کوي خو کله چې زیاتې ښځې د حجاب په اړه پوهیدلي او لیدلی یې ده مسلمانې شوي دي ځکه هغوی دې حقیقت ته رسیدلي دي چې دا حجاب یوه ښځه له څومره بدوکارونو څخه منع کوي او دا چې چا امر کړی نو هغه څومره په ښځه باندې مهربان ذات ده. د فارس په جنګونو کې مسلمانان له پرلپسې ماتو سره مخ شول، کله چې د مسلمانانو مشران سره راټول شول نو د ماتې د لاملونو په لټه کې شول، له ډېرو خبرو وروسته یو تن وویلې چې د احد په جنګ کې مسلمانانو د حضرت محمدﷺ له یو امر څخه سرغړونه وکړه نو مات شول ښایي مونږه هم داسې کوم سنت یا د حضرت محمدﷺ امر مات کړی وي، له څېړنې وروسته پوه شول چې ډېر وخت کیږي چې مسواک یې نه ده استعمال کړی نو فوراً ولاړل او له ونو څخه یې لرګي مات او مسواکونه یې ترې جوړ کړل هماغه و چې په سبا جنګ کې کامیاب او بریالي شول.

ورونږو که پوه شو نو د حضرت محمدﷺ په هره خبره کې د ژوند اوبه دي، خو ولې ستونزه دلته ده چې مونږه د هغه له اوامرو څخه بې تفاوته پاتې کیږو اودامعموله ده چې د بې تفاوتې سزا به حتماً خلک ویني. ما دا کتاب دنویو مسلمانانو د مستندو کیسو څخه راجوړ کړی ده او تر ډېره حده مې هڅه کړې ده چې تر څو د لاملونو سره یو ځا ی د یو تن د مسلمانېدو کیسه ذکر کړم تر څو هغه چا چې ایمان نه ده راوړی د هغې د ایمان راوړلو لپاره هم یو ښه مرستندوی ثابت شي او د مسلمانو سترګې پرې یخې شي ا و همدارنګه چې مسلمانان له کومو کارونو بې غوره پاتې دي هغه ببرته راخپل کړي. په پای کې له اللهﷻ څخه غواړم تر څو دغه کتاب د خپلې رضا سبب وګرځوي.

﴿وَقُلِ ٱعۡمَلُواْ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ﴾.

# لومړی څپرکی:
# د اسلام عظمت

درنو ورونړو پدې فصل کې به د اسلام او د مسلمانانو په هکله ځینې خبرې سره شریکي کړو تر څو د اسلام د مبارک دین په ستروالي او لویوالې باندې پوه شو. ورونړو نن سبا چې څوک مسلمانېږي ډېر ځیزونه له لاسه ورکوي د بېلګې په توګه مال، دولت، اهل او عیال، زندګي او نور شیان او بالاخره لـه کـوره هـم شړل کیږي خو هغه بیا هم ددې شیانو برسېره د اسلام پـه مبـارک دیـن محکـم پاتې کیږي؟ آیا ددې لامـل پرتـه د اسـلام لـه حقیقـت نـه بـل څـه کېـدای شـي، همدارنګـه کـه سـوچ وکـړو نـو هغـه کسـان چـې نـوي مسـلمانیږي ټـول علمـا، پوهان، او نړیوالې پېژندل شوې څېرې وي خو ددې پـه مقابـل کـې هغـه کسـان چې له اسلام څخه وځي ټول ناپوه، په پیسو مین، لوچک او لـوفره خلـک وي، تاسې دا واټن په خپلو سترګو لیدلی شی، نو د اسلام د ستروالي په هکله تاسـې خپله فکر وکړی. اوس به مونږه د ځینو خلکو د مسلمانېدو لاملونه وڅیړو چـې دوی ولې د اسلام مبارک دین پر لور مخه کوي او قبلوی یې.

## د لویدیځوالو د مسلمانېدو لاملونه

په لویدیځ کې د خلکو د مسلمانېدو لاملونه په لاندې توګه څېړلی شو:

۱- مادي او معنوي تنده: یو د لویدیځوالو دمسـلمانېدو لـه لاملونـه څخـه د هغوی معنوي او مادی تنده ده، که چېرې هغوی په مادي برخـه کـې څـه ناڅه کړي دي خو په معنوي برخه کې یې پښې ډېرې سستې شـوي دي، هلته متقابل احترام، د والدینو احترام، ټولنیزې اړیکي، د انسـانانو لپـاره خدمت، فردي اړیکې... او داسې نور معنـوي بعدونـه ټـول ډېـر ضـعیفه دي، د مرضونو زیاتوالی لکه د ایدز، سرطان او نـورو ددې علـت شـوی چې ډېری انسانان ووژنې چې دا اصلاً ټول د بشر پوسیله د جـوړ شـویو

دينونو نتيجه ده او كه الهي قانون سره يې اړيكې ټينګې شي نو دا هر څه به بېرته راسم شي.

۲- له ژوند څخه ستړي كيدل: لكه مخكې چې ذكر شول د مادي ژوند په برخه كې هم ستونزي شته دي چې د لويديځوالو د دين د بدلولو علت جوړيداى شي، د بېلګې په توګه يوتن د خپل كار اوبار او تجارت لپاره داسې يو چا باندې اعتماد نشي كولى چې خپل ټول رازونه ورسره شريک كړي او ټول كارونه ورسره په شريكه پر مخ بوزي نو په مادي برخه كې هم يواځې پاتې كيږي او د پريشانى سبب يې ګرځي، تل پدې فكر كې وي چې د ارمانونو د ثبات لپاره يې ښه او سم ملګرى پيدا شي.




۳- په عقيده كې د معقوليت لټه: نن دې عصر ته مونږه د ساينس او تكنالوژى زمانه وايو او پدې عصر كې خلک په بينا او پرانستو سترګو خلكو سره حركت كوي يعنې داسې عقيده نشي منلى چې د عقل سره په ټكر كې وي يا يې عقل ونشي منلى لكه څنګه انسان د خپل عظمت له درلودو سره سره بت ته سجده وكړي، دا بت كه د مسيح وى كه د بودا وى او يا د بګوان برابره خبره ده زمونږ په وړاندى هيڅ توپير نلري ولې ورته عبادت وشي انسان دې څنګه ملعون او مردار پيدا شي او بيا دې مسيح عليه السلام د هغه د پاكوالي هڅه وكړي د انسان پوښتنه كوي چې ولې انسان معلون پيداكيږي ولى پلار خپل زوى د بندګانو د معاف كولو لپاره قربانوي ايا د ظلم نه دي چې پلار خپل زوي دښمنانو

ته سپاري ولی دا زوي دده په وينه کې شريک نه دي ولي پلار بي له دي
نه چې خپل اولاد مړ يا په دار کړی خپل بندګان نه معاف کوي؟

دغسې نورې ډېرې پوښتنې شته چې د ځواب له پيدا کولو وروسته يې خلک مسلمانيږي.

يو عالم مخکی له دي نه چې مسلمان شی وايي: زه د خپلې پوهي په رڼا کې دا معلومووم چې دا جهان بی له خالق نه نه دی پيدا شوی خامخا يو ذات موجود دی چې دغه جهان پدغسې نظم رهبري کوی.

يو پوه او نوی مسلمان د خپل د مسلمانېدو په کيسه کې وايي چې کله زه کليسا ته ولاړم نو ماته يې يو ګيلاس اوبه راکړې او وويلې چې دا مسيح وينه ده ويې څکه او لږ فطيره ډوډی يې راکړه او راته يې وويلې چې داد مسيح غوښه ده ويې خوره زما عقل دلته دا ونه منله او ما ورته وويلې چې زه څنګه ومنم چې ډوډی ته غوښه او اوبو ته وينه ووايم؟ هغوی راته په ځواب کې وويلې چې که غواړې چې عيسوي و اوسې نو ته بايد دا شيان له هېره وباسې او له خپل عقل سره کله ناکله په تضاد کې هم واوسې. کله چې دا عالم دا خبرې اوري نو د عقل غوښتنه يې مخالفه وي بېرته خپل دين پريږدي او د سم دين په لټه کې کيږی.

دغه زيرکه عالم غواړی چې داسی يوازينی خالق ته خپل ځان تسيلم کړي چې په رښتيا هم دعبادت او ستاينی وړی وي، د لوړ قدرت څښتن وي دپلار توب او زوی توب نه بي نيازه وي، د هغه علم او پوهه بی سرحده وی او د هغه اوامر د نافذيدو وړ وي، هر کله هر وخت هر چيرې د انسان سره وي نه داسي چې په کوم اتاق بند وي او د انسان په خپلو لاسونو جوړ شوي وي زما رب بايد انسان ته کرامت ورکړي، عادل او مهربانه وي له ظالمانو څخه د مظلوم انتقام واخلی د انسانانو اعمال بايد محاسبه کړی او د هغوی د نيکيو بدله بايد ورکړي. له ډيرو مطالعاتو او تحقيقاتو څخه وروسته دغه انسان اللهﷻ ددغو ټولو صفاتو وړ او لايق ګڼي او بالاخره ايمان راوړي، ځکه چې ټول کاينات خپل حقيقي خالق ته تسليم دي نو زه هم ددې جهان له اجزاوو نه يو جز يم او بايد ورته تسليم شم.

## تعصبات او بې احترامي د انسانانو ترمينځ:

يو بل تن خپله د مسلمانېدو کيسه داسې کوي: زه تعصباتو دېته اړکړم چې مسلمان شم او يو سم دين ځانته غوره کړم، دا څنګه کېدای شي چې ټول انسانان دې يو الله پيدا کړي وي او بيا دې يو پر بل د رنګ په وجه امتياز ولري، تور دې کليسا ته نه ځي او سپين دې ځي دا غېر عادلانه وېش ده او کله چې مې ومونډل چې اسلام کې دا څيزونه نشته نو اسلام مې ومانه وروسته مې بيا درک کړه چې اسلام رښتيانی چې د انساني ژوند لپاره تګلاره ده. ځکه چې په اسلام کې د غوره والي اساس تقوا ده ﴿إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ﴾ [الحجرات: ١٣]. فضليت صرف په انساني کرامت او تقوا پورې اړه لري.

او کله چې نامسلمانه وګړي پدې پوهيږي چې اسلام هم دين په دربر کې لر ي او هم دنيا نو بې له درنګه مسلمانيږي.

په اسلام کې رنګ نژاد، قوم ژبه وطن ماديت هيڅ ارزښت نه لری، دلته تور حبشي بلال د روم سهيل او د فارس سلمانﷺ چې د بيل رنګ بيل نژاد او نسل څخه دی خو همدوی د ټولو څخه غوره او اللهﷺ ته نژدی خلک دی او د دوی په مقابل کې ابوجهل، ابولهب او ابوطالب د هغهﷺ په وړاندی هيڅ ارزښت نه درلوده. وايي چې يوه ورځ يوه نفر بلال ته داسې يوه جمله وکاروله چې د هغه رنګ ته پکې څه نسبت شوی وه خو کله چې رسول اللهﷺ خبر شو نو هغه صحابی ته يې وويل چې د ستا په وجود کې لا اوس هم د جاهليت اثار معلوميږی هغه سړی پوه شو چې رسول اللهﷺ ورته وايي چې ته حقيقي مومن نه يې، ځکه چې تعصب او جاهليت د اسلام له نور سره کاملا په تضاد کې ده هماغه وه چې بلال ته ورغی او د هغه په مخ په خاورو کې ولويده او ورته يې وويل چې ما په لغتو وواهه ترڅو الله راته د هغې کليمي عفوه او ښښنه وکړي.

همدا شان يوه ورځ د رسول اللهﷺ ملګرو مهاجرو او انصارو پدې خبره اختلاف درلوده چې ايا سلمان فارسی مهاجر دی او که انصار کله چې رسول اللهﷺ خبر شو هغه مبارک داسې فيصله وکړه چې سلمان خو زما د کورني يعني اهل بيتو څخه دي.

٤- د مکمل او پوره دین لټه: ځیني دینونه د ژوند په روحي او معنوي برخې پسې نښتې وي او نه غواړي چې انسان دې د دنیا سره په تماس کې وي چې انسان د ټولنیز ژوند څخه لرې کوي او رهبانیت ته یې متوجه کوي او بیایي، خو ځیني نور دینونه بیا کاملاً دمادیت پر لور تللي دي او له دین سره یې هیڅ اړیکه نه ده پاتې خو اسلام متوازن دین ده، اسلام انسان ته د دنیا او اخرت دواړو توصیه کوی، مومن انسان ددنیا ژوند د اخرت دنیکمرغیو لپاره وسیله ګرځوی او همیشه د الله ﷻ دغه قول ﴿رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ حَسَنَةٗ وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ٢٠١﴾ [البقرة: ۲۰۱] خپل مد نظر ګرځوی.

«پروردګاره ماته ددنیا او اخرت ښیګڼی را په برخه کړي».

## کومه لاره غوره کړو؟

د انسان په ژوندکې درې لارې شته دي:

- د انسان خپله لاره: هغه لاره چې انسان یې د خپل ذهن په وسیله ځانته مخکې کوي.
- د نورو لاره: هغه لاره چې نور پرې تللي دا هم ورته د تسلیم سر ټیټوي او پرې ځي.
- د الله لاره: د نېکمرغیو ته د رسېدو لپاره چې انسان یې د ځان لپاره غوره کوي او ټاکي.

اوس دا سوال پیدا کیږي چې پدې دریو کې کومه لاره وټاکو؟

خپله لاره:

۱- خپله لاره خو په منطقي ډول سره هم غلطه ده ځکه د انسان پوهه د وخت په تېرېدو سره تغیر کوي او هغه له خپلو تصمیمونو څخه منکر کیږي، د بېلکې په توګه زه چې کله پنځلس کلن وم نو ما ځانته یوه لاره انتخاب کړې وه یا یو څو شیان مې پېژندل خو کله چې مې پوهنتون وویلې نو نور هم ښه شوم اوکله چې څلویشت کالو شاوخواته ورسېدم بېخي ښه شوم او شاید تر دې وروسته نور هم ښه شم خو دا څوک

ویلی شي چې ما په لس کلنی کې کومه لاره غوره کړې هغه دې زه په پنځه ویشت کلنی کې بدله نه کړم. ځکه ماته اوس معلومه شوه چې په پنځه کلنی یا لس کلنی کې ما زیات نقصانونه درلودل چې هغه اوس ښه شوي او د اوس نقصانونه به مې سبا ښه کیږي. انسان همیشه پدې فکر کې وی کاشکي پنځه کاله پخوا زه پدی پوهیدای نو ما په داسی نه وی کړي او دا کار به مې کړي او دا کار به مې کړی وایې او اوس په څومره غتې نیکمرغي ته رسیدلای وایی انسان همیشه په خپل تیر عمر پیښماني ښکار کوی ځکه چې د هری ورځي په تیریدو سره د انسان په تجربه او علم کې زیاتوالي راځی هیڅکله مونږ نه شو ویلاي چې انساني پوهه پوره او تکمیل شوه د بیلګی په ډول یو وخت یې افلاطون او سقراط ته فیلوسوف ویلي په داسي حال کې چې هغوی میکروب نه پیژانده او نه یې پدې اړه څه پوهه درلوده خو لویې یا ستور په شلم پیړي کې میکروب کشف کړ، نو ایا د افلاطون او سقراط په وخت کې میکروب نه وه او که نه هغوی پدې هکله معلومات نه لرل په اوسنۍ زمانه کې یو ماشوم هم میکروب پیژني.

لاکن هیڅوک ورته فیلسوف نه وایي دا اوس چې څوک ځانته قانون جوړونکی او قانوندان وایی کیدای شی چې یوه پیړی وروسته یی څوک یوه خبره هم ونه منی او ورته د نالوستی په سترګه وګوری ځکه چې یوه پیړۍ مخکی پوهانانو کمپیوتر نه پیژنده انترنیټ ته یې لاس رسی نه لرله څو کاله وروسته کیداشي داسی شیان پیدا شی چې چې نن ورځ یې مونږ نه لرو، نو ایا زمونږ ننی قانون به د هغوی په درد وخوري. او کنه دیوه کلاسیک قانون په سترګه به ورته وګوری نو بناء د انسان د تجاربو محدودیت ددې لامل ګرځي چې انسان باید زیاتې غلطي وکړي او دا غلطي بالاخره تجارب مینځ ته راوړي او د اچې د انسان علم محدود دي نو کوم فکر چې انسان کوی حتمی نه ده چې هغه دې صحیح وي ځکه چې د انسان تصور او فکر د هماغه نیمګړی علم پیدا وار دی چې دی یې لري.

۲- د نورو لاره: دا خو د انسان خپله لاره شوه، کله چې د انسان خپله لاره دغه رقم مشکلات لري نو ښکاره خبره ده چې د نورو لاره هم ددهمدغسې انسان غوره شوی لاره او هغه هم د همدغو نیمګړتیاو نه خالي نه ده ځکه چې نور هم د همدغو پنځو حواسو او نفساني غوښتنو تابع دی او د وړاندینۍ پیړۍ په زرګونو وړاند وینې د راتلونکی نسل اختراع او لاسته راوړنو تکذیب کړي نو بناء د نورو لاره هم معقوله نه ده.

کله چې خپله لاره غلطه شوه نو نور خو هم مونږ غوندې بشر دي نو څرګنده خبره ده چې د هغوی لاره هم غلطه او ناسمه ده.

۳- د الله ﷻ لاره: دا چې الله ﷻ د ډیر زیات علم او پوهی څښتن دی او د خپل دغه علم ا وزیات محبت په اساس یې چې له انسان سره یې لري دغه انسان یې پیدا کړ او بیایې د ځمکي پر مخ خپل خلیفه وټاکه او بیا ورته د اوسیدلو او ښه ارام او سعید ژوند تیرولو لپاره د خپل هغه علم په رڼا کې چې په زمان او مکان پورې اړه نه لری او تل ترتله به هر ځای چلیږي قانون او د ژوند تیرولو لپاره طریقه کار جوړ کړی ځکه چې دی له هر چا نه د خپل مخلوق په مصلحتونو ښه پوهیږی نو ځکه ددغه لوی با عظمته خالق لار او طریقه تر هر چا غوره او له هر راز مشکلاتو او پاکه او سپیڅلی ده.

## د دین د لارې غوره والی عقل ته نژدې ده

د انسان په ژوندکې یو د احتمالاتو علم ده چې انسان یې تل په نظر کې ساتي دلته د سفر په اړه خبره کوو:

که چیرې یو څوک سفر ته روانیږي نو د دې لپاره چې موټر یې په لاره کې پنچر نشي او پنچرمین به هم نه وي یو شتپنی له ځانه سره اخلي، شاید هوټل لاره کې نه وي نو لږه غذا ځان سره اخلي، ښایي اوبه یې مخې ته رانشي نو لږې اوبه هم ځان سره اخلي، شاید لاره کې ورته غله راووځي نو د غلو د مخنیوي لپاره سلاح له ځانه سره اخلي. اوس چې کله دوی سفر کوي که یې

داشیان پکار شو خو ښه ده او که یې پکار نشـول نـو کـوم زیـان یـې هـم نـه ده کړی خو هغه څوک چې دا شیان له ځانه سره نـه وړي او لاره کې یـو دم ورتـه غله مخې ته ورځي یا تږي کیږي خو اوبه نشته یا هم موټر یې پنچر کیږي خـو بل ټایر نشته نو څومره تاوان یـې کـړی؟ همداسـې د اخـرت پـه اړه هـم بایـد و انګېرل شي، ښه کارونه باید وکړي اسلامي اعمال باید اجرا کړي کـه د حسـاب او کتاب ورځ یې مخې ته راغله نو ملامت به پکې نه وي او که رانغله نـو کـوم تاوان یې نه ده کړی (دا دلیل د غیر مسلمانانو لپاره ده او مونږه خو پدې ایمان لرو چې داخرت ورځ حق ده).

## په نورو ادیانو د اسلام د مقدس دین ښه والی

کله چې دغه الهی سپیڅلي دین د نورو ادیانو سره پرتله کوو نـو ګـورو چـې دغـه مقـدس دیـن پـه نـورو ادیـانو خـورا غـوره والـی لـري او ډیـرې داسـې ځانګړتیاوی دې چې په نورو ادیانو کې نه تر سترګو کیـږي بـالاخره همـدا ښـه والی ددې سبب شوي چې د نورو ادیانو پیروان یې ځانته را جلب کړي دي.

په موجوده نړي کې دو قسمه دینونه تر سترګو کیږي

اوله برخه یا ډله: دا هغه ادیان چې یـوازي روحـی طـرف تـه پـام کـړي، کـوم خلک چې ددې قسم ادیانو پیروان دي دوي باید دنیا نه صرف نظـر شـي یـا پـه بله وینا د دوی مادیت سره باید هیڅ قسـم سـرور کـار ونـه لـري پـه غـارونو او غرو په سوریو کې باید کینی عبادت وکړی او ددې لپاره چې په خپل دیـن کـې اوچت مقام ته ورسیږي بایـد نکـاح ونـه کـړي او د ښـځو سـره بایـد هـیڅ راز ګډون ونه کړي ددغه راز ادیانو پیروان دوه لارې لري یا دا چې لـه دینـه صـرف نظر شي او بی دیني غوره کړي ترڅو چې ددنیا کارو بار او ژوند پـر مـخ پـوزی ځکه چې د انسان جوړښت له دوه برخو مادی او معنوی څخه جـوړ شـوی دی نو کوم ادیان چې د انسان دغه مادی اړخ یې لـه پامـه غورځـولي دي او یـوازي معنوی طرف ته یی توجه کړی نو دوی خپل وپیروان له لاسه ورکوي ځکه چې د انسان د مادي اړخ په سلسله ځینی غوښتنی دي چې کله هغه بـه قـانونی ډول

اشباع نه شی نو انسان مجبور دی چې هغه له غیر قانوني لارې اشباع کړي چې پدې صورت کې مجرم پیداکیږی او جرم یې په جامعه کې بدې اغیزی لري.

دویمه برخه یا ډله: دا هغه ادیان دي چې یوازی مادي طرف یې خپله توجه جلب کړي او د معنوي طرف ته پکې اصلا څرک هم نه لیدل کیږي دوی صرف په مادیت ایمان لری او له مادې نه اخوا یې په بل هیڅ شی سترګی نه ډکیږی دوی که هرڅومره په مزو او چړچو کې وی خو بیا هم ځان ورته کم ښکاری او کوشش کوي چې لا زیات مادیت تر لاسه کړی کله هم چې له کوم ناوړه حالت یا کمی سره مخامخ کیږي نو په خپل داخل کې داسي کوم معنوی ځواب نه پیدا کوی بالاخره مجبوریږي چې ځان وژنه پیل کړی او بس.

## اسلام تر ټولو ستر نړیوال دین دی

که څه هم نن سبا د اسلام دمقدس دین په خلاف ډیر زهرجن تبلیغات کیږی او له بلي خوا نه مسلمان هم پدې نه دي توانیدلی چې د اسلام او مسلمانۍ ریښتینی تمثیل وکړي ترڅو د مخالفینو تبلیغات په تنه کې شنډ کړی خو بیا هم ددي ټولو مشکلاتو با وجود ددنیا په هر ګوټ کې په ډیره تیزۍ سره د چټک پرمختګ په حال کې ده د خلکو د ډیر والي د کلني کتاب دسر شمیرنی په اساس د اسلام د زیاتوالی کړی دوه چنده ته رسیدلې په اوس وخت کې مسلمانان د ټولي نړي د نفوسو څلورمه برخه یا پنځه ویشت په سلو کې جوړوی چې دیو سل اته اتیا هیوادو له جملی څهه چې د ملګرو ملتو د سازمان غړیتوب لري شپږپنځوس یي اسلامي دي او په پاتي هیوادونو کې مسلمانان د لویو اقلیتونو په توګه ژوند کوي، همدا اوس څلور سوه او پنځوس میلیونه مسلمانان له اسلامي هیوادونو څخه بهر ژوند کوي چې د نړۍ پنځه عشاریه اته ملیارده نفوسو له جملی څخه یو عشاریه پنځه ملیارده یعنی پنځه ویشت سلنه یې مسلمانان تشکیلوي. از اهنګ پاپ تا آهنګ ناب، تهران د پرتو بیان انتشارات.


ShareIslam

# دویم څپرکی:
# په امریکا کې د اسلام په اړه یو ځغلنده نظر

دسرسیمرنی د کلني کتاب په وسیله څرګنده شوي چې په کال کې یوازی په امریکا کې یولک کسان مسلمانیږي د اخوت اواز مجلې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر له خولی لیکلی چې اسلام ډیر شریع له نورو دینونو څخه د پرمختګ په حال کې ده همدا راز زیاته کړی چ اسم د امریکایې فرهنګ په بیخ او بنیاد کې ځای نیولی دي، دې وایې چې دا یوازی په امریکا ېک نه ده چې اسلام چټک پر مختګ کوی بلکې ددنیا په ډیرو ملکونو کې د اسلام پرمختګ تر سترګو کیږي خاصتا په اروپایي هیوادونو کې لکه: المان او انګلستان چې دهری ورځې په تیریدو سره د مسلمانانو تعداد مخ په زیاتیدو ده د المان هیواد ۸ سلنه خلک مسلمانان دی او په انګلستان کې د محمدﷺ نوم د نومونو په ترتیب کې دویم نوم دی چې پدی هیواد کې خلک پری نومول کیږی.

په امریکا کې د اسلام پر مختګ د ۱۹ پیړۍ په اخر او د شملي پیړۍ په سر کې شروع شو یو عیسوی راهب کشیش نورمن چې په ترکیه کې یې د مسحیت تبلیغ کوه کله چې د اسلام په حقیقت وپوهیده فورا په ۱۸۷۰ م کال کې مسلمان شو یو بل صحافی چی په ۱۸۷۰ کال کې د مانیل دسرقنصل په حیث تعین شو او چې کله د هند د علماوو سره د یو لیک په واسطه ارتباط قایموی او بیا د هندی علماوو دوه تنه مانیل ته ورځی او وروسته له ډیرو بحثونو شاغلی الکساندروب د اسلام په مقدس مشرف کیږي او سمدستی له خپلی وطیفی تر استعفا ورکوی او هند ته سفر کوی او وروسته له څه مودی نه چې د اسلام په اړه پوره پوهه حاصلوي بیرته امریکا ته راستنیږی او د جمعیت دعوت او تبلیغ په نوم کار پیل کوی او ددغه جمعیت اوه شعبی په ۷ ښارونو کې تشکلیوی تر دې وروسته شاغلی وب له ردویم سلطان عبد الحمید سره په

ارتباې کې شو او په نیویارک کې د عثمانیانو د افتخاری قونصلری په حیث مقرر شو.

د نژادي تبعی او مړنی نیولو په زمانه کې په داسي حال کې چې تور پوستکی افریقایي مظلومان بالاخره پدې حقیقت ورسیدل چې یوازینی دین او عقیده چې د انسانانو ترمینځ فرق او پیژنه کوی هغه د اسلام مبارک دین دی چې هیڅ سپین ته په تور باندی ترجیح نه ورکوی او دفضیلت او غوره والی معیار پکې تقوا ده نو همدغه نقطه ددی سبب شوی چې په ډلو ډلو افریقایي تور پوستکی په اسلام مشرف کیږي، د جورج تاون د امریکایي پوهنتون د یوه اسناد پونه حداد په وینا چې په امریکا کې اسلام له ټولو ادیانو نه په ډیره چټکي سره مخ په وړاندي ځی د ۱۹٦۰ م کال د شمیرنی مطابق په امریکا کې د مسلمانانو تعداد ۷٦۰۰۰ نفرو ته رسیده په داسي حال کې چې په کال ۲۰۰۰ م کی یوازی ۱۲۰۰ مساجد ثبت شوی اود مسلمانانو تعداد ۲ میلیونو څه تر ۸-۱ ملیونو بوری رسیږی چې ددی له جملی څخه یوازی په ۲۰۰۰ کال ۲۰۰۰ کسان مسلمانان شوی دي.

دیوه امریکایي محقق کارل الیس په وینا که چیری د اسلام د پرمختګ لړی همداسی پاکی شی نو په راتلونکو ۱۷ کالو کې به د امریکا په څو مهمو ښارونو کې د مسلمانانو تعداد له مسیحانو څخه زیات شی هغه په خبله اخرنی مصاحبه کې چې له (بی بی نیوز) سره کړی ویلی دی چې: مسلمانان په هر کال کې ٦ فیصده زیاتیږی چی دغه نوی مسلمان ۸۰ په سلو کې مسیحیان تشکیلوی او پاتی نور یې مهاجر له نورو هیوادونو څخه امریکا ته راغلی مهاجر دی.

(اسلام په امریکا کې) کتاب لیکونکی وایي چې د اسیا صغرا او وړوکی اسیا یا افریقا د شمالی پرخی په هکله چا تصور قدری هم نشو کولای چې دلته دی څوک مسلمان شی ځکه چې دا منطقه تر ټولو زیاته د عیسویت مرکز ګڼل کیده او هغه ورځ لیرې نه ده چې یوه ورځ به امریکا هم په ټوله معنی یو اسلامی ملک وګڼل شی څیړونکی او محققین پدی نظر دی چې د ۱۱ ستمبر څخه را وروسته په امریکا کې تر ټولو نه زیات اسلام خپور شوی او سبب یې

همدا په ګوته کوی چې خلکو د اسلام په هکله معلومات ترلاسه کړل اود اسلام په حقیقت پوه شول، د شیطانی ایاتو، دپیغمبر دکاریکاتورنو رسم او د ۱۱ ستمبر د واقعی او د بعضی هیوادو دښه استیکال ددی واقعاتو څخه سبب شول چې عام خلک د اسلام په هکله معلومات ترلاسه کړی او اسلام په هکله زیاته مطالعه وکړی ترڅو دی حقیقت ته ورسیږي چې قران عظیم الشان د الله تعالی یو معجز او له هر ډول لاسوهنو څخه پاک کتاب اود بشری ناخوالو یوائینی دواو نسخه ده نو ځکه خو په زرګونو کسانو بی له درنګه ایمان راووړ (د ااهنګ پاب تا اهنګ باب) کتاب لیکونکی هم وایي چې له ۱۱ ستمبر وروسته د امریکا د خلکو توجه اسلام طرف ته زیاته شوی.

ابراهیم حسین باری کانادا د (تورنتوی) اسلامی مرکز مدیر او اسلامی جامعی یو اوړ پوړی مقام په امریکا کې وایي: چې په موجوده وخت کې د امریکا خلک د اسلام په هکله معلومات او اسلامی مسایلو ته لیوالیتا د ۱۱ ستمبر له واقعې تر وروسته ډیر زیاته شوی ده دی زیاتوی چې د ۱۱ ستمبر د واقعی نه وروسته د اسلامی مراکز او مساجد نه د غیر مسلمانانو لیدنه کتنه زښته ډیر زیاته شوی ده او حتی اسلامی محققان او عالمان کلیساګانو کالچونو تلویزونونو او شرکتونو ته دعوت کیږی ترڅو ورشی او د اسلام په هکله ورته معلومات ور واووړو او تبلیغ وکړی.


د خلیج جنګونو ته د امریکایې عسکرو تلل اود اسلام او مسلمانانو تولیدل هم ډیر موثر ثابت شوی کوم عساکر چې دمساجد او مقدسه ځایونو د خراپتیا لپاره ګمارل شوی کله چې په حقیقت پوه شوی بیا هم دغه عساکر په اسلام مشرف شوی دی.

د الوطن په نوم بوی ورځپاڼی خبر ورکړی چې د خلیج په اول جنګ کې (۲۵۰۰۰) زره امریکایي عسکرو اسلام قبول کړي، د هغوی اسلام راوړل د صهران په هوایي اډه کې یوه قاضی تایید کړی.

د عربستان چاپ یوه ورځپانه د (الریاض) په نامه مشهور دیوه امریکایي ځوان چی نوم یې جوزف سیمون وه او وروسته خپل نوم په صلاح الدین تبدیل کړ وایي کله چې حاجی په مساجدو کی له عراقی ځوانانو سره چې په

انګلیسی هم پوهیدل ولید نو زه ددی لـه اخلاقـو دوی څخـه ډیـر زیـاتر متـاثره شوم او اسلام می ومانه.

## د امریکایي پوه (جوزېف ادوارد) کیسه



وروسته له اسلامه



مخکي له اسلامه

له مسلمانېدو تر مخه نوم: جوزف ادوارد استس

له مسلمانېدو وروسته نوم: شیخ یوسف استس

تابعیت: دامریکا متحده ایالات

علمي سندونه: د هنرونو ۱۹۷۴ په برخه کې د ماسټرۍ سند او د اللاهوت (الهیات) په برخه کې د دکتورا سند.

د اسلام راوړلو نېټه: ۱۹۹۱ م عربی او اسلامي زدکړې یې لـه ۱۹۹۱ نـه تـر ۱۹۹۸ پورې کړي لاربښود او استاذيې: شیخ محمد عبد الرحمن وه.

د مسلمانېدو لامل: مسیحیت ته د یو مسلمان وربلل وه.

تبصره: څرنګه چې اسـلام د توحیـد، فطـرت، بخښـنې، لاربښـوونې او بلنې دین ده او ټولو پیغمبرانو هم خلک ورتـه رابللـي دي. کـه چېـرې ددې دیـن یـوه هسته یا یو زړۍ چېرې هم زرغون شـي هغـه ډېـر ګړنـدۍ لـوئېږي، ژر حاصـل ورکوي او ټولو خلکو ته ځان څرګندوي او پایله کې په لویه ونه بدلیږي.

وګورۍ دغه ستر عالم چې پخوا یې خلک د مسیحیت تحریف شـوي دیـن ته وربلل له اسلام راوړلو وروسته یو لوی بلونکی او داعـي جـوړیږي، خلـک د

اسلام پر لور رابولي تر دې پورې چې د نورو مسلمانو ورونو په زړونو کې هم ځانته ځانګړی ځای جوړوي.

نوموړی د امريکا د تکزاس ايالت اوسيدونکی ده. که مونږه وغواړو د نوموړي د اخلاقو ستاينه وکړو نو ښايي د ډېرو سترو ځانګړنو څخه يې يوه هم ونه شو ويلی. هغه متوازن شخصيت لري، عمر يې له ۵۵ کلوڅخه اوښتی.

﴿فَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يَهْدِيَهُۥ يَشْرَحْ صَدْرَهُۥ لِلْإِسْلَٰمِ ۖ وَمَن يُرِدْ أَن يُضِلَّهُۥ يَجْعَلْ صَدْرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِى ٱلسَّمَآءِ ۚ﴾ [الأنعام: ۱۲۵].

ژباړه: «چاته چې الله د لارښوونې اراده وکړي د هغه سينه د اسلام لپاره پرانيزي او چاته چې په ګمراهی کښې د غورځولو اراده وکړي د هغه سينه تنګوي او داسې فشار پرې راولي چې (څنګه د اسلام تصور په ذهن کې راګرځوي نو) داسې ورته معلوميږي ته به وايې ساه يې د اسمان ولورته ته راښکله کيږي».



استس خپله کيسه داسې پيلوي:

له مسلمانېدو وروسته نوم مې يوسف استس ده، په يوه نصراني کورنۍ کې زيږېدلی يم، زمونږه کورنۍ نصرانيت ته زياته وفاداره وه او د امريکا په منځنۍ سيمو کې يې ژوند کاوه، پلرونو او نيکونو مو نه يواځې د نصرانيت لپاره مکتبونه او کليساوې جوړې کړې بلکې خپل ځانونه يې هم ترې قربان کړي دي. زما لوست او مطالعه يواځې په مسيحيت کې نه ده نغښتل شوې، ددې ترڅنګ مې ديرش کاله هندوئېزم، بودائېزم او يهوديت هم مطالعه کړی ده. ما مې له خپل پلار سره په تجارت کې زيات کار کړی، همدارنګه مونږه به د

خوښې او جذابيت محفلونه هم درلودل، په دې وروستيو کلونو کې مو زياتې پيسې هم وګټلې خو ددې تر څنګ زما زړه ته هېڅکله هم ډاډ او سکون پيدا نشو ځکه، د زړه ډاډ او اطمئنان د حقيقت له پيداکولو او د سمې لارې غوره کولو پرته په بل شي کې چېرته پيدا کيداى شي؟

غوښتل مې چې هغه مسيحي کړم!!

زما د اسلام راوړلو کيسه داسې نه ده چې چا راته قرآنکريم او يا کوم بل اسلامي کتاب ډالۍ کړي وي او ما يوائحې هغه لوستي وي او بيا مې اسلام زړه ته راننوتۍ وي بلکه زه د اسلام يو له سرسختو دښمنانو له ډلې ومه، ما به نور خلک د مسيحيت لورته رابلل او کله چې يو نفر ما ته د اسلام راوړلو بلنه راکړه نو ما هڅه پيل کړه چې نوموړى مسيحي کړم نه دا چې زه مسلمان شم؟!

دا پيښه د ۱۹۹۱ کال په هغه وخت کې وشوه چې پلار مې له يو مصري سړي سره د تجارت پر معاملاتو بوخت وه او له ما څخه يې وغوښتل چې له نوموړي مصري سړي څخه ليدنه وکړم، زما په زړه کې هم د مصر د لرغونو څيزونو (اهرامونو، د نيل سيند...) د ليدلو مينه راوټوکېدله خو پلار مې راته وويلې چې هغه سړي سره چې زه مخ کېږم هغه مسلمان ده، دا ډېره ناممکنه وه چې زه باور وکړم... مسلمان!!، پلار ته مې ټول هغه څه چې ما د مسلمانانو په هکله اوريدلي ول مخکې کېښودل. هغوى د مکې په دښته کې د يو تور صندوق عبادت کوي او وايي چې هغه مکه ده، خو ما زړه ښه نه کړ چې لدې مسلمان سره وګورم ولې پلار مې ټينګار وکړ چې نوموړى ډېر لطيف او نرم زړى سړى ده او بايد ورسره وګورم ما هم ورسره موافقه وکړه.

ما ذهن کې د نوموړي مسلمان زيات تصويرونه له ځان سره جوړول، داسې غټ سړى به وي، چېنه به يې په اوږه وي، سر به يې خريىلى وي او يوه غټه لونګۍ (دستار) به يې په سر وي... خو بالاخره نوموړي سره مې وليدل، هغه ماته ښه راغلاست وويلې، له ماپې د احوال پوښتنه وکړه خو دې ټولو ماته هېڅ معنا نه درلوده ما ته يوائحې دوى هماغه تروريستان ښکارېدل چې مونږ ته ويل شوي ول.

تر لږو خبرو اترو وروسته مې ترې وپوښتل:

- آیا ته په خدای ایمان لرې؟
- هو
- په ابراهیم عليه السلام ایمان لرې او په هغه څه چې هغه غوښتل خپل زوی د خدای لپاره حلال کړي؟
- هو

ما له ځانه سره وویلې چې اوس خو کار بیخي اسانه شو. لږ ځنډ کې دچای څښلو لپاره یوې وړوکې کوټې پر لور ورغلو، هلته مو د چای څښلو په موده کې زیاتې خبرې یو بل سره واړولې، ډېرې خبرې به ما کولې، هغه مې ډېر دروند او آرام سړی وموند، زما هره خبره یې په خورا پراخ زړه اورېدله او هیڅکله یې زما خبره د خبرو کولو په جریان کې قطع نه کړه.

ورځې او شپې تېرېدلې، یوه ورځ زمونږ همدې ملګري (محمد عبدالرحمن) هوډ وکړ چې خپل هستوګنځی پرېږدي او مسجد کې د څه وخت لپاره واوسیږي، نو د همدې لپاره یې له مونږه سره هم ولیدل او دا خبره یې زیاته کړه چې که هر وخت مونږه له محمد نه غوښتنه وکړو تر څو له مونږه سره په تکزاس کې و اوسیږي نو نوموړی چمتو دی. همداسې وشول او یوه ورځ مونږه نوموړی خپل کور ته راوسته تر څو له مونږه سره په کور کې یو ځای واوسیږي. په تکزاس کې ډېر نصراني کشیشان اوسېدل ما په هغوی کې یو پېژانده، هغه پدې ورځو کې ناروغه وه، له ښه کېدو وروسته ما هغه ته هم بلنه ورکړه چې له مونږه سره په یوه کور کې ګډ و اوسي.



وروسته تـر دې چې پـه کـور کې مـو واړول لـه هـر ماخستن ډوډۍ خوړلـو وروسته به مو بحث شروع کېده، تول بـه د يـو مېز شـاوخوا کې راټولېدو څـو نصرانيان د څو ډوله انجيلونو سره به د يو مسلمان او يو قرآن په وړاندې بحث کولو ته چمتو شو. ما سره به يـو ډول انجيـل وه، کشـيش بـه يـو نسـبتاً معتمـد انجيل او اوه انجيلونه نور درلودل، مونږه به ټولـو د سـم انجيـل پـه تـاکلو کې زيات زيار وېسته تر څو عبدالرحمن ته پرې قناعت ورکړو او مسيحي شي.

**يو قرآن او څو انجيلونه:**

زما په ياد راځي چې ما له محمده وپوښتل چې د څـوارلس سـوه کلونـو پـه موده کې څو قرآنکريمونه منځ ته راغلي دي؟

نوموړي ځواب راکړ: له يوه قرآنه پرتـه کـوم بـل قـرآن وجـود نـه لـري، او دا قرآن بـه تـر پايـه تغير ونـه کـړي همدارنګـه نومـوړي وويـل چې پـه زرګونـو او ميلونونو کسان داسې شته چې دا قرآن يې په پوره ډول حفظ کړی او پـه سـينو کې يې پروت ده.

زما لپاره نه منونکي خبره وه، څنګه کېدای شي چې دا کتاب مکمل ياد شي، او د ټولو لوستونکو ته دې د دې کتاب معنا ساده او آسانه واوسي.

زمونږ په منځ کې يوه مباحثه روانه وه، او دا مو په لـومړي سـر کې منلې وه چې که زمونږ ټولو په هر څه قناعت راغی نو پـه همـاغې بـه ايمـان راوړو او پـه راتلونکي کې به مو د عقيدې برخه وي.

پدې ترتيب مو خبرې ورسره پيل کړې، هغه څه چې زيـات ماتـه د تعجـب وړ ؤل دا و چې هېڅکله هم محمد عبد الرحمن په خپلـو خبـرو کې زمـونږ پـر اعتقاداتو او شخصيتونو تيری نه ده کړی.

کله مې چې وغوښتل محمد د مسيحيت پر لور وبلم نو په خورا آرامتيـا يـې راته وويل چې که راته څرګنده شوه چې مسيحيت د اسلام له دين نه حـق ديـن ده نو حتماً بې يې پيروي کوم. ورته مو وويلې: سمه ده.

وروسته محمد عبدالرحمن پـه خبـرو کولـو داسې پيـل وکـړ: دا چې تاسې وايی مسيحيت د نړۍ تر ټولو غوره او حق ديـن ده څـه دليـل لـری؟ ورتـه مـو وويل: مونږه په دلايلو ايمان نه لرو ولې په احساساتو او شعور ايمان لرو، هغـه

څه چې په انجیلونو کې دي خپل دین ترې اخلو. محمد وویلې: دا سمه خبره نه ده چې دین باید یوازې زمونږ تر علمه پورې محدود وي ولې، اسلام داسې معجزې او دلائل وړاندې کوي چې د خدای په نزد یوازینی حق دین همدا ده (اسلام) ده.

جوزېف ایوي ټول هغه دلائل چې د اسلام حقیقت ترې ثابتیږي له محمد څخه وغوښتل، محمد وویل: لومړنی دلیل د الله ﷻ کتاب ده، هغه کتاب چې له کله پر حضرت محمد ﷺ نازل شوی څوارلس سوه کاله تیر شوي خو تر اوسه پکې یو حرف تحریف او بدلون هم نه ده راغلی همدارنګه په نړۍ کې ۱۲ میلونه کسانو نوموړی کتاب په یادو زده کړی پداسې حال کې چې هېڅ بل داسې کتاب نشته چې دومره حافظان ولري. ﴿إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ۝٩﴾ [الحجر: ٩]. همدغه دلیل بسنه کوي پردې چې د الله پر وړاندې حق دین اسلام ده.

**د قرآنکریم معجزې:**

د اسلام د حقانیت له اورېدو وروسته د هغه دلائلو په لټه کې شوم چې د اسلام حقانیت ثابتوي، درې میاشتې مې پرلپسې مبالعه وکړه او پایله کې مې د مقدس په کتاب کې و موندل چې عیسی علیه السلام په وحدانیت او د الله په یووالي ایمان درلوده، هغه د نورو پیغمبرانو غوندې خلک د رب د وحدانیت لورته رابلل او دا ځیني چې وایي عیسی علیه السلام خدای ده اصلاً دا خبره ناسمه ده، بل پدې پوه شوم چې مخکیني او وروستني ټول دینونه د الله د ذات اړوند هیڅ اختلاف نه لري ټولو د (لا اله الاالله) دعوت د ځمکې پرمخ خپروه، مسیحیت هم مخکې لدې چې دا اتهامات پکې ننوځي د نوموړو اسماني دینونو له ډلې څخه وه، پوه شوم چې اسلام د آسماني رسالت د پای ته رسولو لپاره راغلی، دین یې پوره کړی او خلک د شرک له عقیدې د وحدانیت پر لور رابولي، او که څوک اسلام ومني نو ایمان به یې پوره شي او که څوک یې ومني نو هغه د مسلمانانو له ډلې څخه نه ده.

وروسته مې قرآن کې وموندل چې اللهﷻ ټولو کافرانو تـه چلینـج ورکـړی او ویلي یې دي چې د قرآن د سورتونو په څېر کوم سورت جوړ کړی او یا هـم لـږ تر لږه د قرآن د دریو آیتونو په څېر درې نور آیتونه راوړی خو ولې پخوانې کفار لدې کاره عاجزه شول.

همدارنګه په قرآنکریم کې د معجزو پـه ډول ځینـې وړانـدوینې ولیـدلې چـې ټول دا ثابتوي چې د الله دین یوازې د اسلام دین دی.

﴿الٓمٓ ۝١ غُلِبَتِ ٱلرُّومُ ۝٢ فِيٓ أَدۡنَى ٱلۡأَرۡضِ وَهُم مِّنۢ بَعۡدِ غَلَبِهِمۡ سَيَغۡلِبُونَ ۝٣﴾ [الروم: ۱-۳].

دا وړاندوینې تر څو واقع شوي او یا به تردې وروسته پېښې شي، همدارنګه د زلزلو په هکله قرآن وایي چې د ځمکې په هره برخه کې به پېښـه شـي او یـا د فضا پر لور د انسان تګ لدې آیته ثابتېږي چې:

﴿يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَٰنٖ ۝٣٣﴾ [الرحمن: ۳۳].

بله خبره چې پرما یې ډېره اغیـزه وکـړه هغـه (العلقـة) وه، دا خبـره لـومړی قرآنکریم کړې او بیا یو کاناډایي پوه (کوسمر) داسې توضـیح کـړې ده: «علقـة هغه شی ده چې د مـور د رحـم پـورې اړه لـري او دا هماغـه حقیقـت ده چـې قرآنکریم ډېر پخوا وړاندې له دې چې پوهان علقة وپیژني تشـریح کـړی ده، او دا د کافرانو او ملحدانو لپاره بسنه کوي»

تر اوسه مونږ سره په یوه کور کې د محمـد عبـدالرحمن درې میاشـتې وتلـې وې او نوموړي پـه دې مـوده کـې مـونږه تـه زیاتـه مینـه راکـړه، کلـه چـې بـه مـا عبدالرحمن خپل رب ته د سجدې کولو په حال لیـده نـو لـه ځانـه سـره بـه مـې ویلې چې دا کار کوم عادي کار نه ده.



**عبدالرحمن یوه پرښته ده:**

استس د خپل ملګري په هکله وایي: عبدالرحمن یواځې د یوه څیز کمبود لري چې هغه دوه وزرونه دي تر څو د پرښتو په څېر پرواز وکړي. مونږه ډېر څه له عبدالرحمن څخه زده کړل، یوه ورځ زما کشیش دوست عبدالرحمن نه غوښتنه وکړه چې مونږه مسجد ته بوځي تر څو مسلمانان د لمونځ کولو په حالت هلته په مسجد کې ووینو، عبدالرحمن مونږه له ځانه سره مسجد ته بوتلو هلته مو مسلمانان ولیدل چې راتلل لمونځ یې کاوه او بېرته تلل، ما وپوښتل: آیا دوی له کومې موسیقۍ او یا ویناوو پرته ولاړل؟ ویې ویل: هو. ورځې شپې تېرېدلې، یوه ورځ بیا کشیش له عبدالرحمن وغوښتل چې مسجد ته ورسره ولاړ شي، دا ځل یې هلته ډېر ځنډ وکړ، زه پرېشانه شوم چې کومه حادثه کې نه وي راګیر شوي! هوا هم تیاره شوې وه خو، لږ وروسته راغلل. دوو تنو دروازه پرانیسته لومړنۍ مې وپېژانده چې عبدالرحمن ده خو دا بل چې سپینې جامې یې اغوستې او سپینه خولۍ یې په سر وه لږ ناپېژانده معلومېده خو نه! دا هماغه کشیش وه چې له عبدالرحمن سره تللی وه، ما ترې وپوښتل: مسلمان شوې؟ وویل:هو. زه خفه شومه چې مې ملګری ولې له ما څخه د مخه د حق پوړۍ ته ورسېده، زه پورته بلې کوټې ته ولاړم له ځانه سره مې سوچ وکړ، ښځه ما راوغوښته له هغې سره مې خبره شریکه کړه هغې راته وویل: زه هم نژدې ده چې مسلمانه شم ځکه چې اوس پوه شوې یمه چې دا دین حق ده. بېرته لاندې پوړ ته راکښته شوم او عبدالرحمن مې د یو بحث لپاره له خوبه راویښ کړ، تمامه شپه مو سره خبرې وکړې بالاخره سحر نژدې شو، په ځان پوه شومه چې د لارښوونې وروستۍ وړانګه مې پر زړه او دماغ لګیږي داسې لکه لار ورکی مسافر چې ناڅاپي خپل هدف ته ورسیږي، د سحر اذان وشو،له ځایه پاڅېدم سر مې په ځمکه رب ته په سجده کېښوده او ومې غوښتل که امکان لري راته لارښوونه وکړي. سرمې پورته کړ هېڅ د موسیقۍ کومه نغمه مې تر غوږو نشوه و پوهېدم چې پر حقیقت د اعتراف وخت رانژدې شوی، نو اوس باید ودرېږم، د خپل نفس له فرېبه ځان وژغورم،

هماغه وه چې سهار یوولس بجې د دوو شاهدانو تر مخه (محمد او پخوانی کشیش) ناست وم او د شهادت کلمه مې وویله (لا اله الاالله محمد رسول الله)

له څو دقیقو وروسته مې چې کله ښځه زما له اسلام خبره شوه نو هغه هم خپل اسلام ښکاره کړ، پلار مې پدې کارو کې لږ محافظه کار وه خو بیا هم څو میاشتې له انتظار وروسته هغه هم د حق د لارې ملګری او مسلمان شو.

درې واړه یوځای مسلمان شولو، کار همدلته پای ته ونه رسېده بلکه په همدې کال د لاهوتي انستېتیوت یو محصل چې (جو) نومېده هم ایمان راووړ، او تر دې وروسته ډېرو نورو کشیشانو او دیندارو هم ایمان راوړ او دا لړی به انشاء الله همداسې روانه وي.

آیا همدا مسلمانېدل د اسلام د دین د حقانیت ستر دلیل نه ده؟؟ زمونږه مسلمانېدل چې هېڅ باور نه کېده، خو چې حقیقت مې وپېژانده خپل فطري دین ته بېرته واوښتم ځکه، هر سړی لومړی فطرتاً مسلمان پیدا کېږي او بیا یې مور او پلار هغوی یهودي او یا نصراني کوي خو مونږه لله الحمد دغه ده له هغه بېکارې عقیدې نه ټول فامیل خدای راوکښلو او سمې لارې ته یې برابر کړو، د حضرت محمدﷺ امت چې بهترین امت ده پکې و شمېرل شو.

زما زړه اوس له اسلام سره پوره لګېدلی ده، مخکې به مې په کلیسا غیرت کاوه خو اوس به یې په اسلام کوم، مخکې مې کلیسا ته خلک وربلل خو اوس مې چې د اسلام کومه پاکه څېره ولیدله دا به خلکو ته ورښایم او هغوی به د حق لوري ته رابولم.

**اسلام ته د بلنې پروګرامونه**

په اوس وخت کې استس ګڼو هیوادونو ته د اسلام بلنې لپاره ورځې ترڅو خپل اسلامي مسئولیت ترسره کړي، نوموړی زیات تلویزوني، رادیویي او ټایپي دعوتې پروګرامونه لري چې خلکود اسلام ښکلې څېره په خپلو ښکلو الفاظو کې ورښیي.

شیخ یوسف استس د کویت د نویو مسلمان شویو له کمېټې سره کار کوي، زیاتو کنفرانسونو کې یې د اسلام او نورو دینونو د پرتلې په برخه کې ګډون

کړی، ډیری ویناوې یې کړې، د نوموړي د مکسیکو له کنفرانس وروسته څلویښت تنه په یو ځل مسلمان شول او د مکسیکو مرکز هغه وخت په لړزه راغی چې څلویښتو واړو په یوه غږ بدرګه کړل: (أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمد رسول الله).

## د داوود موسی بسکوک د مسلمانېدو کیسه

دکتور زغلول نجار د مصر نامتو پوهانو له ډلې څخه ده چې د قرآن عظیم الشان د معجزو په هکله یې ډېرې کتابونه لیکلي دي نوموړی وایي ما د موسی بسکوک سره د بریتانیا شیفلد پوهنتون کې لیده کاته وکړل، نوموړی چې د لندن د مسلمانانو د اسلامي حزب مشر ده ترې مې د هغه د مسلمانېدو لامل وپوښته نوموړي خپل کیسه داسې پیل کړه: مونږه (لویدیځوالو) په میلونونو ډالر مصرف کړل تر څو د سپوږمۍ کرې ته ولاړ شو، هلته مو ځانونه ورسول او پکې مو په څېړنو پیل وکړ، په سپوږمۍ کې مو یوه توره لیکه پېدا کړه چې د کمربند په څېر ترې تاوه وه، د کرښې په اړه مو ډېرې څېړنې وکړې بالاخره څرګنده شوه چې دا سپوږمۍ ډېر وختونه مخکې دوه ځایه شوې او بېرته سره یوځای شوې ده نو ځکه هغه مات ځای یې اوس لکه یوه کرښه داسې ښکاري.

کله مې چې قرآن مطالعه کاوه نو د شق القمر پېښه (معجزه) مې تر سترګو شوه چې د سپوږمې د دوه ځایه کېدو په هکله یې څوارلس سوه کاله د مخه خبره کړې ده، او د حضرت محمدﷺ احادیث پدې اړه هم همدا ګواهي ورکوي چې دا خبره رښتینې ده او د وروستي پیغمبر په وخت کې نوموړی سپوږمۍ دوه برخې شوې وه، کله مې چې د حضرت محمدﷺ په هکله مبالعه وکړه نو ومې موندل چې نوموړی په پیل کې یو عادي او بېسواده سړی وه، هغه وخت تکنالوژی هم دومره پرمختللې نه وه چې دا خبره به یې د هغو پرمټ کړې وي. د اوسني وخت پوهانو لپاره لدې بله ستره معجزه څه شی کېدای شي چې د قرآنکریم په ریښتینولی دلالت وکړي او د الله وحدانیت او ربوبیت ثابت کړي. همدغو دلائلو وکولای شول چې ما د حقیقت پر لور بوځي او مسلمان شمه.

دا کیسه یې راته وکړه، نوموړی اوس په لندن کې د مسلمانانو د اسلامي حزب مشر ده. د سپوږمۍ دوه ټوټې کېدل خو یو قرآني حقیقت ده چې فرمايي:

﴿ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ ۝١﴾ [القمر: ۱].

«نژدې شو قیامت او څیرې شوه سپوږمۍ».

The Hour (of Judgment) is nigh and mooniseleft asunder

ابن کثیر ددې آیت په تفسیر کې وايي چې:

سپوږمۍ د حضرت محمدﷺ پر وخت دوه ټوټې شوې ده دا موضوع په صحیح او متواتر حدیث کې نقل شوې ده، الصحیح البخاری له انس ابن مالکؓ څخه روایت کوي چې د مکې خلکو له حضرت محمدﷺ څخه وغوښتل چې خپله معجزه ورته وښيي نو سپوږمۍ یې ورته وښودله چې دوه ټوټې شوه. امام احمد وايي چې محمد بن جبیر بن مېعم له خپل پلاره روایت کوي چې سپوږمۍ د حضرت محمدﷺ په وخت کې دوه ټوټې شوه چې یوه برخه یې په یوه غره او بله برخه یې په بل غره ښکارېدله، مشرکینو وویلې چې پرمونږه محمد جادو کړې خو بیا یې وویلې چې که پرمونږه یې جادو کړې نو په ټولو مخلوقاتو خو نشي کولای چې جادو وکړي، ابن جریر له حضرت عبدالله نه روایت کوي چې وايي: مونږه له حضرت محمدﷺ سره یوځای وو چې سپوږمۍ دوه ځایه شوه او مونږه ته یې وویل: ګواه اوسی ګواه اوسی. عبدالله ابن مسعود وايي چې سپوږمۍ د حضرت محمدﷺ په وخت کې دوه ټوټې شوېده، مشرکینو وویلې چې پرمونږه یې جادو کړې خو بیا یې وویلې: صبر وکړئ چې مسافرین راشي ترې پوښتنه وکړو ځکه محمد نشي کولای په ټولو خلکو جادو وکړي، کله چې مسافرین راغلل د سپوږمۍ د ټوټه کېدو خبره یې تصدیق کړه.

دا آیات او نبوي احادیث د سپوږمۍ ټوټه کېدل د حضرت محمدﷺ په وخت کې درست ثابتوي، ډېر خلک پدې شک کې دي او همدارنګه کافران هم وايي چې سپوږمۍ خو په خپل ځای سمه روغه پاتې ده، خو قرآنکریم د هغه له ټوټه کېدو څخه کیسه کوي.

## د جوزیف موریس (محمدیوسف) د مسلمانېدو کیسه



له مسلمانېدو تر مخه نوم: جوزیف موریس

له مسلمانېدو وروسته نوم: محمد یوسف

تابعیت: د امریکې متحده آیالات

عمر: ۴۵ کلن

مسلک: اقتصاد او تجارت

پخوانی دین: مسیحیت

د مسلمانېدو لامل: له قرآنکریم سره اشنایي

نیکونه یې له افریقا څخه امریکې متحده آیالاتو ته تللي ول او همالته مېشت شوي ول، له زیات وخت اوسېدنې وروسته یې د امریکا تابعیت اخیستی ده. جوزیف موریس افریقایی الاصله امریکایي تور رنګه قهواره لري، په اقتصاد او تجارت کې یې له تولان پوهنتون نه د ماستري سند اخیستی، کورنی دین یې تحریف شوی مسیحیت وه او په همدې منظور یې خپل عبادات هم په کلیسا کې سرته رسول.

د آسترلیا سیدني ښار ته د خپلو یو شمېر ملګرو سره سفر ته ووت، پدې ملګرو کې یې هغه ملګرې هم وه چې ده غوښتل واده ورسره وکړي، دوی تاریخي ښار ته روان وه خو د سیدني ښار په هوایي ډګر کې ورته د ایمان لارښوونې هم انتظار وېسته.

**(سلام او دعوت):**

محمد یوسف وایي: کله چې مونږه هوایي ډګر کې ښکته شولو نو هلته مو له یو ځوان سره ملاقات وشو د هغې له څېرې څخه وقار او جدیت له ورایه معلومیده، ډېر آرام طبیعت یې درلوده، ښکلې خبرې یې کولې او تکړه عالم هم وه ما نوموړی نه پېژانده خو هغه نژدې راغی او له ماسره یې روغبړ وکړ او ورسره معرفي شوم.

نوموړې د دعوت او تبلیغ یو داعي وه، ډېرې ښکلې او د مینې خبرې یې کولې، ما چې پخوا د اسلام په هکله هېڅ معلومات نه درلودل نو په اړه یې اورېدو ته لیواله وم، له نوموړي سره له دوه ساعتو خبرو وروسته د اسلامي عقیدې په اساساتو یوڅه پوه شوم او همدارنګه د حضرت عیسی علیه السلام په هکله وپوهېدم او ومې منله چې حضرت محمدﷺ وروستنی پیغمبر ده. تر خبرو کولو وروسته یې ماته یو مصحف قرآنکریم چې په انګلیسي ژباړل شوی وه راکړ، ما درې ساعته پرلپسې د قرآنکریم له مېالعې نه ځان ایسار نشو کړای ځکه د قرآن د آیاتونو معناوو زه خپل لوري ته جلبولم، هغه څه یې چې د طبیعت او نړی په هکله ویلي دي ټول د انساني عقل سره سمون لري همدارنګه دا چې اللهﷻ د ټولو پیغمبرانو رب ده او ﴿لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ۝٣ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ۝٤﴾ [الإخلاص: ۳-٤] ده.

دغه راز ما ځان په ویښتیا کې وموندہ، هغه څه مې چې ولیدل نه مې غوښتل چې له ما قطع شي ما د یو قوي شعور احساس پیداکړ چې زه یې د دین پر لوري کشولم. له ځانه مې وپوښتل چې آیا اسلام رښتینی دین ده؟ آیا دا دین د ټول بشریت لپاره مناسب ده؟ ځواب یې له ما سره له هو پرته بل څه نشو کیدلای.

اسلام د ټولو خلکو لپاره هر چېرته یو مناسب دین ده، دا هغه دین ده چې مونږ ه له خدایه سره نژدې کوي، دې دین سره زما قلب آرام شو، د یو ډول ډاد او اطمئنان ملګری شوم، زیات صبر مې ونشو کړای او پر هغه څه مې چې قناعت کړای وه په ژبه هم ښکاره کړل. ما ونشو کړلای دا خوښي له خپلو ملګرو څخه پټه کړم، کله چې هغه راغله نو له ما یې وپوښتل: دا کتاب د څه

شي ده؟ ما ځوا ب ورکړ دا قرآنکریم ده، هغه کتاب چې هېڅ دروغ پکې نشته نه پکې پخوا ؤل او نه به پکې وروسته وي، هغې لکه لیونیانو غوندې چیغې کړې، منډه یې واخسته تر څو نور راباندې خبر کړي.

ټول ملګري مې پرما راټول شول هر یوه به همدا خبره کوله چې اسلام ستا سره نه ښایي، خو ما دوی ته ویلې چې اسلام څوک نه مجبوروي چې په زور یې ومني، ما هم د عقل په قناعت منلی ده او اوس هیڅوک هم نشي کولای ما له اسلام راوړلو نه منع کړي. تاسې پدې پوه نه یاست چې د قرآنکریم د مېالعې پر وخت زما روح څومره آرام پیدا کوي. دا دین د سولې لور ته بلنه کوي، تاسې خبر یاست چې ټولو خلکو ته اسلام د ورورولۍ او مینې بلنه ورکوي؟!

له ملګرو څخه تر وزګارېدو وروسته مې له مور او پلار سره اړیکه ونیوله، هغوی د اسلام په اړه د غلطې پوهې له امله سخت په غوصه شول خو ما هغوی پوه کړل چې ماخپل ځان په اسلام کې مندلی او اوس هر څه پای ته رسیدلي دي.

کورنی مې راته وویلې چې مسلمانان خلک بې ځایه وژني (د لویدیځوالو باور همدا ده) ما ورته د قناعت ورکول هڅه وکړه خو ومې نشو کولای چې هغوی ته قناعت ورکړم، بالاخره ټولو زه یواځې پرېښودم او له ما ولاړل. هیڅوک مې پیدا نکړل چې له ماسره خبرې وکړي، په استرلیا کې ټولو ملګرو له ماسره قطع علاقه وکړه خو دې چلندونو به زما مینه له اسلام سره نوره هم زیاتوله، پدې موده کې قرآنکریم زما لپاره ښه ملګری شو، داسې ستره وسله شوه چې کولای مې شول هر چاته پرې چلینج ورکړم. پلار او نورو دوستانو مو راته ټیلیفون وکړ چې تاسې نشی کولای یوله بل سره واده وکړی تر هغې پورې چې بیا د کاتولیکانو کلیسا ته ولاړ نشی، پدې شپه مې خوب له سترګو والوت، کری شپه مې ویښه تېره کړه، سهار بیا د اسلام سره یوځای راښکاره شو، هغه دوست چې ماته یې قرآنکریم راډالی کړی وه ورته مې ټیلفون وکړ او خپلی ننۍ احساس مې ورته وویلې او ماښام مهال یې خواته ورغلم،هلته مې ورته پوره خبره وکړه ومې ویل چې: زه غواړم اسلام ومنم، لاره راته راوښایه!!!

**(د شهادت کلمه):**

کله چې هغوی له ما نه واورېدل او زما د رېښتینولی اټکل یې وکړ نو راته یې وویل چې (اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمداً رسول الله) دا کلمه مې څو ځله تکرار کړه، د هوټل لورته بېرته وروګرځېدم هلته مې ټول ملګری د جاپان پر لوري تللي ول ما کولای شول چې په هغوی پسې ځان وروررسوم خو دلته پاتې کېدل مې داسلام سره د مینې په خاطر غوره وبلل، خپل مسلمان ملګري ته مې زنګ وواهه، له هغوی سره یوه ځای یو مسجد ته ولاړم هلته مې یوڅه نور هم د اسلام په اړه زده کړل تر دې وروسته د درې میاشتو لپاره ورسره ایتالیا ته ولاړم ترې وروسته انډیا کې نهه څلویښت ورځې پاتې شوو له انډیا پاکستان ته راغلو او دلته مو نهه شپېته ورځې تېرې کړې، پدې موده کې زیات خوښ ومه غوښتل مې چې حج ته ولاړ شم نو ځکه مې له پاکستانه د سعودي، کویټ او یو بل هېواد ویزې واخستې، هغه بل هېواد ته ولاړو هلته مو دوه ورځې تېرې کړې او نژدې وه چې هغه ځای پرېږدم په همدې وخت کې د مسجد وخت شو هلته یو نژدې مسجد ته ولاړم تر څو لمونځ وکړم خو زه خبر نه وم چې د تعقیب لاندې ومه، یو پولیس راغی زه یې له ځانه سره یوړم او استخباراتو ته یې وسپارلم. له ډېرو پوښتنو ګنېګنو وروسته یې زه یوه انفرادي زندان ته واستولم هلته مې هېڅوک هم له الله پرته ونه موندل خپل لمونځ به مې کاوه او روژه به مې نیوله، رنګارنګ تعذیبونه یې راکړل خو چې څومره به یې تعذیبولم هماغومره به مې په اللهﷻ ایمان نور هم کلکېده بالاخره یوه ورځ مې خپل کالي وویستل او هغوی ته مې وویلې چې ما مړ کړی، د زندان کارکوونکو وویل چې ته مسلمان یې او تا سره نه ښایي چې خپل کالي وباسې ما ورته وویلې تاسې وایی چې مسلمان یمه نو بیا دا تعذیبون د څه لپاره دي؟ تر دې وروسته یې یوبل زندان ته بوتلم هلته مې زیات عرب زندانیان هم ولیدل چې نوموړو به له ماسره نېکه معامله کوله. هغوی د سوېس سفارت ته چې د امریکا د سفارت کارونه یې دلته اجرا کول خبر ورکړل چې یو امریکایي دلته په زندان کې ده کله چې هغوی هم راغلل هغوی هم هېڅ کار ونشو کړای، بیا یې د امریکا سفارت ته خبر ورکړ او هغوی له سپینې ماڼۍ سره په اړیکه

کې شول. دوه کاله مې همدلته په دې زندان کې تېر کړل او ترې وروسته يې پداسې وخت کې امريکا ته انتقال کړم چې ټول خپلوان او ملګري مې له لاسه ورکړي ول او نژدې وه چې زه هم ومرم.

﴿فَٱسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّى لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ ۖ بَعْضُكُم مِّنۢ بَعْضٍ ۖ فَٱلَّذِينَ هَاجَرُوا۟ وَأُخْرِجُوا۟ مِن دِيَٰرِهِمْ وَأُوذُوا۟ فِى سَبِيلِى وَقَٰتَلُوا۟ وَقُتِلُوا۟ لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ثَوَابًا مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسْنُ ٱلثَّوَابِ ﴿١٩٥﴾﴾ [آل عمران: ۱۹۵].

ټولو خلکو دا ګمان کاوه چې زه مړ شوی يمه خو تاسې به پوه شوي ياست چې الله ﷻ زه په امتحان کې اچولی ومه او دا يې غوره ګڼلې وه چې زه مسلمان پاتې شم. چابه چې له ماسره ليده کاته کول او بيا به يې زما کيسه اورېدله نو زما وروستي دريځ ته به ريان ول چې د اسلام په اړه به له دومره ستونزه ګاللو وروسته څه وايي، ما به ټولو ته همدا ويلې چې اسلام زه هېڅ تنګ کړی نه يمه بلکه ما سره په هر وخت کې وفاداره ملګرى وه، زه يې هېڅ نا امېدى ته نه يم پرايښى، اسلام د سولې دين ده، د ژوند لاره ده او ټول خلک د سولې پر لور رابولي، هر څه ته يوه ښه د حل لاره وړاندې کوي...

لوستونکي به پدې پوه شوي وي چې زه يو افريقايي په امريکا کې د لويديځوالو تر منځ ژوند کوم او وظيفه مې څومره ستونزمنه ده خو بيا هم لله الحمد له خپل ربه ښه خوښ يمه ولې له هغه مسلمانو وروڼو ګيله لرمه چې په نامه مسلمانان دي او په اسلام عمل نه کوي خلکو ته د اسلام ناسمه څېره ښيي هيله ده چې دوى هم د اسلام سم فهم له ځانه سره واخلي.

بيا دا وايمه چې زه له تعذيبونو څخه دومره ګيله من نه يمه، هېڅ مسلمان که د هر ځای وي ورسره کرکه نه لرم، له زندان نه د راوتلو وروسته يوکال په روغتون کې ومه او ترې وروسته اوس کويت ته د عربي ژبې د زده کړې لپاره راغلى يم تر څو قرآنکريم سم ولوستلى شم. دلته له اسلام سره د پېژندنې کميټې لخوا زما ډېر تود هرکلى وشو، ايله مې دلته د وروروله روحيه وليدله، اوس نو يواځې دا غواړم چې مسلمان و اوسمه، د مسلمانانو سره يوځای ژوند وکړم او مسلمان ومرمه تر څو راباندې د جنازې لمونځ وکړل شي.

اللهﷻ زه په تقوی کې و ازمویلم، الحمدلله اوس د قرآن او احادیثو پیروي کومه یوائینۍ هیله مې په اسلام ټینګ پاتې کېدل دي او پای کې دغه ده کویټ ته راغلم ځکه چې دا ځای د مسلمانانو لپاره د امن او آمان ځای دی. والحمد لله رب العالمين

## د فاروق عبدالحق د مسلمانېدو کیسه (ډاکټر رابرت ډیکسونکرین)

(دا دی لمر له لویدیځه راخېژي) نومې کتاب لیکونکی وایي: په ۱۹۹۳ م کال کې لاس انجلس کې د مسلمانانو لخوا جوړشوي کنفرانس ته وروبلل شوم هلته زیاتو خلکو خبرې وکړې خو د داکتر کرین ویناوو زه زیات اغېزمن شوم نوموړي د امریکا د بهرني سیاست په اړه زیاته پوهه درلوده، همدارنګه نوموړي مسلمانان دې ته تشویقول چې په سیاست کې برخه واخلي د اسلامي سیاست له مخې خلکوته د اسلام سمه نمونه وړاندې کړي لکه څنګه چې یې د اسلامي اقتصاد د اسلامي بانکداری په برخه کې وړاندې کړې ده. داکتر کرین د هاروارډ د پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځۍ څخه فارغ شوی چې په ۱۹۶۸ نه تر ۱۹۶۹ کال د امریکا پخواني رئیس جمهور (ریچارډ نیکسون) د بهرني سیاست په برخه کې مشاور هم وه (مخکې له اسلام څخه).بیا وروسته د مسلمانانو د اتحادیي رئیس وټاکل شو د (میډل ایسټ افیرز) د مجلې مدیر او مسلمانانو د اتحادیي د ستراتېژیکو څېړنو مشر هم ده. نوموړی غواړي اسلام په سېستماتیک شکل د امریکا په حکومت کې شامل کړي، نوموړي ته الله یو ستر استعداد ورکړی ده چې د اسلام لپاره د بلنې برخه کې یې په غټه پیمانه استعمالوي.

### د نورو هیوادونو په پرتله امریکا کې خلک زیات اسلام خواته را اوړي ولې؟

بنایي زما د کیسې تر پایه اورېدو پورې ددې پوښتنې ځواب ومومی. بنایي خلک له ما وپوښتي چې ولې مسلمان شوی یې؟ اصلاً دا پوښتنه نه ده ځکه چې زه له پیله مسلمان ومه او یوائې د شهادت د کلمې الفاظ مې په ژبه اړولي دي. غوره ده چې له ما وپوښتي چې ولې مسلمان یمه یا دا چې متعال خدای ولې زه اسلام ته هدایت کړمه؟ خو زما په نظر ددې سوال ځواب نه زه او نه

بل څوک د قيامت تر ورځې پورې ورکولی شي له کومې ورځې چې زه ډېر زيات وېرېږم. مسلمان ورونه به پدې رمز پوه وي چې اللهﷻ د هر چا د لارښوونې لپاره يوه ځانګړې طريقه غوره کوي.

**ټولنيز هدف**

دا چې زه ولې په امريکا کې پيدا شوم ولې بل ځای او بل هيواد کې پيدا نشوم، ولې اوس پيدا شوم پخوا ولې نه وم پيدا شوی دا ډېره ستره پوښتنه ده، خو زه دومره پوهېږم چې زه د اوسنی اسلامي او انقلابي ټولنې يو غړی يمه، او دا چې مسلمان زيات مسئوليتونه لري په زياته کچه اوس وخت کې نو دا هم يو مهم دليل کېدلای شي چې مونږه خپل مسئوليتونه سم درک کړای شو. بله دا چې مونږه يو هدف لرو چې هغه د بدلون هدف ده، په ټوله نړۍ کې د غوره بدلون هدف دا هدف مونږه ته قرآن او احاديث را په ګوته کوي خو زيات وخت مونږه لدې هدفه بې پروا کېږو چې داسې بايد ونشي. مونږه دا اوس پداسې يوې نړۍ کې ژوند کوو چې د تاريخ يو لوی پړاو جوړوي، دا اوس ټوله نړی سکولاريزم (بې دينيت يا هغه خلک چې دين له دنيا څخه جلا ګڼي) نيولې، دوی هغه خلک دي چې په نيويارک کې لوړ لوړ بلډنګونه جوړولی شي خو تر خپلو پښو لاندې د بې وسو جسدونه هم مونډلای شي، د سکولريزم عقيده هغه بدبخته عقيده ده چې د انسان او ټولنې رغونې پرځای دوی بربادۍ لوري ته کش کاږي او ټول خلک له دې پوچو عقايدو څخه نور د خلاصون په لټه کې دي، زما په اند اللهﷻ په امريکا يا داسې نورو هېوادو رحمېدلی ده ځکه چې دوی داسې پوچې عقيدې ګوري او بيا ځانته د حل لاره لټوي او بالاخره په حقيقت (اسلام) ايمان راوړي، دا بيا زياتې مينې او ښې پوهې سبب هم ګرځېدای شي چې پايله کې به يې مسلمانان يوه فرهنګي بډايه ټولنه ولري. ورو ورو به د هغه بدې ټولنې ځايناستې کېږي. همدې خبرې ته شپږ پېړی مخکې ابن خلدون هم اشاره کړې وه نوموړي ويلې چې: دا کوم شيان چې نن په ټولنو کې ليدل کيږی دا به زيات وخت دوام ونکړي ځکه دا د انسان له فطرت سره په ټکر کې دي او دا فرهنګ به بيخي له منځه ځي او قرار قرار به خپل ځای يو نوي اسلامي فرهنګ ته پريږدي، دا بدلون يواځې د بصيرت

خاوندان په خپلو سترګو لیدلای شي خو نورو خلکو ته نه ښکاري، د سکولریزم زوال نور پیل شوی ده حتی د دې زوال سرچینه د امریکا او شوروي په زړه کې ځای لري.

ددې سطحي انتقال په لمنه کې یوه سیاسي نمونه تر سترګو کیږي داسې چې د نړی د وګړو تر منځ یو ستر بدلون واقع کیدونکی ده او داسې معلومیږي چې دا بدلون د الهي نقشو پر اساس سرته رسیږي، د هغو لارښوونو په اساس چې پیغمبرانو به د حق او عدالت لور ته پر وربللو کولې. دا کاروان همداسې روان ده، او څوک چې لدې لارښوونو څخه برخمن کیږي او اسلام مني نو هغې ته لوی لوی مسئولیتنو متوجه کیږي، یانې الله ﷻ انسان ته یواځې ددې لپاره لارښوونه نه کوي چې هغه جنت ته بوځي بلکه هر مسلمان د امت او ټول بشریت تر شا لوی مسئولیت لري چې ددې مسئولیت پوښتنه به ترې کیږي، مونږه څوک یو، ولې خدای پیدا کړي یو او څه باید وکړو....

**عملي رنګ**

ځینې وخت الله ﷻ د ځینو اسبابو پوسیله خپل بنده ته لارښوونه کوي ځینې وخت مستقیماً او ځینې وخت بیا د پرښتو پوسیله خو داچې عملي الله ﷻ خلکو ته لارښوونه کوي دا ډیر ځله پیښ شوي دي، ماته هم الله ﷻ عملي لارښوونه کړې ده او زیاتې حادثې زما د پوهیدو لپاره زما په ژوند کې واقع شوې دي، داسې پیښې چې همدا اوس هم ما سره د یو راز په شکل شته، ډیرې داسې پیښې چې زه یې له مصیبتونو او بلاګانو نه ژغورلی یمه د بیلګې په توګه د اتلس میاشتو ومه چې له خپل کوره د باندې ووتم هلته مې یو وخت مور د سرک په منځ کې په داسې حالت کې وموندم چې نژدې وه یو لوی موټر راباندې وخیژي چې (الله راته نجات راکړ).

یو ځل مې غوښتل چې مغلستان ته ولاړ شوم نو هماغه وه چې یوې کیښتۍ کې کیناستم، له څه مزله وروسته کښتۍ لږ تمه شوه همالته مې د لارې لوری ورک کړ چې همدا ورکیدل مې د ژوند ژغورلو یوه وسیله هم شوه. یو ځل زما یو ملګري په ټوکه کې راته وویلې که ما ستا د زنداني کیدو هومره ډالر درلودل نو اوس به یو بډای ومه، زه لومړی ځل په پنځلس کلنۍ کې بندي شومه هغه

وخت چې غوښتل مې د سور پوستکو ليدنه وکړم هغه چې د اورغورځونې لـه امله له مکسيکو راغلي، خپل کور او کلی يې خرڅ کړی او دلته يې اړولـي دي، کله چې هلته ولاړم د يو څه وخت تېرولو وروسته مې پيسې خلاصې شـوې د څو ورځو ولږې تېرولو وروسـته پـوليس رابانـدې شـکمن شـول ويـې نيـولم او بندي يې کړم چې هلته مې بيا اسپانيايي ژبه هم ياده کړه.

زه تل د ظلم مخالف ؤمه او نه مې غوښتل چې پر چا زياتی وشي د همـدې لپاره ختيځ المان ته د يو ټول غوښـتونکی دولـت د راپرځوونکـو سـره ملګـری شوم، ما ددې ټولو ظلمونو اصلي لامل کمونېزم ګاڼه نو ځکـه مې يـې د لمنځـه وړلو پلان هم جوړاوه، کلـه چـې ختـيځ المـان تـه ورسـېدم هلتـه لـه ډېـرو بـې رحمانـه ظلمونـو سـره مـخ شـوم زه هـم همالتـه پـه پـلاون کـې د لـږې څېړنـې وروسـته د پوليسـو لخـوا ونېـول شـوم او همالتـه يـې يـو زنـدان تـه ولېـږلم، پـه نوموړي زندان کې داسې خبـرې اورېـدل کېـدې چـې دلتـه څـوک لـه دوه کلونـو زيات ژوندی نشي پاتې کېدای ځکه دلته چې کوم خلک اوسېدل هغوی يو هـم پدې نه پوهېدل چې ولې بندي شوی ده.

ما ته کمونېستانو سره د کار کولو امر وشو خـو مـا دا خبـره رد کـړه، لـه څـه وخت څېړنـو وروسـته دوی پـدې بـاوري شـول چـې دا لـه (ګـولاک) روسـيي زندان نه تېنتېدلی نو غوښتل يې چې مـا همالتـه بېرتـه واسـتوي مـا کـوم انکـار ونکړ خو بيا يې هم څېړنو ته دوام ورکاوه بالاخره يو وخت پدې معتقـد شـول چې زه ليونی يمه، ناڅاپي يوه ورځ يې خوشې کړم خو البته دا خوشـې کېـدل د تعقيب لپاره ول. کله چې له زندان نه خوشـې شـومه نـو د خپـل جعلـي مـور او پلار (هغه چې مې پوليسو ته هسې ورښودلي ول) د کور پـر لـوري روان شـوم، کله چې په موټر کې سپور شوم نو مـوټر لـه خپـل ټـاکلي وخـت نـه تقريباً نـيم ساعت وروسته شو وروسته پدې وپوهېدم چې د پوليسو څه کسـان پـدې مـوټر کې هم خېژي، هغوی هم راوختـل، مـوټر همداسـې روان وه او زه هـم ورسـره سپور وم تر دې چې اخري ايستګاه ته ورسېدو، له هغه ځايه مې تېښتې ته ځان جوړ کړ خو دواړو خواوو ته مې پوليس ول، په هر ترتيب له هغوی و تښـتېدلم تر دې چې يو ځنګل ته ورسېدم هلته مې واورېدل چې نوموړو پوليسو د کليسا

زنګ شرنګولی او ټول کلی یې زما د نیولو لپاره هڅولی ده. ما لدې ځنګل څخه د تېښتې کومه لاره نه درلوده نو مجبوره شوم چې په همدې ځنګل کې تر لمر لوېدو پټ پاتې شم، یو څه وخت وروسته د پولیسو موټرسیکلونو د ځنګل ټولو خواوو ته ودرېدل او پولیسانو خپل سپي زما پر لټون پسې را ولېږل، معجزه دا وشوه چې کله به هر ځل سپی زما شل متری ته رسېده نو نور به له غپاري څخه پاتې شو او بېرته به وروسته شو هماغه وه چې ما نجات وموند. له څه وخت تېرېدو وروسته مې ساحل تر سترګو شو او غوښتل مې چې د هماغه بندر له لارې واوړم نو همدا د اوسپنې لاره مې ونیوله، لږ وخت تېر نه وه چې عجیب اوازونه مې تر غوږو شول بېرته په ځنګل کې د څه وخت لپاره پټ شوم خو بیا وخوځېدم دا ځل روان وم چې د لارې ساتونکی مې مخې ته راووته داسې چې د ټوپک نښه یې زما پر لور نیولې وه او زما پر لور راروان وه ما هم د تېښتې کومه لار نه لیدله نو ځکه ځای په ځای ودرېدم خو بله معجزه دا وشوه چې نوموړی سړی همداسې د سپوږمۍ په ننداره توپک په لاس له ما تېر شو.

هوا یخه شوه او زه هم پولي ته رسېدلی وم، زما ډېر ساړه وشول او هلته پیښې شوې صحنې مې ځانګړې په یاد کې نه دي خو دومره مې یاد دي چې زه د ختیځ المان له پولي له اغزنو لوړو سیمانو د لویدیځ پر لور تللی یم او بېرته له هغه ځایه ختیځ المان ته را اوښتي یمه. یوه بله جالبه صحنه مې چې همدلته په یاد کې ده هغه دا ده چې زما کله ډېر ساړه وشول او له پولې واوښتم نو یوه کوچني کلي ته ورسېدم هلته مې تر ټولو لوړ او ښه کور پر لور مخه کړه او زنګ مې یې وشرنګاوه، کله مې چې د کور پر دروازه نصب شوې لوحه ولیده زړه مې په درزېدو شوه، ځکه هلته یې لیکلي ول (د پولي د پولیسو مرکزي ځای)، له ځانه سره مې وویل چې لکه چې بیا د پولیسو ګیر ته ورغلم خو څو دقیقې هېڅوک راو نه وتل ما له فرصت نه ګټه واخسته او بېرته په راغلو قدمو ولاړم، یوه څه مزل وروسته مې یو بل لاروی هم پیدا کړ چې ویل یې هغه هم له زندان نه تښتېدلی او د غربي پولي په لور ځي زه هم له نوموړي سره ملګری شومه خو یو احمقانه کار مې وکړ ځکه چې سیده یې د پولیسو

دفتر ته بوتلم او بیا یې زنداني کړم، دا ځل یې په یوه زندان کې بند کړو، دلته هم عجیبې او غریبې پېښې وشوې څو ځله یې هغه زندان ډک کړ او بېرته یې تش کړ خو له ما سره یې هېڅ غرض ونکړ دربمه ډله یې چې کله وړله زه هم ورسره ملګری شومه چامې څه ممانعت ونکړ هماغه وه چې د ختیځ المان پر لور روان شو. ما چې کومې بې عدالتۍ په دې توتالیتریتي هېوادونو کې ولېدلې مجبوره شومه چې ددوی پر ضد مبارزه شروع کړم، لومړی مې وغوښتل چې د کاتولیکانو له ډلې سره یو ځای شمه او یو کشیش رانه جوړ شي خو وروسته مې تصمیم ونیوه چې د (فرانسیسکان) له ډلې سره یو شم ځکه کلیسا حکم کړی وه چې دوی باید د روسي خلک بېرته د عیسوي کېدو لپاره چمتو کړي، یوه داسې پېښه واقع شوه چې د عیسوي کېدو فکر یې زما له ماغزو څخه وویسته هغه داسې وه چې زه د راکي غرونو ته ولاړم هلته رابانده یوه سخته تبه راغله، روغتون ته له تلو وروسته معلومه شوه چې دا د (تریشین) ناروغي ده چې د خوګ د غوښې د خوړلو په پایله کې منځ ته راځي ورو ورو مې ناروغۍ زیاتېدله تر دې چې ډاکټرانو نوز زما د مرګ انتظار ایسته.

## الهي وړانګې

ښایي زه په روغتون کې مړشوی وای خو الله ﷻ ښه پوهیږي، دا پداسې وخت کې وه چې ما یو مېلق حقیقت تجربه کړ، هغه الهي نور وه، هو هغه نور چې هر څوک یې تجربه کولای شي او کله چې یې تجربه کړي د حضرت محمد ﷺ ددې سوال ځواب به ډېر ښه درک کړي چې آیا خدای مو لیدلی، څه شی ده؟

حضرت محمد ﷺ دې سوال ته یوازې ممکن ځواب ورکړی یعنې نوموړي ویلې چې څوک کولی شي هغه ووینې پداسې حال کې چې هغه مېلق نور ده. ما زیاتې پېښې ولیدلې او زه یې د هغې په اړه فکر کولو ته مجبورولم تر دې چې ایمان مې راوړ او د نوموړو ټولو پوښتنو ځواب چې مې مخکې نه درلود اوس پیدا کړ.

ما لدې ټولو پېښو څخه یوازې دوه شیان یاد کړل یوه دا چې انسان ډېر شیان ژر هیروي ددې حقیقت دا ده چې الله ﷻ انسان ته که وغواړي هر څه

وښيي ښيي او حافظه خو هم ورته الله ورکړې ده نو چې کله رب وغواړي نوموړې پېښې ترې بېرته هېرې کړي ترې يې هېروی هم شي يعنې الله چې انسان ته څومره پوهه او حافظه ورکړي انسان به هماغومره له ځانه سره ولري.

دوهم شی مې چې ياد کړ هغه تر ټولو مهم شی ده هغه د الله وحدانيت ده، تر دې وروسته به هېڅکله هم په تثليث عقيده نه لرم، دا عجيبه خبره وه چې عين وخت کې مو هم په يو خدای ايمان درلود او هم په دريو!!!!

کله چې خلکو ته څرګنده شوه چې زه مسلمان شوی يمه نو يوه ډله کشيشان ماته راغلل او راته يې وويل چې مونږ خبر شوي يو چې تاته څه ستونزه پيښه شوې! ما هغوی ته ځواب ورکړ چې نه! هره ستونزه مې چې لرله هغه حل شوه په تېره تر ټولو ستره ستونزه دا وه چې عين وخت کې مو يوه خدای او دريو خدايانو باندې ايمان درلود. هغوی راته وويل چې سمه ده که دا ستونزه وي دا خو مونږه ټول لرو خو ته بايد مسلمان شوی نه وای.

کلونه د داسې يوې کلمې په لټه کې ومه چې رب پرې سم توصيف کړای شم خو هر چېرې مې چې دا کلمه ولټوله پيدا مې نکړه او اسلام ته خو نژدې ځکه نه راتلم چې مونږه ته ويل شوي ول چې مسلمان هسې په يو خيالي جنت غوليږي چې وايي پکې حوري دي او ددې حورو د لاسته راوړلو لپاره بايد يو مسيحي ووژني خو کله مې چې اسلام ومانه دا هر څه دروغ وختل، ماله زياتو مسلمانانو سره ليده کاته وکړل ټولو له ما نه زيات له ټول بشريت سره مينه درلوده، ما داسې فکر کاوه چې ما چې څه پيدا کړي هغه بل چا سره نشته خو کله مې چې يو بل مسلمان سره ليدنه وشوه نو وپوهېدم چې دې نړی کې يواځې نه يمه، ماغوندې ميلونونه کسان الله پيدا کړي دي چې زه هم د هغوی له ډلې يو سړی يمه همالته وه چې ما هغه کلمه چې مې ډېری کلونه لټوله بيامونده، هغه د (الله) کلمه وه، دا داسې کلمه ده چې واقعاً کولی شې پرې د رب حقيقي توصيف وشي.

## د چارلز د مسلمانېدو کیسه

### اسلام د معجزو دین ده

له اسلام څخه د مخه يې نوم چارلز او له مسلمانېدو وروسته یوسف شو، عمر يې ۴۵ کاله، پخوانی دین يې مسیحیت، دنده يې انجینیري او د مسلمانېدو لامل يې د قرآن په معجزو پوهېدل دي.

چارلز په لویدیځ کې د مسیحیت په دین لړلی ژوند درلود، نوموړی هم لکه د نورو خلکو غوندې هلته خپلواکه و، دا خو معلومه خبره ده چې په لویدیځ تمدن کې خلک ناسمې خپلواکۍ دې پولي ته رسولي چې مېږه پر اورته باندې برلاسی نه وي همدارنګه پلار په زوی او لور کوم تعقیب نشي درلودای لدې راواخله همداسې تر دین پورې یانې خلک په دیني چارو کې هم یو څه خپلواکي لري.

یوسف چارلز وایي: ما د اسلام په اړه هیڅ معلومات نه درلودل خو کله چې (محمد علی کلی) د بوکس نړیوال اتل مسلمان شو ما هم د اسلام په اړه له خلکو معلومات وغوښتل هغوی همدومره راته وویل چې اسلام داسې د تعصباتو دین ده چې په توري يې بنسټ ایښودل شوی ده، خلک له وګړیزو او ټولنیزو خپلواکیو بې برخې کوي، د تشدد او تروریزم پر لور خلک بولي او داسې نور...

ما به مبالغه زیاته کوله، نو د اسلام په اړه سمو معلوماتو لپاره مجبور شوم چې یو څه کتابونه راونیسم همداسې مې هم وکړل یو څه کتابونه مې د اسلام اړیکي له نورو ادیانو سره په نامه را ونیول او یو څه نور د نورو ملګرو لخوا راته ډالی شول او ورو ورو مې لدې کتابو سره شوق او مینه زیاته شوه. یو وخت کویت د یو کمپنۍ د متخصص انجینیر په توګه ولاړم، هغه ځای ته چې هلته د هر چا آرمانونه تحقق مومي، چون زما مینه له اسلام سره ښه شوې وه دلته مې هم د کتابونو په لوستلو ځان ستړی کاوه، ما غوښتل چې د مسیحیت په اړه د اسلام دریځ پیدا کړم خو هر کله به مې چې کتاب خلاص کړ نو په یوې نوې موضوع به مې سترګې ونښتې.

**د قرآنکریم تفسیر او معجزې یې**

ما ته د دې کتابونو په منځ کې د قرآنکریم تفاسیر چې په انګلیسي ژبه ژباړل شوي ول هم راکړل شول، ما په قرآنکریم کې د اوسنۍ مسخر شوې نړۍ او د نړۍ ټول شته نظم داسې ولیده چې پوهانو د ډېرو سترګیاوو وروسته تر مونږه رابښودلی، داسې معجزې قرآن کې شته وې چې سړی یې یو عجیبه ادراک ته ورباله، ما به د یو کتاب د مېالعې وروسته سمدلاسه پرلپسې بل کتاب پیل کړ او مسلمانو ملګرو نه به مې هم څه غوښتل هغوی به پکې ناړامي نه کوله تردې چې ما په نړۍ کې دالله د زیاتو حقیقتونو او نښو په هکلو څېړنې وکړې.

﴿سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّۗ أَوَلَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ﴿٥٣﴾﴾ [فصلت: ٥٣].

یا الله ستا قدرت څومره ستر ده، ته ستر عظمت لرونکی یې، څومره ښکلي دي هغه څیزونه چې تا مونږه ته تیار کړي دي، تاته پاکي ده یا الله، تا هیڅ هم غلط نه دي پیدا کړي، مونږه ستا حقیقت نښو موندلای، ته په هر څه باندې قادر یې.

ما قرآن لوسته تر څو دې معجزاتو ته ورسېدم چې اللهﷻ د رسول اللهﷺ پوسیله مونږه ته بیان کړي دي.

﴿أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلۡإِبِلِ كَيۡفَ خُلِقَتۡ ﴿١٧﴾ وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيۡفَ رُفِعَتۡ ﴿١٨﴾ وَإِلَى ٱلۡجِبَالِ كَيۡفَ نُصِبَتۡ ﴿١٩﴾ وَإِلَى ٱلۡأَرۡضِ كَيۡفَ سُطِحَتۡ ﴿٢٠﴾﴾ [الغاشية: ١٧-٢٠].

ما دې آیتونو کې مدبرانه فکر کاوه بالاخره دې پایلې ته ورسېدم چې هر څه چې نن مونږه ته مسخر شوي دا د لوي ذات په امر او فضل شوي دي، دا هر څه یې نن کلک او محکم پیدا کړي او یوه ورځ به یې لکه وړۍ داسې تیت، نرم او دانه کړي، عقل مې لوړو پوړو ته ورسېد او پدې قانع شومه چې اسلام ریښتینی دین دی، په ځانګړي ډول چې کله پوه شومه چې اللهﷻ غرونه څرنګه پیدا کړي دي او بیا هغه په ځمکه کې لکه میخونه دا غرونو ددومره لویوالي سره ټک وهلي دي.

﴿وَتَرَى ٱلۡجِبَالَ تَحۡسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِۚ صُنۡعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ أَتۡقَنَ كُلَّ شَيۡءٍۚ إِنَّهُۥ خَبِيرُۢ بِمَا تَفۡعَلُونَ ٨٨﴾ [النمل: ٨٨].

ما پدې خبره تاکید وکړه چې هر هغه څه چې اللهﷻ په قرآنکریم کې ویلي دي سم او ریښتیني دي او همدارنګه څه چې حضرت محمدﷺ ویلي هغه هم ریښتیني دي خو کومه ده داسې عقل چې په دې څرګندو او ښکاره دلائلو باندې سوچ او فکر وکړي.

## د معجزو دین

زه دقرآنکریم په علمي معجزاتو پوه شوم د بېلګې په توګه د غرونو د خلقت او د هغوی د نصبېدو په معجزه، د وريځو په هکله چې څنګه له بخار څخه جوړېږي او بیا په اوبو بدلیږي او وچ ځایونه خړوبوي

﴿هُوَ ٱلَّذِي يُرِيكُمُ ٱلۡبَرۡقَ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَيُنشِئُ ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ ١٢﴾ [الرعد: ١٢].

همدارنګه د برزخ معجزه چې خوږې اوبه له تروو اوبو سره لیدنه کوي خو یو پر بل تیری نه کوي

﴿مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ يَلۡتَقِيَانِ ١٩ بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٞ لَّا يَبۡغِيَانِ ٢٠ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٢١﴾ [الرحمن: ١٩-٢١].

همدارنګه ډېری نور حقیقتونه چې راته را څرګند شول ټول د الله په قدرتونو باندې دلالت کوي، او دا اوس وخت کې چې کومې علمي څیړنې او لاسته راوړنې شوي دي دا ټول له قرآن سره یوشان والی لري یانې قرآن دا شیان ډېری کلونه مخکې ویلي دي خو پوهان یې اوس کشفوي نو له همدې نه راته پته ولګېده چې اسلام یواځینی حق او ریښتینی دین ده.

## څنګه یې خپل ایمان ښکاره کړ

کله مې چې دا علمي حقیقتونه ومونډل نو هېڅ انتظار مې نه کېده چې تر څو د ایمان په اوبو خړوبه نشم، پوهېدم چې زما عقل ورو ورو نور پیدا کوي، زړه مې روښانه کیږي، اسلام خپلې نوې ریښې زما په بدن کې غوړوي، تنده مې ورو ورو ختمیږي نو همالته په کویت کې د (اسلام سره د پېژندنې) مرکز

ته ولاړم، د نور او لارښوونې لومړی دروازه مې همالته پرمخ خلاصه شوه، مسیحیت مې د تل لپاره ترک کړ اوس پدې هیله چې الله رانه رضا شي.

د اسلامي عقیدې اساسات راته یو لویدیځوال داعي (ایوب هارون راوښودل) هغه راته د الله ﷻ په اړوند وویل چې هغه یو ده، شریک نه لري، نه له چا پیدا شوی او نه ترې څوک پیدا شوي، چاته محتاج نه ده، عیسی علیه السلام هم د آدم علیه السلام په څېر له خاورو پیدا شوی وه، ټول پیغمبران د الله له لوري د اسلام د ښودلو لپاره خلکو ته لیږل شوي دي چې عیسی علیه السلام هم د هغوی له جملې څخه وه، هماغه لحظه چې ددې دعوتګر خواکې ناست وم د آرامۍ او راحت احساس مې کاوه. همدلته مې د شهادت کلمه وویله چې (لا اله الا الله محمد رسول الله) او په خپل اختیار او خوښې سره په اسلام راضي شوم، نوم مې هم بدل کړ او محمد یوسف مې کېښود. اوس نو هر وخت اسلامي درسونو ته حاضرېږم تر څو یو څه زیات د اسلام په اړه زده کړم، همدارنګه هڅه کې یم چې عربي ژبه هم زده کړم تر څو قرآنکریم ښه ولوستلی شم.

یوسف زیاتوي: اسلام له ټولو نورو دینونو سره توپیر لري ځکه دا دین آسان فهمه او ښکلي ده، اسلامي عقیده خلک د ځان پر لور راکاږي، دا هر څه ما هله موندل چې کله دې دین ته نژدې شومه اوس له خدایه غواړم چې زما پر لاس نور کسان هم اسلام راوړي تر څو مې جنت نصیب وګرځي.

## د (پروفیسور جفری لانګ) د مسلمانېدو کیسه

استاد جیفري لانګ په امریکا کې د ریاضي خورا غښتلی استاد ده، د نوموړي د اسلام راوړلو کیسه په (حتی پربښتې هم پوښتي) نومي کتاب کې ډېره ښکلې په دوه (روحي او فلسفي) برخو کې بیان شوې ده.

لیکونکی وایي: کله چې مسلمان شومه د مسجد ملا امام راته یو کوچنی کتاب د (څرنګه لمونځ وکړو) په نامه راکړ، خو له وروسته نه مې د محصلینو د (آرام اوسه، زیات فشار په ځان مه راوړه، قرار قرار او کم کم وړاندې ځه، ښه دا ده چې لږ وخت درباندې تېر شي) چیغې واورېدلې، ما له ځانه څخه وپوښتل چې آیا لمونځ دومره ستونزمن عبادت ده؟؟

ما د محصلینو دا نارې هسې وګڼلې او هوډ مې وکړ چې پر لمانځه به پیل کوم، خپل اطاق ته ولاړم یو څراغ مې روښانه کړ تر څو هغه دعاګانې چې په کتاب کې دي او ورسره د لمونځ او اودس طریقه ښه یاده کړم، ما د لمانځه حرکات څو ځله ځان سره تکرار کړه، دعاګانې په عربي ژبه وې زه مجبوره وم چې نوموړې دعاوې له انګلیسي معنا سره په یادو زده کړم چې یو څه وخت ته یې اړتیا وه، شپه نیمې ته رسېدلې وه ما وغوښتل چې د ماخستن لمونځ وکړم نو د اوداسه لپاره تشناب ته ولاړم، هلته مې کتاب خپل مخې ته خلاص کېښود او هره خبره به مې یې یو بل پسې عملي کوله لکه څنګه چې اشپز د لمړي ځل لپاره پخلی کوي.

له اوداسه وزګار شومه همداسې له پریمنځل شوو غړو مې اوبه څڅېدې (له اوداسه وروسته د غړو نه وچول مستحبه خبره ده) د کوټې منځ ته ننوتم، هلته مې ولیدل چې څوک شاته راپسې نه وي، د کوټې دروازه مې و تړله او هغه لوری چې ما فکر کاوه قبله ده ورته مخامخ شوم، لاسونه مې تر غوږو پورته کړ او ورو مې وویلې الله اکبر، ورو او په ټیټ اواز مې ځکه ویلې چې څوک زما غږ وانه وري خو یو وخت متوجه شومه چې کړکۍ ته مې پرده نه ده اچولې ډېر وارخطا شومه ځکه ما ویلې چې که مې ګاونډیانو نه څوک پداسې حالت کې ووینې نو څه به کوم؟ ژر ولاړم لاندې او چاپېره مې وکتل څوک هم نه وه په خوښۍ مې د کړکۍ پرده واچوله او بېرته د کوټې منځ ته د لمانځه لپاره ودرېدم، بیا مې له سره لاسونه غوږو ته یوړل او په ټیټ غږ مې وویل الله اکبر، سوره فاتحه مې ولوسته او ورسره مې یو څو آیتونه نور هم یو ځای کړل زه پوهېدمه که زما دا عربي کوم عرب لیدلې وای نو ولاکه یې په ټکي هم پوه شوی وای!! بیا مې الله اکبر وویلې رکوع ته ولاړم تر هغې چې ملا مې سیده شوه دا کار راته ډېر ستونزمن تمام شو ځکه چې په عمر کې لمړی ځل ده چې رکوع کوم، له رکوع پورته شوم «سمع الله لمن حمده» او بیا «ربنا ولك الحمد» مې وویلې خو اوس باید سجدې ته تللی وای چې همالته مې په ځای کلک ودرېدم ځکه زما نه خوښېده لکه یو غلام خپل تندی په خاورو کېږدم، ما ونشو کولای او داسې مې احساس کړه چې د پښو ساقونه مې قید دي، ملګري مې ما

تعقیبـوي او اوس راپـورې خانـدي... زه وارخطـا غونـدې شـوم اودعـا مـې وغوښتله چې، هیله کومه هیله کومه له ما سره مرسته وکړه!!

ډېره ژوره ساه مې واخیسته او پښې مې ښکته کېدلو تـه مجبـوري کړلـې، دا اوس په څلورو غړو په ځمکه وم، لږ متردد شـومه خـو سـر مـې پـه جـای نمـاز ولګاوه له سره مې ټول سوچونه د یوې شیبې لپاره ووېستل او یواځې مـې درې کرته وویلې «سبحان ربی الاعلی» بېرته پورته شومه او بیا دویمـې سـجدې تـه پـه خورا همت راښکته شوم او دویمه سجده مې هم وکړه تر دې چې (اللـه اکبـر) او بېرته ودرېدم دا کار راباندې ډېر ستونزمن تمام شو زړه کې مې ویلـې چـې لا درې کرته نور داسې کول پاتې دي خو هر ځل به له پخواني وار راتـه اسـانه وه، تر دې چې وروستنۍ دوو سجدو سره مې لږ ډاډ هم احساس کړ، بیـا التحیـات ته کښېناسـتم تـر دې چـې دواړو لـورو تـه مـې سـلام وګرځـاوه، مـا چـې تېـرې معرکې په یاد راوړلې ډېر بل ډول حالت مې احساسوه، په ډېـر خجالـت وهلـي انداز مې لاسونه دعا ته پورته کړل: یا الله زما لویي او تکبر راته وبخښې، زه له ډېر لرې ځای څخه راغلی یمه او لا ډېره لاره راته پاتې ده چې طی یې کـړم، دا اوس مې داسې یو څه حس کړل چې پخوا مې کله هېڅ نه وه لیدلي، داسې چې دلته بیانول یې هم راته اسانه نه دي، او زه نه پوهېږم چې څه رقم یې بیان کـړم او هم نه پوهېږم چې دا څه شی وه، خو یو رحمت وه، یوه څپه وه، یو مـوج وه او یوه روښنایي او وړانګه وه چې زما زړه ته راننوته داسې چې زمـا پـه عواطفـو او احساس کې یې ژور بدلون راووست، زه یې چاپېر کړمه او له سترګو مې پـه غیر ارادي ډول اوښکې روانې شوې، زه نه پوهېدم چې دا اوښـکې د څـه لپـاره دي...

کله چې دا لیکي د تاسې په وړاندې لیکم دا وایم چې که د الله لخوا بخښـنه یواځې د ګناهونو عفوه وي خو له خپل ځان سره آرامي او روغتیا هم لري. یـوه موده پر زنګنو په منحني ډول کښېناستم او سر مې خپلو دواړو لاسو کې نیـولی وه، کله مې چې له ژړا بس کړ په ډېر ستونزمن حالـت کـې مـې قـرار پیـدا کـړ او دې تېرو شوو پېښو ته مې هېڅ کوم عقلي تعبیر پیدا نکړ.

ولې هغه مهم شی چې ما درک هغه داوه چې ما خپل ژوند کې ډېر زیات رب ته اړتیا درلوده او لمانځه ته هم، مخکې لدې چې پورته شم دا دعا مې ولوسته: یا الله که زه یو ځل بیا کافر کېږم نو له هغې ورځې ما مخکې مړکړه، ځکه زه نه غواړم یو ورځ بیا ستا له شتوالي څخه انکار وکړم او نه غواړم چې له عیبونو سره ډک ژوند وکړم.

**داعی الله فردان**

کله چې کوم بې دینه ایمان راوړي او مسلمان شي نو بیا نوموړی خپل مسئولیت چې د رب پر لور بلنه ده ډېره ښه پېژني، دوی هڅه کوي چې د نورو لپاره خدمت وکړي ځکه ورته څرګنده شوي وي چې په کفر کې ژوند تېرول څومره ستونزمن وي، سم لکه د سرطان ناروغی دغسې خلک د بربادی پر لور راکاږي نو ځکه بیا د ځان فرض بولي چې نورو ته لدې ناروغی نه د الهي رغوونکي کتاب پوسیله نجات ورکړي.

دلته د (دغه ده لمر له لویدیځه راخېژي) نومي کتاب لیکونکي له یو نوي مسلمان شوي چې وروسته یې د اسلام پر لور د زندانیانو د بلنې دنده په غاړه اخیستې سره مرکه کړې چې ستاسې مخې ته یې بږدم:

- که راته ووایاست چې کله، چېرته او څنګه مسلمان شوی؟
- هو، زه ځوان ومه، یواځې د ژوند دیارلس پسرلي مې تېر کړي ول چې په ۱۹۵۹ کال کې مې ایمان راوړه، مخکې د کلیفورنیا د ځوانانو د ټولنې سره وم او کله چې مسلمان شوم نو د مسلمانو ځوانانو د ټولنې غړی شوم.
- د خپلې کورنی په هکله یو څه راته ووایاست!
- زما کورنی مسیحي ده، ورور مې د کلیسا کشیش ده او خور مې هم کلیسا ته ډېره ځي راځي.
- مونږ غواړو چې ته د (وینچرا) په زندان کې کومه دنده سرته رسوې د هغه په اړه راته څه ووایې چې کله دې دا کار پیل کړی ده!
- په غالب ګمان چې ۱۹۸۲ یا ۱۹۸۳ کال کې مې پیل کړی خو پوره ډاډه نه یمه.

- څومره خلکو ستاسې په لاس لدې لارې اسلام منلی؟
- پوره ویل خو یې ستونزمن دي ولې هرکال تقریباً درې سوه شاوخوا کسان ایمان راوړي.
- تاسې څنګه وکولای شول چې دا خلک له جنایي ژوند اسلام ته را واړوې، دا به ډېر ستونزمن نه وي؟
- لومړی مهم څیز دا ده چې باید داسې یو کار وکړې چې خلک دربانـدې اعتماد وکړي، دویم عامل په خپل کار کې اخلاص ده چې باید عمل ته په ویلو ترجیح ورکړو او دریم عامل دا کېدای شي چې زه خپله هم پخوا نامسلمان وم خو کله مې چې ایمان راوړ ژوند کې مې ژور بدلون راغی او دوی هم هڅوم او ورته ښایم چې اسلام د غوره بدلون دین ده.
- د کومې اسلامي مؤسسې لخوا درسره مرسته کېږي او که نه؟
- هو اسلامي مؤسسې او د مسلمانو ځوانانو ټولنه له مونږه سره زیاته مرسته کوي، همدارنګه د مساجدو امامان راسره په مالي برخه او روزنیزه برخه کې هم مرسته کوي، ځانګړې مرسته نور په وګړیز ډول ورونه هم کوي، تقریباً اتیا کسان راسره مالي مرسته کوي چې د هغې مرستې په وسیله بیا مونږه غذا تیاروو، هره ورځ شل کسه د غذا د تیارولو لپاره مرسته کوي، البته مونږه غواړو لدوې سره د وررولۍ غوره فضا برابره کړو نو د همدې لپاره ورته هره میاشت په غذا کې یوه څه انداز زیاتوالی راولو، ددې تر څنګ اسلامي کتابونه په عربي او انګلیسي ژبو او جای نمازو ته هم اړتیا ده او دا هم ورته مونږه برابروو، زه کله ناکله د قرآنکریم دا آیت له ځانه سره بیا بیا وایم: ﴿وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ٥٤﴾ [آل عمران: ٥٤]. ژباړه: بیا بني اسرائیلو (د مسیح پر خلاف پټې دسیسې پیل کړې په مقابل کې یې الله هم خپل پټ تدبیر په کار واچوهاو په داسې تدبیرونو کې الله تر ټولو وړاندې دی. ددې هیله مند یمه چې الله له مونږه څخه راضي شي پر مونږه خپل رحمت کړي او جنت مو نصیب وګرځي او پدې لاره کې راته صبر، حوصله او استقامت راکړي.

هغه درسونه چې لدې کیسې اخیستل کیږي:

١- نوي مسلمانان د نورو په پرتله اسلام ته د بلنې ستره مینه لري او خپل مسئولیت یې ګڼي که دا مسئولیت دې نورو هم ښه اداکړی وای او د بلنې لاره یې خپله کړې وای نو څه وایې چې اسلام به اوس تر کومه ځایه رسېدلی وای؟

٢- دا کیسه راښیي چې حقیقي مسلمان څومره نرم زړی وي، څومره د بشریت د نجات په فکر کې وي، هغه خلک چې په زندان کې دي او د ژوند له ټولو حقوقو محروم شوي دي بیا هم یو مسلمان ورته ورځي هغوی ته تسلي ورکوي، ډاډه کوي یې او سولې یا اسلام پر لور یې رابولي.

٣- دا کیسه د حقیقي مسلمانانو څېره راته راښیي چې د اسلام د خپراوي لپاره له خپل جیبه پیسې مصرفوي او که دا ټولو مسلمانانو کولای نو اوس به اسلام تر کومو بریدو رسېدلای وای؟؟؟

٤- نویو ځوانو مسلمانانو د ځان د نظم لپاره یوه اتحادیه جوړه کړې وه او د هغې له لارې یې اسلام ته خلک رابلل او د بلونکو سره یې مرسته کوله ای کاش چې زمونږه محصلین هم همداسې وای!!

٥- د اسلام دین د حقیقت دین ده ځکه چې حتی په تورو تیارو کې پراته جنایي زندانیان هم د هغې د حقیقت په پوهېدلو وروسته پرې ایمان راوړي.

## محمد عبدالله

۲۷ د ۲۰۰۵ ل کال



عبد الکریم الکوهالی دیمن دکلتوري مرکز دنشراتو دبهرنۍ څانګې مسؤل وایي چې بهرنیانو د مسلمانیدو لړی ډېره په چټکی سره روانه ده، دی زیاتوی چې دتیرو دوه کلونو په موده یمن ته راغلی بهرنیانو څخه ۱۲۰ کسه د اسلام په مقدس دین مشرف شوی او خپل اسلام یې اعلان کړ.

## عبدالرحمن

د (دغه ده لمر له لویدیځه راخېژي) نومي کتاب لیکوال وایي: په امریکا کې د یو نوي مسلمان شوي امریکایي څخه خبر شوم چې نوموړی بوسنیا ته روان ده زه ورغلم او ترې مې (د اسلام پرلور) د هغه د ایمان راوړلو کیسه وغوښته تر څو یې خپل کتاب کې زه هم ولیکم نوموړي راسره وعده وکړله چې وړاندې له تګ نه به کیسه تاته وسپارل شي او پته یې رانه واخستله، څو ورځې وروسته مې یو لیک تر لاسه کړ چې پکې لیکلي ول:

دغه ده ما خپله کیسه ولیکله او تر ډېره بریده مې هڅه کړې چې ستاسې ټولو پوښتنو ته ځواب درکړم هیله ده تاسې په خپل کتاب لیکلو کې بریالي شی، زه نو اوس بوسنیا ته ځمه او دعا راته وکړه تر څو هلته شهید شم او جنت مې په برخه شي، خدای دې مل شه نور دې په الله سپارم.

زما نوم عبدالرحمن ده او دوه کاله کېږي چې ایمـان مـې راوړی او دا ایمـان راوړل مې په ډېر لنډ وخت کې وشو خو زما په ژوند کې یوه ستره تجربـه ولـه، مخکې له اسلام راوړلو څخـه مې ډېـری جرمونـه لکـه نشـه، شـراب، د انجلـۍ درلودل، او نور.... کړیدي، شپږ ځله زندان ته هم تللی یمه، پلار مې یهودي ده او مور مې مسیحي ده، په وړوکتوب کې ما نشـو کـولای چې هـم د عیسـویانو رواج وپالم او هم د یهودیانو خو کله چې ځـوان شـوم پـلار مـې د (بـارمیتزرا) مېلې ته بوتلم (نوموړې مېله د یهودیانو دود ده او کله چې هلک ځـوان شـي دا مراسم ورته جوړوي)، له هماغه وړوکوالي به مې پلار راته ویلې چې حقیقـي یو خدای شته دی او هغه هېڅ کوم اولاد نه لري، وړوکتوب کې مې د اسلام په اړه کوم ځانګړي معلومات نه لرم یواځې یو ځل مې آیت الله خمیني له الـوتکې څخه د کوزېدو په حال کې لیدلی وه چې مسـلمان وه نـور نـه پوهېـدم چې څـه دي.

**د فارس د خلیج جنګ:**

له ځوانۍ وروسته د امریکا له اردو سره یو ځای شومه چې زیات شـیان مـې د اسلام په اړه همدلته زده کـړل، زمـا اوس هـم پـه یـاد دي چې یـوه ورځ یـوه جنرال راته د تمرین په وخت کې وویلې (مسـلمانان وایـي چې مـونږه د خپـل خدای لپاره مرو، راځۍ چې دوی سره پدې مړه کېدلو کې مرسته وکړو)، زه نه پوهېدم چې الله څوک ده او مسلمانان کوم الله ته عبادت کوي او یا مـري. کلـه به چې مونږه ته د مرمۍ د فیر کولو تمـرین راکـول کېـده نـو ویلـې بـه یـې چې تاسې فکر وکړی چې یو مسلمان مو په هدف کې نیولی ده نو څو مرمۍ بـه یـې لدې ځایه بس وي!!! حتی زمونږ په منځ کې مشهوره وه که چېرې د خلیج پـه جنګ کې مسلمانان مونږه ته تسلیم هم شي نو بایـد پـر هغـوی خپلې مرمـۍ و ازمایو، یو څه وخت وروسته مې پلار ومړ، ما نور څه کولی شول خپل پـلار تـه مې دعا وکړې او ځان ته مې یواځې د لارښوونې دعا وکړه.

له اردو څخه وتښتېدلم او ځان مې د مور خواته ورساوه، زما بـه هـر وخـت زړه کېده چې یو ځـل د مسـلمانانو عبادتځـای تـه ولاړ شـم او نـن مـې پـوره او کلک هوډ وکړ او ولاړم، همالته راته د ایمان وړانګو انتظار وېسـته، ځکـه چې

تر ېېرته راتګه زه مسلمان شوی ومه او شهادتین مې ویلي ول، کور ته پداسې حال کې راغلم چې قرآنکریم هم راسره وه، او خبره مې له مور سره شریکه کړم تر دې وروسته زما یواځېنۍ تکیه مور وه او هغې به هم له ما څخه پوره دفاع کوله خو نورو خلکو راسره نفرت کاوه او حتی ځینو به ویلې چې ته نشې کولای مسلمان شې ځکه یواځې عرب کولای شي مسلمانان و اوسې (اسلام یواځې د عربانو دین دی).

**له اسلام نه بېرته مخ اړول:**

کله چې مسلمان شومه نو د بیا ځل لپاره اردو ته ولاړم خو هغوی هلته په پولیسو کې پرېښودم او له اردو څخه یې ووېستلم، مختلفې نارې به یې راپسې وهلې چابه راته علي بابا ویلې او چا خاین حتی ځینو به د صدام حسین خیرخواه بللم خو ماته دا ټولې خبرې هسې ښکارېدلې ځکه چې ما یواځې خپل پالونکی الله ګاڼه، کله چې بېرته راستون شوم نو ما ډېرې مسلمان ملګري لرل چې همدوی لږ په تردید کې هم واچولم هغه داسې چې یوه به ویل ته باید اول داسې وکړې بل به ویل نه داسې نه، بلکې لومړی باید دا کار وکړې تر دې چې زه ډاډه شوم چې اسلام د ستونزو او تکالیفو دین ده نو هماغه وه چې بېرته مې خپل پخواني کارونه شروع کړل خو د الله په یووالي او د محمدﷺ په پیغمبرۍ مې ایمان درلوده.

**اسلام ته بېرته راګرځېدل:**

د څه مودې لپاره کلیفورنیا ته ولاړو تر څو خپلو پلرنې خپلوانو سره و اوسېږو هلته مې یو کال تېر کړ خو داسې مې احساس کړه چې زه ګناه کومه، له ځانه مې وپوښتل چې ولې لمونځ نه کومه؟ ولې مې اسلام ته شاکړې ده؟ ولې خپلو مسئولیتونو ته متوجه نه یمه؟، همدا وه چې هلته یوه جومات ته ولاړم هلته مې (جماعت و تبلیغ) والا ورونه وموندل چې ورسره ملګری شومه، څلور میاشتې مو په بیلابیلو هېوادو (پاکستان، بنګلادېش، هندوستان) کې تېرې کړې او پدې موده کې مې یو څه شیان د اسلام په اړه یاد کړل او په همدې لږه پوهه پدې د تل لپاره قانع شومه چې اسلام د انسان د ژغورلو لپاره

هم پدې دنيا کې او هم په هغې نړۍ کې يواځينی دين ده او دا ژغورنه به هغه وخت کېږي چې يو کس د الله عبادت پداسې شکل وکړي لکه څنګه چې يې هغه له موږه غواړي.

اوس زه بوسنيا ته روام يم تر څو هلته له هغو مظلومو مسلمانو وګړو سره په جهاد کې ونډه واخلم چې دا ډېره موده د کفارو په ظلم کې پراته دي، زموږ د مرګ نېټه معلومه ده او هماغه وخت به مرو خو کله چې مسلمان پوهېږي چې کفار هېڅکله ورسره دوست کېدای نشي نو بايد له هغوی څخه لاس واخلي او پرېږدي يې، خو متاسفانه چې زيات هېوادونه له امريکا سره دوستانه اړيکې لري چې بايد ونه لري يې همدارنګه زيات مسلمانان د ماديـاتو پخاطر خپل دين هم پرېږدي.

## ديو امريکايي شاعر، منتقد او ليکوال کرنل دونالد اس راکويل مسلمانېدل

د اسلام سادګي، د مسجدونو جذابه او قوي فضا، اسلام سره يې د پيروانو بې کچه مينه او د ميلونونو تنو لمونځونه چې هره ورځ يې پنځه وخته ادا کوي دې ټولو زما مينه له اسلام سره زياته کړه خو د خپل ايمان راوړلو لپاره مې قوي منطقي دلايلو ته اړتيا وه.

د ژوند زړه راښکوونکی دود، د مشورې او توصيې دود، د مرستې او ترحم دود، د بشر حقوق او د ښځو حقوق دا ټول هغه فکتورونه دي چې که يو دين يې ولري د هغې د ښه والي او بدوالي اندازه له ورايه څرګندېدلای شي. اسلام محدود نه ده او که هر څوک ورته وغواړي راتللی شي. حضرت محمدﷺ اصحابو کرامو ته ويلي دي چې نورو دينونو سره نېکه رويه کوی او همدارنګه يې ټول پيغمبران لکه حضرت ابراهيم، موسی او عيسیعليهم السلام د يو رب له لوري رالېږلي وبلل چې دا خپله هم نورو دينونو ته د احترام يوه ښه بېلګه کېدلای شي. خپلواکي او له بتانو لېرې کېدل د ايمان قوت ده، د حضرت محمدﷺ ښوونې يواځې د هماغه وخت لپاره نه ولې بلکه هغه قرآنکريم چې ټولې الهی ښوونې پکې يوځای شوي تر قيامته پورې باقي ده او د ټول انسانيت لپاره د نېکمرغۍ سرچينه ده. د اسلام منځلاريتوب زما قناعت نور هم پياوړی

کړ لکه د روغتيا په برخه کې چې حضرت محمدﷺ خپلو پيروانو ته د نظافت په اړه او يا د خوراک او څښاک په اړه د پاملرنې کومه خبره کړې ده. د استانبول، اداماکس، جيروسالم، کايرو او نورو مسجدونو زه له خداياپالنې سره روږدی کړم، واقعاً مسجد د تعمق ځای ده. خپلو پيروانو د اسلام لخوا ورکړل شوې خپلواکي راته له ورايه څرګنده شوه د بېلګې په توګه د لمانځه په وخت کې ګدا او بډای په يوه صف کې ودرېدل چې له ډېرو غوره بېلګو ځينې ده، مسلمان الله سره د خبرو په وخت کې او يا هغه ته د توبې کولو په وخت کې هېڅ کوم دريمګړی په خپل منځ کې نه مني او مخامخ له اللهﷻ څخه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړي.

د اسلام نړيوالتوب او ورورولي چې هېڅ کومه ځانګړې ژبه، قوم او يا هم سيمې پورې تړلی نه ده يوه بله ښه وجه وه چې زما د اسلام راوړلو سره يې مرسته وکړه.

## د محمد سيد د مسلمانېدو کيسه

د (دغه ده لمر له لويديځه راخېژي) نومي کتاب ليکوال د محمد سيد د مسلمانېدو کيسه داسې ليکي:

يو ملګري مې د محمد سيد د تيلفون شمېره راته راکړه او ماورته زنګ وواهه ترې مې وغوښتل چې د (اسلام پر لور سفر) راته راوليږي ډېر نرم مزاجه نفر ښکارېده.

محمد سيد شپږڅلوېښت کلن ده، پلار يې له امريکې څخه ده او مور يې مکزيکې ده او خپله د (الپاسو تکزاس) په ايالت کې زېږېدلی ده.

## کليسا تر سوال لاندې

کله چې ځوان ومه نو د اسلام پر لور مې سفر پيل شو، يا په ساده ډول يې ووايم کله چې په څه ناڅه پوه شوم نو زما په مغز کې د عېسويت او په تثليث عقيده راپېچکاري شوه خو ماته سمه عقيده نه ښکارېده او تل به مې له نورو څه پرې غوښتل خو چا هم سم ځواب نه راکاوه کله چې په ۱۹۶۸ کال کې پوليسو ته ننوتم نو هلته مې ډېر نور څه هم وليدل، بيخي په يوه بې دينه انسان

بدل شومه او دا هم ډېر اسانه ویل کېدای شي چې ولې؟ ځکه هلته د کلیوالو خلکو ډلییزه وژنه زمونږه بیخي مسلک وګرځېده او که به مو له کشیش نه ددې په اړه ځواب غوښته هغه به ویل چې دا یو راز ده او ته یواځې په خدای باندې عقیده لره.

**د یو شي په لټون**

ما دویم ځلي واده هم وکړ او دوه بچي مې درلودل خو خوښ نه ومه ځکه چې ما باید څه پیدا کړي وای، په همدې شاوخوا کې د مراکش پر سفر وخوځېدم او هلته د طنجې په کونسلګرۍ کې مې دنده پیداشوه، همالته له اسلام سره هم آشنا شوم، هغه اسلام نه چې مونږه ته خلکو او یا مجلو او اخبارونو را پېژندلی وه بلکې دلته مې خپله لمونځ کوونکي لیدل چې پنځه وخته لمونځ کوي، یود هغو له جملې څخه زمونږه کوروالا هم وه چې ډېر صبور وه او نور خلک یې ډېر خوښېدل نوما له ځانه سره فکر وکړ چې حتماً پدې دین کې څه شته چې دا سړی یې هم متابعت کوي.

نولس کاله ووتل او ما به لږه مېالعه ددې دین په هکله هم کوله خو څه مې چې وموندل له هغه څه سره چې زه پکې لوی شوی ومه او یا مونږه ته خلکو ویلي ول ډېر بدل ول لکه د اخلاقو، عبادت او عقیدې توپیر...

نولس کاله مې د سلو هېوادو په شاوخوا کې وګرځېدم او ډېر ځله به مې د همدې اسلامي هېوادو کې دندې لګېدلې او په همدې کلو کې د لسانس او مافوق لسانس درجو ته هم ورسېدم.

**شهادتین**

په ۱۹۹۲ کالالله راباندې پوره رحم وکړ او ماته یې د خیر پر لور لارښوونه وکړه، د همدې کال د جون په میاشت کې مې د لاورنس کنزاس په اسلامي مرکز شهادتین د خپلې ښځې نورو ملګرو او د اسلامي مرکز د مشر په مخ کې وویلې، لدې وروسته زما یوه ملګري زه تشویق کړمه او له ما به یې دفاع هم کوله خو ولې ښځه مې دومره چندان خوښه نه برېښېدله ځکه چې هغه کومه مذهبي انجلۍ نه وله خو له لږې موده وروسته خدای رحم وکړ او ښځې مې

هم شهادتین وویلې چې دواړو مونږه له سره په اسلامي طریقې باندې واده وکړ.

### څنګه مې ژوند بدل شو؟

پوهه او علم، حقیقت او ریښتینولي، سوله او ارامي، مینه او وروروليي، له کورنۍ سره مینه له نورو ملګرو سره مینه دا او سلګونه داسې نور لاملونه ول چې زه یې د اسلام سره وتړلم خو انسان کولای شي دغه بدلونونه په ځان کې راولي ولې هغه وخت چې الله ﷻ اراده وکړي او وغواړي چې نوموړي ته لارښوونه وکړي.

له کله نه چې زه مسلمان شوی یمه نو زما په ژوند کې پوره بدلون راغلی ده او زیاتې پېښې مو لیدلي دي، له یوې پاک لمنې مسلمانې ښځې سره مې واده وشو، داسې تغیر مې په ژوند کې راغی چې ما هم باورنه کاوه، زمونږه سرګذشت په زیاتو مشهورو کتابون کې چاپ شوی ده، ما او زما ښځې په خپل ژوند کې هېڅکله هم داسې نېکمرغي نه وه لیدلې خو اوس له الله څخه ډېر شکرګذاره یو.

## د پاول اوبارټلټ د مسلمانېدو کیسه

(دغه ده لمر له لویدیځه راخېژي) کتاب لیکوال لیکي: زوی مې په واشنګټن ډي سي کې له اورباټلټ سره آشنا شوی وه، همالته یې نوموړي ته زما د کتاب لیکلو په اړه ویلي ول او ورڅخه یې غوښتلې و کچېرې غواړي خپلې تجربې له نورو مسلمانو ورونو سره شریکي کړي نو یوه مقاله دې د خپل اسلام راوړلو په هکله ولیکي نوموړي (اورباټلټ) ورته ویلي ول چې له پخوا څخه تیاره یوه لیکل شوې مقاله لري او هماغه به راولیږي چې بیا یې هماغه راولیږله، تر اوسه پورې زه له پاول سره اړیکه ساتم او تل ورته له خدایه د ستر رحمت غوښتونکی یمه. لاندې یادښت یې هم له مقالې سره یوځای رالیږلی وه: ګرانه وروره محمده! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، هیله لرم چې تاسې په خپلو چارو کې بریالي واوسۍ مخکې لدې چې مقاله درته درولېږم ددې لپاره لږ تم شوم چې تاسې خپل کورته بېرته راوګرځی، که ستاسې یاد وي

نو هغه شپه مو چې (دارالهجره) کې تاسې ته د خپلې کیسې په هکله وویلې تاسې له ما څخه وغوښتل چې دا کیسه باید یو ځل تر پایه ولولی نو ما هم ځکه درته راولیږله.

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته: پاول بارټلټ

بسم الله الرحمن الرحيم

أشهد أن لا أله ألا الله وأشهد أن محمد رسول الله

له یوه لوري د ټولو هغه خلکو لاره چې مسلمانان دي یوه ده او له بل لوري دې دین ته د ننوتلو زیاتې لارې شته دي ځکه چې هر چا د خپل دین د غوره کولو لپاره یوه ځانګړې لاره غوره کړې ده، انشاء الله دا وړوکي لیکنه به دا وښيي چې زه څنګه د بیا ځل لپاره زیږیدلی یم. زه شپږ څلوېښت کاله عمر لرم او په امریکا کې زیږیدلی او لوی شوی یم. تر هغه ځایه چې خبر یمه زمونږه د کورنۍ هیڅ غړی هم کله مسلمان نه وه تیر شوی، پوهنتون مې لوستلی ده او متاسفانه تر اوسه پورې مې واده نه ده کړی. په یو کمپیوټري شرکت کې مې زیاته دنده سرته رسولې ده. پلار او مور مې د پروتستانت مذهب غښتلي پیروان ول نو طبعاً زه هم پروتستانت ومه، والدين به مې تل کلیسا ته تلل او کلیساته يې ډېر خدمت هم کړی ده. په کوچنیوالي کې کلیسا ته ولاړم او هلته مې اخلاقي لومړني ارزښتونه وپیژندل او تر هغې وروسته یوې مدرسې کې داخل شوم او نوموړي ارزښتونه نور هم قوي شول. زمونږه مدرسه داسې ځای کې وه چې غالباً ټول خلک يې منځنۍ طبقه وه خو بیا مو هم ژوند خوښ نه تیریده، زما کوچنیوالی او ځواني دواړه په همدې نارضایته ژوند کې تیر شوي دي، د ژمي په یوه شپه کې زمونږ له کوره وړاندې یوه ځنګله ته ولاړم تر څو خدای هلته پیدا کړم ځکه ما باور درلوده چې خدای هماالته شته دی، دا کار مې په درې دیرش کلنۍ کې پیل کړ او دغه درې هفتې مخکې مې نوموړی دین ومونده چې اسلام ده او مسلمان شومه.

**د اسلام په اړه**

ما لکه د نورو نامسلمانو وګړو غوندې په وړوکتوب کې له اسلامه ډېر کم څه اوریدلي ول یوائځې دومره پوهېدلم چې یوه ډله شته ده چې محمدیان یې بولي یا به مې د راډیو یا اخبار نه د محمدیانو د ډلې نوم واورېد، او دا هغه څوک دي چې په دښتو کې ګرځي او اوښانو باندې سپریږي، یو مشر یې درلود چې محمد نومېده او ددې ډلې نوم هم د هماغه له نوم څخه واخستل شو، نوموړی ځان پیغمبر بولي او یو کتاب لري چې قران ورته وایي. دغه وه د اسلام په اړه زما پوهه.

کله مې چې د پوهنتون زده کړې پای ته ورسولې نو د محمدیانو په هکله مې معلومات پیاوړي شول، متوجه شومه چې ددې ډلې سم نوم (مسلمان) ده، پوه شومه چې ټول یې په دښتو کې ژوند نه تیروي او همدارنګه دامې هم زده کړل چې دوی له یوې مخې ټول عرب نه دي بلکه هو دومره ده چې زیات عرب مسلمانان دي. زمونږ په پوهنتون کې ددوی په هکله هېڅ هم نه لوستل کېده او زما په یاد دي چې هېڅ محصل هم د قرآنکریم کومه نسخه نه ولوستې یوائځې ما په دوه ویشت کلنۍ کې یوه نسخه په غالب ګمان د پیکال ژباړه پیدا کړه خو هغه وخت یې هېڅ کومه اغیزه راباندې نه لرله.

مسیحیت زما لپاره قناعت نشو راکولای او نه یې زما ټولو پوښتنو ته سم ځواب راکولی شو، زه له زلمیتوب راهیسې د مسیحیت په اړه څېړنو باندې بوخت ومه خو له پریشانۍ پرته مې پکې نور څه ونه موندل. د مقدس کتاب مې په څو څو کرته له الفه تر یا ولوسته، او انجیل خو مې په اوو بېلابېلو ژبو هم مبالعه کړ ولې څومره به مې چې مبالعه زیاتېدله هماغومره به مې پر مسیحیت شک هم پیاوړی کېده، یو وخت د ارتودکس مذهب پلوي شومه او انګېرله مې چې ګنې سمه لاره مې ومونده. په شل کلنۍ کې دوه نور ستر عوامله ددې سبب شول چې زه له مسیحیت څخه لرې والۍ غوره کړم. لومړی عامل

(که څه هم په هغه وخت کې ځانګړې پرې نه پوهېدم) یوه پریشاني او لار ورکي وه چې زه ورسره مخ شوی وم، هېڅ مې نشو کولای د ژوند پر چارو

بريالۍ واوسم، د هر كار په كولو به يو ډول ذهني فشار سره مخ كېدم او مسيحيت پدې بريالۍ نشو چې زما ددې پريشانۍ مخه ونيسي. دويم عامل زما يو نژدې ملګرۍ وه، نوموړۍ ملګرۍ مې د بودايزم مذهب پلوي وه او ما نه غوښتل چې زما يو ښه دوست دې (زما په اند چې هغه وخت مې لره) په ناسمه لار روان شي نو د همدې لپاره مې د مسيحيت پر غوره والي او بودايزم په خرابوالي كار پيل كړ تر څو مې هغه ملګرۍ لدې ناسمې لارې څخه رامنع كړم.

دلته د يادونې وړ بولم چې ولې ما تر اوسه پورې ښځه نه ده كړې؟ دا داسې يوه پوښتنه ده چې ښايي تاسې يې په ځواب پوهېدلي اوسئ خو زه هم غواړم يو څه يې روښانه كړم، د امريكا په كلتور كې داسې ده چې هلك يا انجلۍ به خپل ځان ته جوړه خپل ټاكي او د هغې لپاره يې بايد له وړاندې تصميم نيولى وي دا پدې معنى چې بايد له مخكې نه كه انجلى وي له هلك سره لاره ولري او كه هلك وي له انجلۍ سره لاره ولري كه داسې نه وي نو وروسته بيا د جوړې په پيدا كولو كې ستونزو سره حتماً لاس او ګريوان كيږي، زه يو له هغه هلكانو څخه وم چې پدې اړيكو نه پوهېدم او د پوهنتون په وخت كې مې هم له كومې انجلۍ سره اړيكي ساتلي نه دي او داسې انګيرم چې ښايي هغه وخت مې څه رواني ناروغۍ درلوده، نو د همدې اړيكو د نه درلودلو له كبله دغه ده تر اوسه بې واده پاتې يم او اوس د يوې ښې جوړې په پيدا كولو كې شكمن يم هغه هم پدې خاطر چې داسې څوک نشته چې راسره پدې لاره كې مرسته وكړي.

## د بودايزم منل او بېرته خوشې كول

كله مې چې د بودايزم په هكله لوستل پيل كړل نو له مسيحيته مې ورو ورو ځان لرې كړ آن تردې چې پوره بودايي شومه، كله مې چې بودايزم ومانه نو يو څه خپلواكي راته تر نظر رسېده خو بيا هم د شكونو مل وم، كله به مې زړه ويلې چې نه دا همدا ستا وروستنۍ دين ده او د رهبانيت لپاره مناسب حالات لري نو ځكه مې له ځانه راهب جوړولو باندې خواري پيل كړه او د يو راهب د

لاس لاندې به روزل کېدم، یو ځل بیا مې نوموړي شیان ټول پرېښودل او بېرته خپل د اوسېدنې ځای ته راوګرځېدم.

**د اسلام په لټه**

تر دې دمه مې د اسلام په اړه ډېره کمه پوهه درلوده، له ځانه سره مې فکر وکړ چې ولې د اسلام په اړه څه پوه نه شمه نو له ځانه سره مې هوډ وکړ چې زمونږ په ښارکې یواځیني مسجد ته سر ورښکاره کړم، هلته چې لاړم یواځې دوه نفره مې وموندل چې په ماته ګوډه انګلیسي یې راسره خبرې اترې شروع کړې او راته یې وویلې چې د ښار په ښکتنۍ برخه کې زمونږه یوه غونډه د جوړېدو په حال کې ده او هلته به ستا ټولو سوالونو ته مناسب ځوابونه درکړل شي زه هم ورسره ولاړم.دا ډول غونډې اصولاً د ایمان د تقویې په خاطر جوړیږي او نویو مسلمانانوته لازمه نه ده چې هلته ولاړ شي ځکه چې بیا له ځانه سره د زیات کړاو فکر کوي. زه هلته له څو امریکایانو سره مخامخ شوم چې ډېر ښه په انګلیسي ژبه پوهېدل او له ماسره یې له مینې ډک رفتار هم وکړ. هر وخت به مسجد ته تلم راتلم او د اسلام په اړه به مې پوښتنې کولې تر دې پورې چې اسلام راته یو بل رقم دین ښکاره شو او د مسلمانېدو هیله مې بېرته سره شوله.

**د قرآن لوستل**

پدې کلونو کې به مې چې څومره کتابونه پیدا کړل نو لوستل به مې او یو ځل مې د قرآن ژباړه هم پیدا کړه چې په انګلیسي ژبه وه او څو ځله مې مېالعه کړه، په همدې مېالعو کې زه د شرکت مدیر ویرجینا ته په یوه سفر ولېږلم چې اوس هم د شپږ کلونو راهیسې همالته یمه، دلته مې اسلامي مرکز سره د تړاو له کبله له اسلام سره مینه همداسې ژوندۍ پاتې شوله.

**پرانیستی کور**

یوه ورځ له دفتر د چکر وهلو په نیت ووتم او په داسې لاره باندې لاړم چې ډېر کم به له هغې لارې تللم، هلته مې د منارې تر څنګ په یوې نوې ودانۍ سترګې ولګېدلې، موټر مې پارک کړ او ننوتلم، یو څه عجیبه څیزونه مې ولیدل

بېرته تـرې لاړم بلـه ورځ بيـا پـه هماغـه لاره روان وم چـې همـدې ودانـۍ تـه ورسېدم، داخل يې د رغاوي کار يو څـه پـوره شـوی وه، د ننـه ورغلـم چـې پـر يوې لوحې مې سترګې ولګېدې او حيران پـاتې شـوم، پـه لـوحې يـې ليکلـي ول چې (د هر چا لپاره پرانيستې کور) زه وړاندې ورغلم او هلته پکې يو څه خلک شته ول، هغوی زما دومره تود ښه راغلاست وکړ چې د خپلې کورنۍ احساس راکې پيداشو او کله مې چې وويلې زه د اسلام په اړه په مېالعې بوخـت يـم نـو بيخي خوښ شول. کله چې خبر شوم چې دوی هره يکشنبه د ماښام له لمانځـه وروسته د پوښتنو او ځوابونو لړۍ په انګليسي ژبه لري نو خورا خوښ شومه او هر وخت به ورته تللم، واقعاً ډېرې ګټورې ناستې ولې، خو هغه وخت بـه راتـه لږې سترې کوونکې شوې چې له انګليسي نـه بـه پـه عربـي د خبـرو کولـو لـړۍ اوږده شوه ځکه چې زه خو په عربي ژبه نه پوهېدم، ما لدې ناسـتو پرتـه ځينـي ځانګړې ناستې هم درلودې چې ډېرې ګټورې راته تمامې شوې.

**روحي هڅونه**

ماته د بې دينۍ په وخت کې روحي نـاروغۍ پيـدا شـوې وه او نـه مـې شـو کولای د هر څه په اړه سم سوچ وکړم نو ځکه مې روح نشو منلی چې اسـلام د زړه له تله ومنم او يا هغه څه چې راسره دي پرېږدم له همدې ذهني ګـډوډيو له امله په مياشت کې څلور ځله بستر شوم خو اوس الحمدلله ښه شوی يـم نـو ژوند مې راته بيخي تريخ شـوی وه. د ډېـرو کلونـو لپـاره مـې يـوه شـرکت سـره کمپيوټر کار په برخه کې کـار کـاوه او اوس لـه امرېکـې سـره د همـدې شـرکت لخوا شوي قرارداد باندې چاپېر وو خو زمـا نـاروغۍ بـه دومـره سـختېدله چـې دېته به يې اړباسلم تر څو دا دنده پرېږدم او پرېښوده مې.

له دندې پرېښودو وروسـته نـو وخـت رابانـدې سـخت تېرېـده ځکـه هـېڅ د ساعت تېرولو کومه ځانګړې لاره مـې نـه درلـوده، هـوډ مـې وکـړ چـې نـور بـه کامپيوټر سره هم نه نژدې کېږم او تر ډېره وخته نژدې هم نشوم، مـا يـو قيمتـي کمپيوټر درلوده او له هغې سره به مې ساعت تيـراوه خـو لـه نـاروغۍ سـره مـې ددې ملګرتيا هم پرېښوده، هغه څه يعنې اسلام مې چې منلی وه نه مې غوښتل چې د ډېرو ستونزو سره سره يې هم پرېږدم ځکه چې زمـا زړه ماتـه ويلـې چـې

که غواړې وړاندې لاړ شې نو همدې لياره کې پرمخ ولاړشه. زما انټرنټ ياد نه و او دا اوس نو د هغې د زدکړې لپاره د سرو زرو چانس په لاس راغلی وه ځکه چې کافي وخت مې درلوده، له يوې کمپنۍ سره مې د انټرنيټ په اړه خبره وکړله او زده کړه مې يې پيل کړه.

**د اسلام په لاره**

کله مې چې په انټرنټ کې کار کاوه نو يوه ورځ ناڅاپي د soc.religion.islam د مسلمانانو ځانګړي سايټ پر لور ولاړم او ماته زيات ګټور وه، په ياد سايټ کې مې ډېرې اسلامي ليکنې، مجلې او نور شيان په وړيا ډول لاسته راوړل چې زه يې ډېر هيله من کړمه. پدې پاڼه کې مې ځان راجسټر کړ او ترې مې د نويو مسلمانانو کيسې او د رواني ناروغانو په اړه معلومات وغوښتل هغوی ډېر څه د يادو موضوعاتو په اړه راته راوليږل او زه هم په نني زړه کې د يوائځې يو خدای په شته والي متقاعد شوم، ما دا منل چې دا نړۍ يو ذات پيدا کړې ده او هماغه پرې حکمراني کوي چې هغه ذات الله ده خو دا مې ښکاره کړي نه ول يعنې زما د ايمان ښکاره برخه چې د شهادتينو ويل وه لا پاتې وه او ما دا ويلې چې زه څنګه ومنم چې رسول الله ﷺ د الله ﷻ له لوري ورواستول شوی او ليږل شوی پيغمبر ده؟

ما له ځانه سره تېرې شوې پېښې له سره وکتلې او ځينو پوښتنو ته متوجه شوم چې راته پيدا شوې، نوموړې پوښتنې دا وې: آيا د (ليزبرګ پايک) پر لور تلل چې هلته هغه نوی مسجد جوړېده زما تلل يو ناڅاپي پېښه وه او که نه؟ آيا زه له کومې بلې لارې تللی نشوم؟ آيا د مسلمانانو د ځانګړې ويبپاڼې پيدا کول يو ناڅاپي پېښه وه او که يې؟ آيا د يو مسلمان لخوا يو ځل ماته د قرآن د څو آياتونو تفسير ليږل چې زه يې پکې فکر کولو ته وهڅولم يوه ناڅاپي پېښه وه او که نه؟

**وروستنی مانع**

يوه ورځ يو ورور راته د قرآنکريم د څو آياتونو تفسير راوليږه، په يادو آياتونو کې مې ومونډل چې حيوانات هم د قيامت په ورځ محشور کېږي، زه

دې خبرې لږ متعجبه کړم ځکه داسې شی خو په مسيحيت کې ما نه وه ليدلی، مسيحيت يوازې پدې عقيده لري چې حيوانات د انسانانو د ګټې لپاره پيدا شوي دي او د حساب او کتاب کومه ځانګړې معامله نه لري، ما بېرته د انټرنيټ له لارې له نومونړي ورورو پوښتنه وکړه او د هغې ځواب ته سترګې په لار شوم خو موضوع مې بيخي شاته پرېښوده اما د يو څه وخت تېريدو وروسته د قرآنکريم د لوستلو په جريان کې مې دا موضوع تر سترګو شوه:

﴿وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا طَٰٓئِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيۡهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمۡثَالُكُمۚ مَّا فَرَّطۡنَا فِي ٱلۡكِتَٰبِ مِن شَيۡءٍۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يُحۡشَرُونَ ٣٨﴾ [الأنعام: ٣٨].

ژباړه: «په ځمکه کې خوځيدونکي کوم ساکښ او په هواکې په وزرونو سره الوتونکي کوم مارغه ته وګوری! دا ټول همدا ستاسې په څېر انواع او ډولونه دي، مونږه د هغو د تقدير په ليکنه کې د څه نيمګړتيا نه ده پريښې، بيا دا ټول د خپل رب لوري ته ورغونډيږي».

دې خبرې زما زړه خپل لوري ته يوړه، زه خو په عربي دومره نه پوهېدم نو په نورو ژبو ژباړل شوي قرآنکريمونه مې راواخيستل او د سني او شيعه دواړو تفاسير مې وکتل خو ومې ليدل چې موضوع په دواړو کې يوه ده، بيا مې نورو ملګرو ته په نومونړې ويبپاڼې کې بريښناليکونه واستول هغوی هم ځيني احاديث او له قرآن څخه نور نقل قولونه راته راوليږل. ما له حيواناتو سره زياته مينه لرله او په خپل کور کې مې دوه پيشو ګانې هم ساتلې ولې، موضوع دلته د حيواناتو په اړه دا وه چې د هغوی اهميت يې ښوده چې د قيامت په ورځ به لکه دانسانانو او پېريانو غوندې خپل د رب لوري ته راغونډيږي.

**زما ننی هڅونه**

د نه زړه کې مې هڅونه زياته شوه خو ولې په وروستنی مانع مې نشو کولای چې بريالی شمه، زما د انټرنټ يوه ملګري هم راته وويل چې خپله مبارزه جاري وساته، خو يوه ورځ د رمضان په اومه شپه مسجد ته ولاړم، يو عجيبه ډار راته په زړه کې راننوت وروسته پوه شوم چې سباته د جمعې ورځ ده او دلته به د جمعې لمونځ اداء کيږي، سباته د مسجد پر لور بېرته راوخوځېدم، موټر مې په پارکينګ کې ودراوه او د مسجد پر لور روان شوم، زه نه پوهېدم

چې له مسجده به کافر بېرته راوځم او که مسلمان؟ هلته د اسلامي مرکز له مشر سره د ډېر وخت لپاره کښېناستم، ډېر اوږده بحثونه مو وکړل، يو وخت چوپ شومه او بله خبره مې د ويلو لپاره نه لرله، له کړکۍ څخه مې بيرون ته کتل او پوهېدمه چې څمکه او يا دا ټول شيان راپورې خاندي، زما درې ديرش کلنه مبارزه همدلته پای ته ورسېدله او کورته ولاړم، غسل مې وکړ، پاکې جامې مې واغوستې او بېرته مسجد ته راغلم دلته مې دا ځل د شهادتينو تکرار د ټولې اجتماع په مخ کې وکړ.

### اسلام ته راګرځېدنه

کله مې چې ايمان راوړ نو پوه شومه چې زه له سره وزېږېدم، خو لاتر اوسه مې کوم اسلامي نوم ځانته نه وه غوره کړی، کله چې يو څوک نوی ايمان راوړي نو بيا د همدې په فکر کې وي چې نوی اسلامي نوم ځانته غوره کړي خو ماته دومره پته وه چې په اسلام کې نوم بدلول هغه وخت لازم وي چې نوم کې يې شرکي کلمات وي او بل دا چې پکې څه زشت غوندې نورې خبرې وي خو زما په نوم کې هېڅ داسې څه نه ول يواځې، له بلې خوا که ما خپل نوم بدل کړی وای نو په دوو نومونو به يادېدم په اسلامي ټولنه کې په يوه نوم او په غير اسلامي ټولنه کې په بل نوم نو ځکه مې ځانته بل نوم کينښوده بله خبره دا وه چې غوښتل مې کوم نوم چې راباندې پلار او مور ايښی هغې ته په احترام قايل شم ځکه اسلام مونږه ته د مور او پلار په هکله د احترام درس راکوي.

### د سندي وبر د مسلمانېدو کيسه

د نيو هاريزن د مدرسې مرستيال سندي وبر ته الله پاک په زړه پورې شخصيت ورکړی ده، تل له هغه سره د خبرو کولو نه خوند اخلم، د ډېر وخت لپاره عيسوي مبلغ وه خو الله چې چاته وغواړي هدايت وکړي کوي يې، سندي وبر ته هم اللهﷻ لارښوونه وکړه او دغه ده اوس د اسلام لپاره د بلنې مسئوليت سرته رسوي.

نوموړې وايي: له اسلام سره زما لومړنی پېژندګلوي په ١٩٨٣ کال کې وشوه هغه وخت چې زه په کينيا کې معلم وم، د يوې مسيحي مدرسې معلم

ومه، اوس هم ځيني وخت هلته ځمه تر څو مې ملګري هم ليدلي وي او تفريح مې هم شوي وي. زمونږ په شاوخوا کې يوه ډله وګړي ول چې ډېر ښه ژوند يې درلوده، د خپلو اصولو ډېر پابند ښکارېدل، هېڅکله يې نشه يي توکي نه استعمالول، چې زما توجه يې د ځان پر لوري واړوله او وروسته د يو ملګري لخوا راته وويل شول چې دوی مسلمانان دي. زه په همدې کال امريکا ته ولاړم او څلور کاله وروسته مجبور شومه چې خپل مذهب بدل کړمه ځکه کاتوليک نشو کولای زما ټولو پوښتونو ته ځواب ووايي، تل به په جشنونو کې شرابونه څکل کېدل او خلک به همېشه سرګردان ول. په ١٩٨٧ کال کې مې جدي تصميم ونيوه چې بايد خپل مذهب بدل کړمه، په نايروبي کې مې چې کوم خلک ليدلي ول هغوی مې په ياد راغلل، زه دلته په شيکاګو کې اوسېدلم، شاوخوا مې لټه وکړه او يو مسجد مې پيدا کړ له هغه ځايه مې اسلامي کتابونه د لوستلو لپاره واخستل او بالاخره مې يوه اونۍ وروسته اسلام په بشپړ ډول ومانه او شهادتين مې په ژبه راوړل. دا ټول شيان زما د خپلې خوښې په اساس وه او له کوم مسلمان سره ملګرتيا دې ته نه يم اړ کړی چې زه د اسلام په اړه څېړنه وکړم او د دين په توګه يې ومنم. اوس د يو مسلمان په توګه خوښ ژوند تېروم، روحي او جسمي تفريح او خوښۍ مې ټولې په اسلام کې موندلې. دا اوسمهال د کاليفورنيا په نيوهاريزن مدرسه کې کار کوم او وروسته له وخته د حقوقو پوهنځۍ لولم، دوه بچي لرم چې يو يې اته کلن او بل يې پنځه کلن ده.

## د حسن پففر کرن د مسلمانېدو کيسه

کله چې د هاجر له خولې خبر شومه چې وراره يې هم مسلمان شوی نو ما و انګېرله چې د اسلام ستره کورنۍ ورځ په ورځ لويېږي، له ځانه سره مې دا تمه پيدا کړه تر څو له نوموړي سره وګورم خو خبر شومه چې د لاس انجلس په سفر وتلی ده تر څو کوچنۍ اختر همالته تېر کړي، کله چې زه د لاس انجلس اسلامي مرکز ته ولاړم نو هلته مې ومونده او ما ورنه (د اسلام پر لور) د يونليک د ليکلو غوښتنه وکړه هغه راته اجازه راکړه تر څو نوموړی يونليک

چې پخوا یې په کلیفرنیا کې یوې مجلې ته ورکړې وه واخلم او خپل کتاب کې یې هم چاپ کړم.

**مهربانه کورنۍ**

زه په یوې نسبتاً متعصبې مسیحي کورنۍ کې پیدا شوی یم او د لوئېدو سره سم مې مور او پلار راته د کلیسا تګ او هلته د څه غوښتلو دود راښوولی ده، واقعاً چې ډېر مهربانه مور او پلار مې درلودل، تل به یې د نېکو اخلاقو درس راکاوه، له نشه یي توکو او فساد څخه به یې لرې ساتلم، زه ډېر نېکبختی ومه چې داسې مور او پلار مې خدای په نصیب کړي ول، همېشه به یې زما د تحصیل خیال ساتلو او حتی زما دخبرو کولو په اړه به یې هم راته لازمې لارښوونې کولې، ماسره یې په ټولو پوهنیزو او ټولنیزو ستونزو په حل کې مرسته کړې، کله چې زه خپل وړوکتوب په یاد راولم نو راته یادیږي چې څرنګه مې پلار د لویدیځ د کرکجن او په هر څه ککړ ماحول نه زه روغ انسان راوویستلم له همدې کبله خپل مور او پلار نه ډېر منندوی یم چې ماسره یې دومره ستر مرسته وکړه او له دوی سره به زما مینه د تل لپاره وي.

ما په وړوکتوب کې له خپلو همزولو سره زیات توپیر درلوده، ما به همېشه ډېرې خبرې نه کولې او د نورو خبرو ته به مې غوږ ایښوده، تنهایي مې خوښوله او همداسبب وه چې لږ دوستان مې لرل، زما ډېر ملګري هغه وخت پیدا شول چې ما د کسبونو زده کولو ته مخه کړه لکه توره وهل، کبان نیول....

تاسې به پوهېږئ چې کله څوک د چا کره مېلمه ولاړ شي نو لویان خبرې کوي او کوچنیان دباندې لوبو ته ووځي خو ما داسې نه کاوه او زیاتره وخت به مې خبرو اورېدو ته پر لوبو ترجېح ورکوله چې مور او پلار به مې هم دې ټکي ته متوجه کېدل خو ما به بیا پوهول چې زه باید ستاسې خبرې واورم، ما انګېرله چې لویان د ښو تجربو درلودونکي دي او زه باید له هغوی زده کړم چې د راتلونکي لپاره له کومو لارو زیات پرمختګ وکړم.

### پوهه د عقل په مقابل کې

ما خپلې زده کړې ته ادامه ورکړه خو په جریان کې یې متوجه شومه چې دا اسانه زده کړه ټول په دوه پوهې او عقل مقالو کې راغونډولی شو، ما خو یو څه پوهه لاسته راوړې وه خو عقل مې نشو کولای له کتابو راخیستی وای زه پوهېدمه چې عقل ذاتي څیز دی نه اکتسابي ما زیات شیان په مکتب کې زده کړل ولې د عقل لپاره به مې تل لویانو لورته ورتګ کاوه تر څو د هغوی له تجربو څخه استفاده وکړم ځکه هغوی خو پخوا دا ټول څیزونه تجربه کړي وي.

### نړیوال او مذهبي حقایق

د ادبیاتو په درسونو کې مې ځیني موضوعات چې نړیوال حقایق به یې نومول زده کړل لکه (قدرت د تل لپاره نه وي) خو په تاریخ کې مې بیا ددې عملي جنبه پیدا کړه داسې چې یوه لویه امپراطوری به له څو کلونو وروسته ړنګه شوه او بله به یې پر ځای د واک په ګدۍ کښېناسته، دا راته د حقیقت په جامه کې څرګند شو او زه هم د حقیقت په لټه کې وم ځکه د ژوند د حقایقو پیداکول د عقل اصلي هسته شمېرل کیږي. ما واورېدل چې د ژوند پر حقیقتونو د پوهېدلو لپاره مذهب یوه ښه لاره ده نو له همدې کبله مې هوډ وکړ چې مسیحیت هم باید یو څه ولولم او وګورم چې ماسره د عقل په برخه کې څومره مرسته کولی شي، ما د مقدس کتاب پیدا کړ او ښه مې ولوسته پایله کې مې دا زده کړل چې مسلمان او ایمانداره وګړي تل بریالي وي. ما د روحانیونو، راهبانو او کشیشانو په هکله مبالعه هم شروع کړه او ومې موندل چې له هغوی نه یو زیات شمېر نني (داخلي) ارامیو ته ر سیدلي ول او ددې لپاره له خلکو ګوښه شوي ول تر څو د دنیا، مادیت او خلکو په ناپاکو دامو کې ونه غورځیږي ما هم چې د دنیا په چاپېریال کې کومه ککړتیا لیده نه مې غوښتل چې ورسره ککړ شمه نو له ځانه سره مې پرېکړه وکړه چې د رهبانیت پر لور ولاړ شم او له نړیوالو ګوښه ژوند پیل کړم.

**په پوهنتون کې**

د رهبانیت د لارې له تاکلو وروسته پوهنتون ته ولاړم، ما غوښتل چې په کلیسا کې د ښو خلکو له ډلې واوسم او باید د ډېرو خلکو مشري راپه غاړه وي نو ځکه باید ما خپل ځان د مقدس پر کتاب پوره پوه کړی وای، هلته په پوهنتون کې مې د نورو محصلینو سره ګډ د مقدس پر څېړنه پیل وکړ، مونږه به هره ورځ خپلو منځو کې سره راټولېدو او له یوه بله به مو سوالونه کول، ما د مقدس کتاب د متونو په څېړنه او تنقید لاس پورې کړ ډېر داسې شیان مې پیدا کړل چې یواځې د څلورو لویو انجیلینو تر منځ د اختلاف برسېره پخپله په مقدس کتاب کې له نورو متونو سره په اختلاف کې واقع ول، ما به نوموړي متون ولیکل او بیا به مې د هغې اړوند سوالونه د بحث په مجلسونو کې له شاګردانو کول خو هېڅکله مې د خپلو سوالونو ځواب له چا څخه ونه موندو زه به متوجه شومه چې ګوندې سختې پوښتنې لدې خلکو څخه کوم بیا به د ځواب د موندلو لپاره کلیسا ته ولاړم خو هلته به هم کشیشانو په زړه پورې ځوابونه نه راکول او ما هم نه غوښتل چې هغوی له ځانه څخه خفه کړم بیا به مې د کلیسا د اختلاف سبب ترې وپوښته نو هم به یې ځواب نه راکاوه بالاخره یو وخت پوه شومه چې دوی هر یو د مقدس له متونو ځانګړی تفسیر اخیستی نوځکه یې هر یوه یوه ځانګړې لاره نیولې ده.

**د مذهب اړوند کلاسونه**

دا چې مې د مذهب له لوستلو خوند اخیسته نو د مذهب په اړه درسونو کې مې وغوښتل چې ګډون وکړم تر څو یو څه حقایق هلته ومومم، کله به چې استاد راته په ټولګي کې د مسیحیت له لیده یوه موضوع تشریح کوله نو ما انګېرله چې ګوندې استاد غیر دیني لیدلوری لري ولې کله به مې چې څېړنه وکړه نو واقعیت به هماغسې وه زما د استاد له موضوعاتو سره دلچسپي زیاته شوه او دې لوست ته مې همداسې ادامه ورکړه. د همدې درسونو له کبله مې د ختیځو سیمو له دینونو سره هم مینه پیدا شوه او غوښتل مې چې هغه هم مبالعه کړم په ځانګړې توګه زیاته مینه مې له بودائیزم سره لرله او ما هم د هغې په هکله لوستل پیل کړل، ما زده کړي ول چې د دین منځ انسان د عرفان له

لاري رسېدلی شي ما هم هوډ وکړ چې زه باید یوه موده په رهبانیت کې تېره کړم تر څو د ګوښه نشینۍ خوند هم وڅکم یا په بله اصطلاح عارف جوړ شم، ددې عارفانه ژوند کولو لپاره اسانه لاره ما بوداییزم ګڼله ځکه چې دا مذهب رهبانیت په خپلو مذهبي اصولو کې له ځانه سره لري نو له همدې کبله مې د بودائیزم په هکله پوره څېړنه پیل کړه.

څومره به چې د بودایزم پر لور نژدې کېدلم نو هماغومره به مې د مسیحیت د اختلافاتو په هکله پوهه زیاتېدله پایله کې مې تصمیم ونیوه چې د مذهبونو په هکله زیاته څېړنه وکړم او ټولو ته له بوداېزم سره ارتباط ورکړم وروسته متوجه شومه چې ډېرو خلکو پر بودایزم لیکنې کړي دي او همدارنګه و مونډل مې چې کوم شیان چې نن بودایان پرې معتقد دي د بودایزم له اساساتو سره ډېر توپیر لري لکه بودا په ډاګه ویلي چې خدای نشته خو بیا پیروان یې د ډول ډول خدایانو (بتانو) عبادت کوي چې یو ته بودا وایي او بل ته بل شی...

ما له خپلو ملګرو سره په مذهبي درسونو کې بیا هم برخه اخستله، هلته مو ډېر ښه پروګرام درلود داسې چې هره اونۍ به یو نفر د مېلمه په توګه راغی، هغه به خپل د دین په هکله تشرېحات ورکول او بیا به ترې ټولګیوالو پوښتنې کولې تر دې چې د ټولو پوښتنې به ختمې شوې او نوموړی مېلمه به رخصت شو.

پدې وروستیو کې مې له مذهبي جغرافیې لیکلو سره مینه پیدا شوه، ددې لپاره باید ما زیات دینونه مېالعه کړي وي نو شدیداً مې د (هند، ویتنام او ټایلنډ) هېوادونو د شته مذاهبو سره مینه پیدا شوه.

### مهاتما ګاندي او قرآنکریم

ما هوډ وکړ چې دوه کتابونه (قرآنکریم او د ګاندي ژوندلیک) باید له هر څه لومړی ولولم، دواړه کتابونه ما ته زیات جالب ول خو د قرآنکریم له صریحو الفاظو زیات متعجب شوم، او دې ته وهڅېدم چې د اسلام په هکله پوره څېړنه وکړم که هغه د کتاب له لارې وي او یا هم د انټرنټ، د انټرنیټ له لارې مې زیات شیان د اسلام د فهم په اړوند پیدا کړل، مسلمانانو تر اوسه نه ده پرېښې چې کتاب یې تحریف شي، ددې برسېره دا حقیقت مې هم ومونده

چې اسلام انسان ته د ژوند ټول قانون مخې ته ږدي او نه يې پرېږدي چې يـوه لحظه هم څوک دخدای له یاده غافل شي.

## په رمضان کې روژه نیول

زه دلته نشم ويلی چې ماسره روژې څومره مرسته کړې ده خو کله مې چې ومونډل مسلمانان په کال کې يوه مياشت روژه نيسي نو ما داکال د عقـل لپـاره يوه ستره تجربـه ومونډلـه او د خپلې د مېالعې د زيـاتوالي پـه خـاطر مې روژه ونيوله خو کوم معنوي خوند چې ما په روژه کې بيامونـده ډېـر عجيبـه وه او زه دغې روژې دېته هڅولم تر څو د خدای په يـووالي او د حضـرت محمـدﷺ پـه پيغمبری ايمان راوړم، ما به چې مسـيحيت تـه کـوم نظـر کـاوه نـو بيخـي بـه د روژې په مقابل کې راته ناهيلي کوونکی وه اګر که په مسيحيت کـې هـم داسـې څه شيان ول خو ولې پيروانو يې هېڅکله هم پرې عمل نـه ده کـړی، زمـا مينـه له اسلام سره زياتـه شـوه او ورو ورو مـې د اسـلام، اسـلامي قوانينـو، اسـلامي شخصيتونو شعرونو او نورو اسلامي مېالبو په هکله مېالعه ګړندی کړه.

په درسي ټولګي کې د اسلام په اړه بحثونه ماته ډېر ګټور او خونـدور ول او برسېره پردې چې هلته مې خپل زده کړې څيزونه تصديق شول بلکـې نـور ډېـر شيان مې هم زده کړل لکه د مسلمانانو د يو بل سره روغبړ چې د مخامخ کېدو په وخت کې بـه يـې (السـلام علـيکم) ويلـې، زه روژې او دې درسـونو پـه دې باندې متقاعد کړم چې الله يو ده او حضـرت محمـدﷺ د هغـه پيغمبـر ده خـو ولې يواځې همداشيان د مسلمان لپاره کافي نه ول مـا بايـد زيـات نـور څيزونـه هم پيدا کړي ول، ما د هغو دينونو په هکله چې له اسلام سره څـه ناڅـه اړيکـې لري لکه بهايي او سکېزم مېالعـه شـروع کـړه او دا ازمايـل مـې غوښـتل چـې دا دينونه هم زما پام خپل لوري ته اړولی شي او که نه.

## سکېزم او بهائيت

په دې دواړو مذاهبو کې مې زياتې ښېګڼې وليدلې خو ولې ډېر شـکمن راتـه ښکاره شول هغه داسې چې ددې مذاهبو بنسټ ايښودونکي دا دعوه کـوي چـې ګوندې دوی پيغمبران دي او ما خو پر دې پخوا دا باور درلـوده چـې حضـرت

محمدﷺ وروستنی پيغمبر ده ځکه هغه حقيقتونه چې د هغې په پيغمبرۍ کې نغښتي بل څوک يې نشي درلودلای په هر ترتيب چې دې دينونو ته مې هم شا کړه اوس يوائې دوه شيان پاتې ول چې نور مسلمان شمه، لومړی دا چې د مسلمانانو څه وګړو سره بايد وګورم او دويمه دا چې ځان پدې مېمئن کړم چې زه خو به د اسلامي ليکنو د لوستلو تر اغيزې لاندې نه يم راغلی. يوه ورځ په تدريسي ټولګي کې ناست وو او زيات ګڼونوال يې هم مسلمانان ول خو خوشبختانه چې استاد رانغی نو يو مسلمان ملګري له ما څخه وپوښتل چې ته ولې دلته په دومره په مينه راځې، ما ورته په ځواب کې وويلې چې زه غواړم مسلمان شم، هغه سړي په خورا خوښی ماته ښه راغلاست وويلې او له نورو ملګرو سره يې هم معرفي کړم، او همدارنګه راته يې وويلې چې مونږه به ستا پوښتنو ته هم ځوابونه ووايو او له اسلامي کنفرانس څخه يې هم خبر کړم چې ما هوډ وکړ تر څو پکې ګډون ولرم.

**شهادتين**

ما يو کتاب پيداکړ چې (ولې مسلمان نه يم) هغه مې له الف نه تر يا ټول په خورا غور سره مېالعه کړ او هغه دلايل چې دلته د کتاب ليکوال ذکر کړي ول ټول ولوستل او د خپلې پوهې سره مې مقايسه کړل ولې پوه شومه چې ليکوال کومې ستونزې درلودلې ټولې يې د مسلمانانو سره په وګړيز ډول لرلې او يا يې هم د ختيځ له کلتور سره لرلې خو لنډه دا چې ويې نشو کولای ما قانع کړي نو اسلامي کنفرانس ته ورغلم او هلته مې ډېر څه زده کړل دا چې ما ځانګړې د ګډون کارت درلوده نو څو نويو نورو مسلمانانو سره مو هم وليدل او لمړی په جماعت سره لمونځ مې اداء کړ همدلته پوه شومه چې زه يو کس نه يمه چې د اسلام ګلبڼ ته مې مخه کړېده. ما غوشتل چې همدلته په کنفرانس کې شهادتين ووايم خو نه ما بايد نور هم فکر کړای وای، که ما شهادتين په خوله ويلي ول نو زه د اسلام په مقابل کې مسئول ومه نو ځکه مې يوه هفته لمونځ تمرين کړ چې په وخت سره يې کولای شم که نه، هو الحمدلله! په خپل وخت کې به مې پنځه وخته لمونځ اداء کاوه او پايله کې مې د جمعې په

ورځ د شهادت کلمه په خوله وویله او مسلمان شوم چې له دې کار نه مې تر پایه پښېمان نشومه.

زه چې اوس فکر کوم هغه څه چې مې د وقایعو په شکل ولیدل اصلاً تصادفي نه ول او مدبر او واکمن ذات دا غوښتل چې زه په قناعت سره اسلام ته راشم واقعاً چې الله ښه پلان جوړونکی او د نړۍ عالم دی.

## د ژول اي ویت د مسلمانېدو کیسه

بیتي باومن وایي: کله چې مې د ژول عکس ولیده نو ورته مې زنګ وواهه او ورسره وغږېدم، خبرې یې هم لکه د هغه ظاهر غوندې ښایسته معلومېدې او کله مې چې ددې کتاب د لیکلو په اړه ورته وویلې نو وعده یې وکړه چې د اسلام پر لور خپل سفر به حتماً راته لیکي یو څه موده وروسته یې خپله کیسه او یو اغېزمن لیک راته راولېږه چې له لوستلو وروسته یې واقعاً هر څوک اغېزمن کیږي.

ګرانې باومن خورې السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

که په یاد مو وي له ما څخه مو غوښتي ول چې درته ولیکم چې زه څنګه مسلمان شوی یم، واقعاً دا د اللهﷻ له لوري یوه هدیه وه چې ماته یې راکړه، هیڅ مسلمان سره مې هم نه و لیدلي. ما هیڅ د اسلام په اړه نه وه اوریدلي خو ولې تل به مې راز او نیاز کاوه او پدې معتقد وم چې دا ټوله دنیا د اللهﷻ ده، ما به تل یو ورک احساس ددې کاوه چې زه باید د اسلام په اړه مبالعه وکړم، یوه ورځ مې له چا څخه پوښتنه وکړه هغه راته د یو مسجد ادرس راکړ هلته د مسجد امام د یو خور د موبایل شمېره راکړه او ما له نوموړې خور سره اړیکه ونیوله هغه خور له ما وپوښتل چې ولې غواړې چې د اسلام په اړه مبالعه وکړې؟ ما ورته په ځواب کې وویلې: ځکه چې لومړي ځل لپاره جبرائیل هم محمدﷺ ته ویلي ول چې ووایه، هماغه وه چې نوموړې خور زه ځینو د درس ټولګیو ته وروپېژندلم او د یوې اونۍ په جریان کې مې ټول لمونځونه اداء کړل.

ښایي دا یو اسانه کار وه خو د لمونځ د کلمو ویل هغه خواږه الفاظ ول چې تل به ما له ځانه سره له مسلمانېدو مخکې ویلې، زما د لورکۍ چې اوس لویه شوې ده شور ماشور چې د اذان په وخت کې به مې ورته وویلې غلې شه هغه به هم غلې شوه او اذان ته به یې غوږ کېښوده چې اوس هغه هم مسلمانه شوېده. زه حقیقتاً خدای د زړه له تله دوست ګڼم او د هغه عاشق یمه. تل ماته د لارښوونې کولو شکر یې ادا کومه، کله چې د اسلام مینه او خوند درکوو نو د ژوند لوړې او ژورې راته د تحمل وړ ګرځي. حج او عمره مې کړې، مخکې مې واده کړی وه خو اوس متاهل نه یمه او له خدایه غواړمه چې ماته پاک او ښایسته قلب راکړي تر څو نورو ته د هغه پوسیله مرسته ورسوم. که تاسې وخت پیدا کړ نو د خپلو کارونو، طرحو او پلانونو څخه مې خبر کړی.

## د الف کارلسون د مسلمانېدو کیسه (اسلام زما د پرمختګ سبب شو)

### ستاسې د مسلمانېدو سبب څه وه؟

دا ډېره ستونزمنه پوښتنه ده، ما پخوا هېڅ د اسلام په اړه پوهه نه درلوده، او اسلام ته راتلل مې د یوې پېښې له کبله وشول هغه داسې چې یوه ورځ په یوه ګڼ ځنګل کې په تصویر اخستلو بوخت وم، د خپل چاپېریال څخه اغېزمن شوم او ومې انګېرله چې ددې ټولو مخلوقاتو یو وړوکې برخه یمه او دا ټول مخلوقات په یوې لوېې هستۍ پورې تړاو لري. دقیقاً نه پوهېږم چې له څه وخته مسلمان شومه خو یواځې دومره پوهېږمه چې ما ومونډل چې مسیحیت نور زما غوښتنو ته ځواب نشي ورکولای او زه خو د نیم خدای او نیم بنده له عبادت څخه زیاتي بیخي ستړی شوی ومه، په انټرنټ کې مې یو ملګری پیدا کړ چې نوی مسلمان شوی و هغه په خورا ورین تندي راته ښه راغلاست وویل او په تدریجي ډول یې زه له خدای سره اشنا کړم تر دې پورې چې زه معتقد شومه چې الله شته دی. همدارنګه وروسته بیا هغه تصادفي پېښه هم رامنځته شوه، دا ټول عوامل ول چې زه یې وهڅولم تر څو اسلام مېالعه کړم نو د قرآنکریم لوستل مې پیل کړل، په قرآنکریم کې داسې منطقي دلایل ول

چې پدې یې ګواهي ورکوله چې دا د الله ﷻ کلام ده، او حضرت محمد ﷺ مې د وروستني پیغمبر په توګه ومانه نور نو څه نه ول پاتي پایله کې مسلمان شوم.

### پدې لاره کې مو کومې ستونزې درلودې؟

یوائې ویره او ډار هغه ستونزه وه چې زما په لار کې خنډ راته کېدلای شوای هغه هم ځکه چې کله ناکله به وېرېدم هسې نه د احساساتو له غلبې نه مسلمان شوی نه اوسم، او بله داچې مذهبي خلک مې دومره ځانګړي نه خوښېدل او دریمه پکې دا وه چې په کومه سیمه کې چې زه اوسېدم هلته مسلمان وګړي ډېر کم ول او که به ما وغوښتل چې د مسلمانانو خواته ورشم نو یو ساعت مزل به مې کاوه او کله ناکله به مې هېڅ نشو کولای چې له هغوی سره لیدنه وکړم.

کله مسلمان شوی او کورنۍ عکس العمل مو څه وه؟

د ۱۹۹۷ کال د جولای په میاشت کې مې ایمان راوړه اوهغه څه چې زما د ایمان راوړلو باعث شوي دي ډېره اوږده کیسه لري خو یوائې په همدې بسنه کوم چې دا د الله ﷻ لخوا یوه پېرزوینه وه چې پرما وشوه. او د کورنۍ عکس العمل مې مثبت وه هېڅ کومه ستونزه یې راته پیدا نکړه.

### اسلام د انسان ژوند څنګه بدلوي؟

نه پوهېږم چې دا کار به څنګه کیږي خو زه یوائې دومره پوهېږم چې ډېر په ارامۍ سره ژوند سرته رسوم، ملګري مې راته وایي چې له پخوا نه ډېر آرام شوی یې او همدغه ځانګړتیاوې نورو ته لرم. ما هغه څه چې خلک یې مخکې له اسلامه لري نه درلودل نو ځکه په ځان کې د هغوی بدلون نه وینم خو اسلام زما د هراړخیز پرمختګ سبب شوی ده، ماته تر ټولو همدغه ستره آرامي بس ده چې زه مسلمان شوی یم او حقیقت مې پیدا کړی ده.

د ځان او کورنۍ په هکله مو یو څه راته ووایاست!

زه پنځه ویشت کلن یمه او زمونږه کورنۍ د ټولنې د منځنې طبقې څخه ده، په آرامه کورنۍ کې لوی شوی یم، پلار او مور مې دواړه کار کوي، تر اوسه مې کوم ټکر له کورنۍ سره نه ده پیدا شوی، خپله په یوه اتومي بټۍ کې کار کوم او

خپله دنده دوست لرمه، اوس په اسلامي ټولنه کې ځانته د نوي ملګرو په لټه کې یم، خو هغوی له ما نه شپېته میله لري دي اما انټرنټ تر ټولو ښه وسیله ګرځېدلې چې زه ځانته د نړۍ له ګوټ ګوټ نه ځانګړي مسلمان ملګري پیدا کړم.

## د نوح ها میم کلر د مسلمانېدو کیسه

### په مسیحي کورنۍ کې لوئېدل

زه په ۱۹۵۴ کال کې په یوه کاتولیک پلوه کورنۍ کې زېږېدلی یم او له هماغه وړوکتوبه مې پلار له کاتولیک مذهب سره تړلی وم، خو کله چې لوی شوم او پوهنتون ته ولاړم نو د اعتقاداتو سره مې مینه کمه شوه او ډېر ځله به مې دین تر سؤال لاندې راوسته. یو دلیل د کلیسا د عباداتو د اصولو بدلون وه چې د واتیک دویمې شورا په ۱۹۶۳ کال کې یې هم پکې بدلون راوستې وه، عامو خلکو داګمان کاوه چې ګواکې کلیسا د عباداتو کوم ثابت او پرځای اصول نه لري خو د کلیسا کشیشانو به بیا پر هغو دا تطبیقوله چې اصول ثابت دي. لکه کشیشانو به ویلې چې خدای هېڅکله د بدلون وړ نه ده نو ځکه له مسیح نه وروسته بل کوم داسې پیغمبر هم نشته چې د هغه ځای ونیسي او باید تر پایه د مسیح پیروي وشي خو عامو خلکو به خپل سرونه خوځول او په مسیحیت کې به یې د کوم څه شي د کمښت احساس کاوه او په یو نوي پیغمبر باندې د متقاعد کېدو انتظار یې وېسته.

دویم لامل د مسیحیت په اصولي او بنسټېزو شیانو کې اختلاف وه لکه د تثلیث عقیده، چې هېڅ کشیش او یا عام وګړي تر اوسه په قانع ډول حل نه کړه او کله په یو شکل او کله په بل شکل ځان غولوي، ځیني لا وایي چې یوه ډله خدایان د پلار خدای او زوی خدای تر منځ شته دي چې سوله کوي او زوی پر ځمکه بادشاهي کوي او پلار په اسمانو کې، که څوک غواړي هغوی سره اړیکه ونیسي نو د هغوی روح د سپینې کوترې په شکل ځمکې ته را الوزي چې باید نوموړې سره راز او نیاز وشي تر څو ستا خبره هغوی ته القاء کړي. ما اصلاً له وړوکتوبه تر اوسه پدې شیانو اعتماد نه درلوده او ما دا باور

هم نه درلوده چې مسيح دې خداى وي ځكه د خداى مېلق د بنده د مقيد قدرت او توان سره توپير لري.

### د انجيل د لوستلو هڅه

زما په ياد دي چې ما زياته مينه درلوده چې د انجيل كتاب ولولم تر څو زما د لاربنوونې سبب وګرځي نو د كرسمس په ورځ يې ماته يو ښكلى چاپ انجيل راكړ تر څو يې مطالعه كړم، كله مې چې ولوسته نو پرې د ژوند اراسته كول راته ډېر ستونزمن ښكاره شول خو وروسته متوجه شومه چې مسيحيان په عملي ژوند كې دا ستونزې څنګه لمنځه وړي؟ پروتستانت ترې يوه ډله جوړه كړې ده او له خپل ځانه پرته نورو ټولو ډلو ته خراب خلک وايي، او كاتوليک خو نور ټول له ځان پرته بې لارې بولي همدارنګه څوګوني نورې ډلې تپلې... خو ما چې سوچ وكړ له ځانه سره مې وويل چې حتماً په انجيل كې څه كمى شته چې دا خلک يې منظم كړي نه دي نو په همدې ورځو كې پوهنتون ته ولاړم هلته مې د انجيلونو زياتې ترجمې او تفاسير پيدا كړل چې يو پر بل باندې يې رد ليكلي و، ما داسې ليكل پيدا كړل چې معتمدو خلكو ليكلي ول په هغو كې يې ويلي چې د مسيح ژوند لكه څنګه چې هغه تېر كړى هسې نه ده ليكل شوى او ټولو تفاسيرو ورته هو ويلې نو بيا د دښمنانو د دښمنۍ هيڅ سوال نه پيدا كېږي، لدې دا نتيجه راوځي چې د مسيح له ژونده وروسته د هغه ژوند ختم شوى خو پيروانو يې وروسته څه چې په خپل ذهن كې انځور كړي هغه ليكلي او مونږه ته يې رارسولي نو پدې توګه انجيلونه هم سره توپير لري ځكه بېلو بېلو اندونو څخه راپاتي دي. ما ډېر داسې ليكوالانو وليدل چې هغوى په سم انجيل پيدا كولو كې كلونه ځان ستړى كړ خو تر اوسه يې ځانته سمه لار پيدا نه كړه نو عام او عادي وګړي به څه ډول خپل ځانته سم كتاب وټاكي؟

### د فلسفې لوست

په پوهنتون كې مې د فلسفې په زده كړه پيل وكړ او دا مې له فلسفې ياد كړ چې كه څوک وايي چې حقيقت ورسره شته ده نو ترې بايد وپوښتم چې

منظور مو څه شی ده؟ او بل دا چې څرنګه پرې پوهېږې؟ کله مې چې دا دواړه سوالونه له ځانه د مسیحیت په اړوند وکړل نو ځان مې بې ځوابه ومونده هماغه وه چې له مسیحیت سره مې خدای پاماني وکړه او په یوې نوې څېړنې (په بې معنا نړۍ کې د معنی لټه) پیل وکړ. ما دا کار له هغه ځایه پیل کړ چې بې دینه وم او په فلسفو مې هم باور نه درلود خو یواځې د فلسفې د زدکړې په خاطر مې فلسفي موضوعات او مقالې ولوستلې تر دې چې ډېرې ښې لاسته راوړنې مې درلودې. ما زده کړل چې قوت، ثروت او شهرت د وخت په تېرېدو سره لمنځه ځي اما یواځې تلپاتې څیز غوره اخلاق دي چې انسان سره پاته کیږي، دا درس مې تر ډېره عمره په غوږو کې وه او هېڅ مې له یاده نه وته.

بل مې دا هم زده کړل چې که انسان په ځوانۍ کې یو څیز خوښ کړي نو کله چې زوړ شو له هماغه څیز نه بد وړي څنګه چې ما غوښتل په یقیني ډول د خدای شته والي باندې باور ولرم نو ځان دې لیارې لپاره سم چمتو کاوه پدې موده کې مې د نیچه فلسفي نظریات هم وړاندې کړل چې بالاخره یې ددې شلمې پېړۍ د غرب حیوانیت پکې هم په ګوته کړی وه او ویلي یې ول چې دا په لاس جوړ شوي مذهبونه به یې مخه هم ونشي نیولای. پدې موده کې مې چې څه زده کړي ول پر هغو ټولو مې یو ځل بیا کتنه وکړه او له هغې مې غیر ضروري شیان لرې کړل بالاخره درې خبرې پاتې شوې — خدای شته ده.

- هغه انسان پیدا کړی ده او چې انسان پر کومه لاړ شي هغه لاره یې هم ورته ښوولې ده
- د قیامت ورځ شته چې انسان په هغه ورځ کې چې په دنیا کې یې څه کړي محاسبه کیږي

په همدې حالاتو کې مې د قرآنکریم پخوانۍ ژباړه پیدا کړه، هغه مفاهیم چې قرآن راښوولي ول ډېر حیرانوونکي ول، عجیبه فصاحت او بلاغت یې لره، که څه هم دې ژباړې یې اصلي محتوا لمنځه وړې وه خو بیا هم د یوه مذهب او دین اصول همد دومره ټینګ نه برېښېدل، زه مجبوره شوم چې عربي زده کړم تر څو قرآن کریم په هماغه ژبه وګورم چې څه پکې دي.

یو ځل له ټولګي نه د کور په لور روان شوم په لاره کې لمر هم ولوېده، پدې وخت کې مې ناڅاپه حس کړه چې د عبادت وخت رارسېدلی ده او اوس بایـد د یو الله په وړاندې سر ټیت شي، زه نـه پـوهېږم یـوه عجیبـه احسـاس وه لکـه الهام دغسې وه او اوس نشم کولای هغه ټول جزئیات دلته ووایم.

**د شیکاګو په پوهنتون کې**

کله چې د شـیکاګو پوهنتـون تـه ولاړم بیـا هـم مـا یـو څـه فکـري اړ او دوړ درلود د هغې د لرې کولو لپاره مې هڅه وکړه تر څو د اخلاقو د نظام پـه هکلـه یو څه ولولم، پدې اړه چې څنګه کولای شو اخلاقي لوړو معیارونو ته ورسـېږو نو فلسفي کتابونه ولوستل. د لوسیان یوه خبره مې تر اوسه په یاد ده چې ویلـي یې ول: (که هر چا د لارې په سر یو اخلاقي فلیسوف ولیده نـو فـوراً دې تـرې وتښتي داسې لکه څنګه چې لیوني سپي نه تښتي.

**په الاسکا کې د کښتۍ د خدمتګار په توګه**

څنګه چې ددې پوهنتون فیس ډېر لوړ وه نو مجبوره وم چې یـو چېرتـه کـار وکړم د همـدې لپـاره پـه لویـدیځ سـاحل کـې لـه کـب نیوونکـو سـره خـدمتګار شومه، هلته به کب نیوونکو کبان نیول خو ولې ما ددې تر څنګ چې کبـان هـم نیول نور څه هم تر سترګو لاندې کړي ول هغـه دا چـې د انسـان کوچنیـوالی د طوفان، باد او سېلاب مقابل کـې، کلـه بـه چـې د سـیند یـوه څپـه لکـه غونـډۍ راپورته شوه نو کښتۍ به یې په هـوا کـړه او یـو څـو شـیبې وروسـته بـه هماغـه کښتۍ او پکې ناسـت مسـافر بـه د اوبـو پـه سـطحه روانـه وه، دا صـحنې ټولـو لیدلې خو ماته له یو پرحجمه کتاب نه پرته نور څه نه ول یعنې ډېرو کمو خلکو دا کتاب لوستلی شو او نور یواځې په خپلو ماهي نیولو او خرڅولو کې بوخـت ول.

کله به ناڅاپه زمونږه کښتۍ د یو قدرت په وسیله و لړزېده او ټول به د مرګ په انتظار شو پدې وخت کې به چا له خدایه سوال کاوه او چا له بتانو او چـا لـه کرسمسه، خو بېرته به چې په ساحل کې ښکته شولو او له مرګه بچ به راغلو نـو خدای به مو هېر کړی وه، دا عجیبه واقعې وې چې د انسان په ژوند کې زیاتره

واقع کیږي بلکه د ژوند ډېره برخه همدغه پېښې جوړوي. انسان د خپل چاپېریال په نسبت او د الهی قدرت په پرتله ډېر ضعیفه ده. زما یاد دي چې زمونږه خواته یو بل ملګري کار کاوه، ډېر هوښیار او تکړه سړی وه، یوه ورځ یې په لبخند سره خپل جالونه ټولول تر څو د سبا لپاره آماده شي، ډېر په ظرافت سره چاپېر وه او خپل چاپېریال یې هم تر نظر اړاوه، خو ناڅاپه هوا طوفاني شوه د نوموړي سړي پښې پورته شوې او بېرته اوبو خپلې خېټې ته ښکته کړ، بیا مو ونه لیده مګر یو ځل چې زما خوب ته راغی.

دا ټول هغه وختونه ول چې زه د شیکاګو د پوهنتون په وروستیو کلونو کې وم او ما اسلام منلی وه.

## ۱۷ کلن امریکایي زلمی

ثنا او صفت هغه خدای ته چې زه یې حمد وایم او له هغه بخښنه غواړم او په سمه لاره ترې د پایدارۍ او استقامت غوښتونکی یم، پناه وړم اللهﷻ ته له شره د نفس او ګناهونو خپلو هغه ذات ته چې که چاته لارښوونه وکړي نو د هغه ګمراه کوونکی نه یي او که یې ګمراه کړي نو د لارښوونې څوک ورته بل نه وي او ګواهي ورکوم پدې چې الله یو دی او محمدﷺ د هغه رسول او استول شوی پیغمبر دی.

۱۴- ۱۵ کاله کیږي چې زه مسلمان شوی یم، هغه وخت چې زه اتلس کلن وم ماته مې یو ملګري یو کتاب راکړ تر څو یې ولولم، ما نوموړی کتاب تر اتو کلونو له ځانه سره وساته، کله مې چې د کتاب لومړی پاڼه واړوله پکې لیکلي ول چې دا کتاب رالیږل شوی او پکښې حقیقتونه بیان شویدي، دا کتاب د کومې یوې ډلې او یوې طبقې لپاره نه ده لیږل شوی بلکه دا د الله له لور ټولو خلکو ته استول شوی کتاب دی، کله چې زما د اسلام په اړه مانه خلک پوښتي نو زه ورته وایم چې یواځې یوه رڼا وه جوړه شوه او زه مسلمان شوم کوم بل ځانګړی شرح ورته نه لرم.

د بېلګې په توګه: کله چې تاسې د کمپیوټر اړوند کومې ستونزې سره مخ کیږی نو خپل داسې یو ملګري سره په اړیکه کې کیږی چې هغه د کمپیوټر په

اړه پوره معلومات ولري کله چې نوموړی شخص تاسې ته د ستونزې د حل لارې په هکله ځو ټکي وايي نو سمدلاسه متوجه کېږی چې ستونزه چېرته ده او یا که غواړی چېرته ولاړ شی او له چا د یاد ځای پته اخلی نو د لېږې پتې ورکولو وروسته تاسې متوجه کېږی او خپل هدف مو پیدا کولای شی، انسان هم همداسې حالت لري چې تل په لوبېدلو کې وی خو کله چې ورته لږه اشاره وشي نو بیا د لارښوونې ښکار کېدای شي.

زه تاسې ته خپله کیسه کوم کومه چې ما له یو عربې انجلۍ سره ولیدل او بیا مو وروسته ورسره واده وکړ، دا سمه ده چې که ځوک مو خوښېږي له هغه سره واده وکړی. اوس یوه لور هم لرم چې مریم نومېږي او له یوه پارک سره مو نژدې یو انجمن جوړ کړی ده، نوموړي انجمن ته مختلف دینونو والا کسان راځي لکه مسیحیان، مسلمانان او نور، هلته مونږه ځینې پوسترونه هم چاپ کړي چې پرې لیکلي دي نشته خدای پرته له الله څخه او په بله خوا یې لیکل شوی دي: چې اللهﷻ د ازل په ورځ له خپلو بندګانو پوښتنه کړې چې آیا زه ستاسې پروردګار نه یم؟ ټولو په یو ځل ویلي چې یې. پدې دلیل مونږه په هر څه ایمان لرو او د قیامت په ورځې هم ایمان لرو چې د بندګانو سره به د رب د حساب ورځ وي.

دویم مسلمان: زه غواړم تاسې سره خبرې وکړم ځکه چې ستاسې بحث د نویو مسلمانانو په هکله ده زه هم نوی مسلمان یم، ښايي تاسې باور ونکړی چې زه مسلمان یم ځکه چې زیاتو خلکو پر ما باور نه راځي هغوی وايي چې ستا څېره د مسلمانانو له څېرې څخه توپیر لري خو زه وایم چې نه اسلام کې دا خبرې نشته، هلته رنګ او قوم هېڅ کوم امتیاز نه لري، دا ددې لپاره چې ټولو خلکو ته د یو خدای وحدانیت ورپه ګوته کړو، زما د مسلمانېدو لامل یواځې د قرآنکریم لوستل وه چې د یو دوست لخوا راته راکړل شوی وه، مخکې تر دې مې هېڅ کومه اړیکه له اسلام سره نه لرله خو زما خپل دین زما ټولې غوښتنې نشوای پوره کولی.

دریم مسلمان: ما د پوهنتون په جریان کې ځینې دیني کتابونه لوستل او ملګرو به هم راته بېلابېل کتابونه راکول خو یوه ورځ مې یوه ملګري قرآنکریم

راکړ ما چې نوموړی کتاب ولوست ټول څیزونه مې ډېر شفاف بیاموندل یعنې څوارلس سوه کاله مخکې ویل شوي ول خو اوس سم دي، ما خپل اسلام پوره په منطقي توګه منلی ده او هېڅ ستونزه پکې نه لرم، د یو څه مودې لپاره مې مور او پلار همداسې پاتې ول خو پایله کې هغوی هم قانع شول او هوډ یې وکړ چې مسلمانان شي.

# دریم څپرکی:
# د بریتانویانو مسلمانېدل

## په اروپا کې د اسلام خپرېدل

په اروپا کې د تکنالوژۍ د ورځنی پرمختګ سره یو ځای هغه اوسیدونکي یې چې د تعصب له ناروغۍ پاک وي د دینونو په څېړنه کې هم زیار باسي او د حقیقت له موندلو وروسته د هماغه حقیقت سره مله پاتې کیږي چې دا دنیا یو ذات پیدا کړې ده او نوموړی ذات یوه، توانا، مهربان او د کمال د ټولو ځانګړنو درلودونکی ده. که هغه خبرتیاوو ته چې د رسنیو له لارې یې مونږه اورو پاملرنه وکړو نو د مسلمانېدو بهیر ورځ تر بله چټک کیږي، د بروکسل څخه د (RTL) خپرېدونکي تلویزوني چینل خبر ورکړی چې د روان میلادي کال له پیله تر اوسه پورې درې سوه تنه د اسلام په مبارک دین مشرف شوي دي چې د بلژیک په تاریخ کې یوه ستره لاسته راوړنه بلل کیږي نوموړي چینل زیاته کړېده چې نوموړي کسان د دینونو له پرتلې، د قرآنکریم معجزو او د اسلام معنوي او روحي ښیګڼو باندې له پوهېدو وروسته مسلمان شویدي. ددې خبر پر بنسټ د چک جمهوریت د مسلمانو وګړو شمېر پر لس زرو کسانو د زیاتېدو په حال کې ده چې په پراګ کې یو اسلامي مرکز او مسجدونه هم جوړ شویدي تر څو خلک د اسلامي ښکلو ښوونو څخه خبر کړي. په سویس کې د مسلمانانو شمېر د یو کال په دوران کې له یو لک کسانو څخه څلور لکه مسلمانانو ته ورسېده.

دا اوس وخت د اروپایي هیوادونو په زیاتو هېوادونو کې اسلام د دویم دین په توګه منل کیږي. فرانسه کې له پنځو میلونو څخه زیات، جرمني کې درې میلونه، انګلستان کې دوه میلونه او په همدې ډول نورو هېوادو کې هم د مسلمانانو د شمېر ارزیابي کولای شو. په المان کې خو د مسلمانانو شمېره دومره مخ پر زیاتېدو ده چې نژدې کلونو کې به (انشاء الله) ټول المان مسلمان

شي. د روسيي د مسلمانانو شمېر هم ورځ په ورځ مخ په زیاتېدو دی، د روسيي د مسلمانانو د اتحاديي مشر ګئورګی امير ماوروف دغه شمېرنه سمه بنيي او وايي چې د روسيي پنځلس سلنه نفوس اوس وخت کې مسلمان ده چې يواځې دوه ميلونه يې په مسکو کې ژوند کوي او همدارنګه درې زره اسلامي مؤسسې په ټول هېواد کې فعالې دي. په اوکراين کې دا شمېرنه هم مخ په زياتېدو ده، د انګلستان د مسلمانانو شمېر دوه ميلونه کسانو ته رسيږي او د ياد هېواد د شورا پنځه څوکۍ يې هم لاس ته راوړي دي.

## د ستيفن جورجيو د مسلمانېدو کيسه



موسيقي او سرګرمي او د دنيا دوه ورځي ژوند، ايمان د ژوند دائمي خوند او تلپاتې اخرت کوم يو سړی بايد د ځان لپاره انتخاب کړي؟ دا چې نن يې د موسيقی يوه آله لاس کې ده او د خلکو په منځ کې يې ژغوي سبا ته چې ملا يې کړوپه او امسا په لاس وي چېرته کولای شي چې همدا آله په پوره شور او زوړ سره وغږوي، دا خوندونه هېڅ لذت نلري چې چاته د خپل د ژوند هدف معلوم نه وي او دا ورته معلومه نه وي چې زه د څه لپاره پيدا شوی يم او څنګه به بېرته مړکېږم او عاقبت به مې څنګه وي. دا کومه يوه غوره ده؟ دا چې په ايمان سره ژوند وکړې او د خپل د رب عبادت وکړې په دې هيله چې يوه ورځ به له خپل رب سره مخامخ کېږې او بيا به درته عملنامه په ښي لاس درکوي او د اخرت تلپاتې ژوند به شروع کيږي.

### عقل د انسان غوره زیور

عقل خو د انسان زیور ده خو هغه عقل سم عقل ده چې خپل خاوند ته سمه لاره ورپه ګوته کړي.

﴿فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ۝٧ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ۝٨ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ۝٩ وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهْرِهِۦ ۝١٠ فَسَوْفَ يَدْعُواْ ثُبُورًا ۝١١ وَيَصْلَىٰ سَعِيرًا ۝١٢﴾ [الإنشقاق: ٧-١٢].

### په اصلي تمځای کې

د بریتانوي هنرمند (کات ستیفنس) د ژوند په اوږدو کې دوه حیرانوونکو پېښو سره مخامخ شوی ده او همدا دوه پېښې ددې لامل شوي چې نوموړی ایمان راوړي.

لومړی: کله چې یې ورور د قرآنکریم یوه نسخه ورته ډالۍ کړه

دویم: کله چې د لامبو کولو په وخت کې له غرقېدو څخه وژغورل شو.

### زوکړه

ستیفن په ۱۹۴۷ کال کې د لندن په ښار کې زېږېدلی ده، له وړوکتوبه یې له موسیقۍ سره مینه وه او لومړنی هنري تولید یې (سګم سره مینه لرم) په نامه بازار ته راووته او نوم یې د موسیقۍ په نړی کې ډېر مشهوره شو هغه یې د کات ستیفنس په نامه سره پېژنده، په ۱۹۶۷ کال کې یې نوم د هېواد په لسو غوره سندرغاړو کې ثبت کړ. یوه موده وروسته ناروغه شوه او د ناروغی له امله یې پرمختیاوې هم ودرېدې خو له روغېدو سره سم یې بیا کار پیل کړ او دا ځل یې خپل شهرت نړیوال کړ او په ټوله نړی کې د ښه سندرغاړي په نامه یادېده.

وروسته یې یوه موده په برازیل کې تېره کړه او په ۱۹۷۷ کال کې یې خپل ایماني سفر پیل کړ، نوموړی سفر هغه وخت پیل کیږي چې نوموړی د خپل ژوند په هکله ځیني قانع کوونکو ځوابونو پیدا کولو ته اړ کیږي، نوموړې پوښتنې د ژوند، مرګ، طبیعت، خالق او مخلوق په اړه وې. وروسته یې د

اديانو په هکله څېړنه پيل کړه او ډېرې کتابونه يې د اسلام اړوند ولوستل خو په ځانګړي ډول به يې د قرآنکريم تفاسيرو ته زيات اهميت ورکاوه.

### د خپل ژوند په اړه وايي

زما ژوند د نويو علومو سره تـل تېرېـده، د موسـيقۍ ډېـر مجـالس مې ګـرم ساتلي دي، په يوه عيسوي کـورنۍ کې مې زوکـړه شـوې ده او وروسـته زه هـم عيسوي شوی يم دا ځکه چې مونږه پوهېږو چې هر انسان اصـلاً مسـلمان پيـدا کېږي خو بيا يې د هغې کورنۍ بل دين تـه اړوي، مـا لـه کوچنيـوالي پـه اللهﷻ باندې ايمان او باور درلوده خو کوم سيده اړيکه مې ورسره نه وه ټينګه کړې او د اړيکو ټينګولو دروازه مـو مسـيحؑ بالـه ځکـه چې پـه کوچنيـوالي کې راتـه همداسې ښوول شوي ول خو ما نشو کـولای چـې پـرې پـوره قناعـت ولـرم او ټول يې ومنم.

### ستيفنس سندرغاړی و

هغه خپلو خبرو ته ادامه ورکوي او وايـي: کـرار کـرار لـه مسـيحي تربيـې نـه لرې کېدم او د موسيقۍ پر لور ور ماتېدم ځکه ما غوښتل چې د نـړۍ لـه سـترو ستورو څخه وشمېرل شم او زما يواځينی هـدف هـم د پيسـو لاسـته راوړنـه وه خوما دا بريالیتوب له موسيقۍ پرته بل څه کې نشـو مونـدلای، زمـا پـه يـاد دي چې زما تره يو موټر درلود نو ما به سوچ کاوه چې دا څنګـه ددې مـوټر خاونـد شوی، ما دا هيله لرله تر څو له هر چا زيات دولت پيدا کـړم او لـه ښوزلـو سـره مرسته وکړم.

### شهرت او ناروغی

په نولس کلنۍ کې په سل ناروغی اخته شو او مجبوره و چې د خلکو او ګڼـه ګوڼې ځايونو څخه لرې واوسي، نومـوړي د سـندرو مجلسـونه پرېښـودل او پـه روغتون کې لکه يو بندي تـر تـداوی لانـدې شـو، نومـوړی پـدې مـوده کې ډېـر پرېشانه وه او تل به سوچونو مخکې کړی وه پايله کې يې هوډ وکړ چې فلسفي کتابونه ولولي خو له لږې مودې وروسته يې د ديني کتابونو په هکله مينـه ورتـه پيدا شوه او لوسـتل يـې پيـل کـړل. دا د ايمـاني سـفر پيـل وه چـې د کتـابونو د

لوستلو څخه شروع کېږي او یوسف کرار کرار د خپل رب پر لور وړاندې کوي.

**ستره لارښوونه**

ما په ناروغه حال د ژوند ورځې او شپې تېرولې چې د کرسمس ورځ راورسېده زما ورور ماته یو وړوکی قرآنکریم له ژباړې سره ډالی راکړ، نوموړی مسلمان نه وه خو هغه مسجدالاقصی ته د سفر پر محال پدې دین کې د څه بنیګڼو شاهد وه او پدې پوهېده چې دې دین کې حتماً یو څه شته، دا ډالۍ یې ماته ډېر ښه وخت کې راکړه ځکه چې زه د افسوس او پرېشانۍ په حال کې وم او د فلیسوفانو په کتابو کې مې ځانته د ژغورنې لاره لټوله. کله چې مې داکتاب له ژباړې سره څوکرته ولوسته نو پوه شومه چې په همدې کتاب کې مې د لارښوونې لوری جوړ شوی ده ځکه د ټول بشر لپاره همدغه کتاب د لارښود په توګه رالېږل شویده او پدې توګه مې د اسلام پر لور خپل سفر پیل کړ.

قرآنکریم ماته په لږ وخت کې ډېر څه رازده کړل، زه څوک یم؟ له کوم ځایه راغلی یم؟ هدف مې څه شی ده؟ پوه شومه چې دا حقیقي دین ده، که به زمونږه په سیمه کې څوک بل دین ته اوښته نو هغه ته به افراطي ویل کېده خو زه پدې ډول نه ومه، ما اوس ایله سمه لاره پیدا کړې وه، زه د روح او جسم تر منځ په حیرانۍ کې پریوتی وم چې زه ددې دین پوسیله ترې راووتم، ددې دین د منلو لپاره دا لازمه نه ده چې کوم پاړکۍ خلکو ته لاړ شې بلکه یوائې چې په څه شیانو یې امر کړی هغه په عمل کې پیاده کړه خلاص همدا وخت انسان له ملائېکو لوړ مقام ته رسیږي. له ځانه مې وپوښتل څنګه به مسلمان شم؟

**اسلامي روزنه**

داخلي کبر او غرور مې ورک شو، ما ځان د نورو په پرتله ډېر لوړ معرفي کاوه خو اوس پوه شومه چې زه هم د الله‎ﷻ د مخلوقاتو له جملې نه یو عادي مخلوق یم، خو بیا مې ځان پداسې حال کې ومونده چې ضایع شوی نه وه او خپل هدف مې هم وپېژنده چې پدې دنیا کې په الهی تعلیماتو عمل کول ول.

دلته مې خپل ايمان هم وموند او احساس مې کړه چې داخل کې مسلمان يمه، کله مې چې قرآنکريم ولوست پوه شو مه چې يهودان ولې مسيحعليه السلام نه مني، ځکه چې د اللهﷻ کتاب يې تحريف کړ او دعوه يې وکړه چې مسيحعليه السلام د خدای زوی ده. قرآنکريم ډېره خوږه او په زړه پورې وينا لري تل د انسان عقل مخاطب کوي او ورته علتونه بيانوي، نه يې پرېږدی چې څوک د لمر او څوک د اور عبادت وکړي، دا ورته ښيي چې بايد د يو الله عبادت وشي چې هغه د ټولو کائناتو خالق او پيدا کوونکی ده.

**قدس ته سفر**

تل به مې چې قرآنکريم لوست نو د صله رحمی، عاطفې، مهربانۍ او احساس څخه به يې خبرې کولې، زه وپوهېدم چې زما درملنه هم همدلته په قرآنکريم کې ده، يوائې زما نه بلکه د هر چا درملنه پکې شته ده، دا کتاب به له ما سره وه او هر وخت به مې ويلې تر دې چې فهم ته ورسېدم نو هوډ مې وکړ چې قدس ته ولاړ شم ځکه ورور مې د هغه ځای ډېرې خوندورې کيسې راته کولې. قدس ته ولاړم او هلته په يو مسجد کې کښېناستم يو کس نږدې راغی او له ما څخه يې و پوښتل ما ورته وويل چې زه مسلمان يم او نوم مې استيفنس ده. يوسف خاندي او وايي: نوموړي ډېر تعجب وکړ خو زه د لمانځه پر وخت د لمونځ کوونکو په صف کې ودرېدم. مخکې لدې چې اسلام مې اعلان کړم لمانځه ته ودرېدم، هغه لمونځ چې اوس مې هم د اسلام پر لور د زړه ميلان پيدا کوي.

بېرته لندن ته ولاړم او هلته د يوې مسلمانې خور سره مې ليدنه وشوه چې نوم يې نفيسه وه، نوموړې خور ته مې د خپل د مسلمانېدو په هکله وويلې هغې راته په ريجنت پارک کې د اسلامي مرکز وويلې او زه همالته ولاړم، له لمانځه څخه وروسته مې د مسجد له امام سره وکتل او خپل اسلام مې اعلان کړ. پدې وخت کې ما داسې احساس کړه چې زه له خدای سره مستقيماً اړيکه لرم چې پخوا مې داسې احساس چېرې هم نه و کړی، وروسته مې خپل نوم بدل کړ او يوسف اسلام شوم دا ځکه چې زه په قرآنکريم کې د يوسفعليه السلام له کيسې نه زيات متاثره وم، همدلته مې هوډ وکړ چې نور به سندرو او موسيقۍ

ته نه ځم او هغه څه چې تلپاتي دي او د خدای پر وړاندې اهمیت لري هغه به عملي کوم.

**څنګه له موسیقۍ لرې شو؟**

کله یې چې قرآنکریم کې ځان د زیاتې مبالغې سره عادت کړ نو د سندرو ټول آلات یې وپلورل،هغه څه چې یې درلودل په هغو یې یوه مدرسه جوړه کړه او تر څو نور هم پرې اسلامي تربیه واخلي، له یوې مسلمانې انجلۍ سره یې واده وکړ او اوس پنځه بچیان لري چې دوی ته یې هم اسلامي روزنه ورکړې ده.

**اسلامي تعلیماتو ته یې پاملرنه**

نومونړي ۱۹۸۳ کال وروسته ځان اسلامي مکاتبو ته وقف کړ، لومړی یې یوه ابتدایي مدرسه پرانسته او بیا یې لږ څه وروسته همدا مدرسه په ثانویه باندې بدله کړه، هلته به د هرې غیر اسلامي مدرسې لپاره بودیجه د حکومت لخوا ورکول کېده چې یوسف اسلام هڅه وکړه تر څو ددې مدرسو لپاره هم یوه ځانګړې بودیجه ورکړي او پایله کې یې پرې ومنله چې دا کار به کوي.

**له سودخوړلو ژغورنه**

کله چې مې اسلام ومانه نو ومې غوښتل چې خپل ټول ژوند له اسلام سره سم او برابر کړم چې باید همداسې وشي نو ما د قرآنکریم دلوستلو پر وخت ومونده له چې اسلام سود حرام کړیده نو سمدلاسه مې خپل سودي حسابونه بند کړل او ټولې پیسې مې یې هغه حسابونو ته واړولې چې هغوی سود نه کاوه چې دغه کار اوله کې د هغوی دحیرانېدو سبب هم شو خو وروسته مې پوه کړل چې زما نوي دین دغه شیان رابانديې حرام کړیدي.

**له سندرو تر نعتونو**

مونږه په یوه اسلامي حلقه کې د نورو نویو مسلمانو وروڼو سره تربیه کېدلو او کله چې پوه شو چې اسلام مباحو ښکلو اوازونو ته توجه هم کوي لکه نعت خواني نو زړه مې وشو چې نعتونه ولیکم چې پیل مې کړه او اوس هماغه

نعتونه ليکم کوم چې زما د ايماني زړه نه سرچينه اخلي، يوسف اسلام ډېره هڅه وکړه چې له بازارونو څخه خپلې پخوانی د سندرو کستې ټولې کړي خو دې کار هېڅ ګټه نه درلوده حتی تر دې چې د يوسف اسلام يو زوی د خپل پلار په غياب کې يوسف يوه سندره اوري او يوسف يې ځکه نه منع کوي چې پوه شي چې پلار مې مخکې په کوم حالت کې وه.

### د اسلام پر لور بلونکی

يوسف اسلام اوس د اسلام لپاره ژوند کوي او د اسلام لپاره مري، هغه خپل هر څه د اسلام لپاره وقف کړي دي ځکه هغه خپل ايماني، او د رڼا ژوند پيل کړی ده.

پورتنی کيسه د يو مشهور بريتانوی سندرغاړي وه چې تاسې ولوستله هغه د خپلو خبرو په پای کې وايي: اللهﷻ که چاته وغواړي لارښوونه وکړي نو د لارښوونې اسباب ورته برابروي، اللهﷻ انسان ته عقل ورکړی ده او انسان بايد خپله لاره د عقل پوسيله غوره کړي، اللهﷻ انسان پيدا کړ اوهغه يې په ځمکه باندې خليفه يانې خپل نماينده وګرځوه تر څو خپل قوانين د هغه پوسيله په ځمکه کې نافذ کړي نو ځکه انسان بايد هڅه وکړي تر څو دا دين ټولې نړی ته ورسوي او ټولې نړی باندې يې حاکم کړي.

### د لامان پول د مسلمانېدو کيسه

پخوانی نوم يې لامان پول او پنځه ديرش کاله عمر لري، اصلاً له بريتانيا څخه ده مخکينی دين يې مسيحيت وه او اوس د انټرنټ په نړی کې د اسلامي بلونکو له ډلې څخه ده او د اسلامي مرکز اسلام انلاين سره دنده سرته رسوي. د نوموړي کيسه يوه غير عادي کيسه بلل کيږي ځکه چې نوموړی د مسيحيت په غېږه کې تربيه شوی او بيا له ډېرو لوړو او ژورو وروسته يې خپل نوی ژوند پيل کړی.

**د ژوند کیسه یې**

د لامان په پنځه کلنۍ کې د لامان پلار ترې وفات شو او مسلمانه مور یې مجبوره وه چې د هغوی تربیه په غاړه واخلي خو په لویدیځ کې ښځه مجبوره ده چې د نرانو په شان کار وکړي که هغه غواړي یا نه غواړي خو له سړیو سره اوږه په اوږه به کار کوي، د لامان نیکه او نیا دواړه مسیحیان ول او د لامان مور نه غوښتل چې خپل د زړه ټوټې هغوی ته وسپاري ځکه چې معمولاً مسیحي یې تربیه کوي خو مجبوره شوه او دوی یې ورته وسپارل. د هغه نیا او نیکه ډېر کلیسا ته پابنده خلک ول او تل به یې لامان له ځانه سره کلیسا ته وړه او د هغه ځای روزنه به یې ورکوله، لامان خو کوچنی وه او خپل ماشومتوب یې د مسیحیت په غېږه کې د مسیحي په څیر تېر کړ، له موره بېلېدل یې یوائې فزیکي بېلیدل نه ول بلکه فکري بېلېدل هم ول، په هر ترتیب لامان د مسیحیت ښکار شو.

**مسیحي لامان**

د اسلامي فطرت اغېزې چې لامان درلودې هغه د مسیحیت په غېږه کې له لمنځه ولاړلې او پوره مسیحي شو خو دومره خبره وه چې نوموړی لکه خپل نیا او نیکه غوندې مسیحیت ته ډېر وفاداره نه ښکارېده او تل به ورته د کلیسا ورتګ یوه ساعت تیري یا تفریح ښکارېده او له دې پرته یې په بل نظر ورته کتلي نه دي. لامان شپاړس کلنۍ ته ورسېده او په همدې حالت کې یې ژوند تېراوه. د ځوانۍ دوره یې وه او د لویدیځوالو نورو ځوانانو غوندې به شراب او کبابو مجالسو ته تل ته، نوموړی د عقیدې په هکله هېڅ نه پوهېده او حتی خپل ځان یې هم نه پېژانده، کله چې د لېسې له دورې نه د پوهنتون دورې ته ولاړه نو د ډېرو ټېټو معنویاتو درلودونکی وه، اوس یې هم د څه په اړوند فکر نه وه کړی، خو یو وخت یې د خپل د ژوند په اړه لږ فکر وکړ نو ویې لیدل چې خپله مسیحي، نیا او نیکه یې مسیحیان، مور یې مسلمانه ولې نه پوهېده چې پر کومه لاره باندې تګ غوره ده. له بلې خوا یې مور له یوه مصري مسلمان سره واده کړی وه او د واده کولو وروسته یې یوه کوچنۍ اسلامي مدرسه هم جوړه کړې وه.

**د ځان په لټه**

کله چې يې مور اسلامي مدرسه جوړه کړه نو د خپل زوی پر لور يې پام واړوه او پدې پوهه وه چې د خپل زوی پر وړاندې کوم مسئوليتونه لري، همدا اوس يې هوډ وکړ چې خپل زوی د ګندګۍ له دغې ګرداب څخه د خير پر لور راوباسي نو خپل زوی خواته ولاړه، خپل زوی يې له څو کلونو وروسته وليده او ورسره غاړه غړی شوه، داسې يو بل ژړل او داسې احساس يې کاوه لکه هماغه کوچنی او ماشوم زوی چې سړی په غېږ کې نيسي او ورته تې ورکوي، زوی يې هم د لومړي ځل لپاره د مور له مينې برخمن کېږي او له همدې ټکي نه د ځان په اړه سوچ ورته پيدا کېږي چې بايد ځانته د ژوند سمه لار وټاکي. مور يې هغه له ځانه سره لندن ته يوړه او زوی يې هم پدې پوهېده چې د مور په خواکې څومره آرامی ځای لري، نو ورسره ولاړه.

مور يې د لامان له پلاره پاتې يو د فلسفې کتاب ورته ورکړ تر څو د طبيعت او خدای په اړه يو څه وپوهيږي، لامان د څه لږې مېالعې وروسته ځان ومونده او پوه شو چې: زه څوک يم، زه چاپيدا کړی يم، د نړی خدای څوک ده.... او داسې نور. دا او په زرګونو نورو سوالونو دېته اړ کړ چې قرآنکريم او د هغه تفاسير مېالعه کړي، دا قرآنکريم هم د هغه له پلاره ورته پاتې وه هغه خپله پدې اړه وايي: ما د قرآني او علمي حقيقتونو لوستنه او څېړنه پيل کړه، عجيبه پکې دا وه چې ما هېڅ داسې اوس يا پخوا چې څه علمي لاسته راوړل شوي ول د قرآن سره په ټکر کې ونه ليدل بلکه قرآنکريم به هم د هماغه لاسته راوړنو تعبير او تصديق پخپله کاوه لنډه دا چه تر پايه ما داسې څه ونه موندل چې قرآن دې نوموړی شی غلط ثابت کړي بېشکه چې لوی ده عظمت والا څښتن او قرآنکريم د همدغه څښتن کلام ده چې پر خپل امانتدار پيغمبر حضرت محمدﷺ يې نازل کړی ده، هر چا چې د قرآنکريم مېابق حکم وکړ نو بې له شکه چې عدل يې کړی ده او هر چا چې د قرآنکريم له لارښوونو ګټه اخستې سمه لارښوونه ورته شوې ده.

﴿يَـٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَـٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ كَثِيرٗا مِّمَّا كُنتُمۡ تُخۡفُونَ مِنَ ٱلۡكِتَـٰبِ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖۚ قَدۡ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٞ وَكِتَـٰبٞ مُّبِينٞ ١٥ يَهۡدِي بِهِ ٱللَّهُ مَنِ

ﭐتَّبَعَ رِضۡوَٰنَهُۥ سُبُلَ ٱلسَّلَٰمِ وَيُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِهِۦ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿١٦﴾ [المائدة: ۱۵-۱۶].

همداسې کرار کرار د لامان عقیده پر اللهﷻ باندې نوره هم ښه کېدله تر دې چې لامان پدې معتقد شو چې دا نړی یو پوه او مدبر ذات پیدا کړېده، هغه ذات بیا غرونه پکې لکه میخونو ټک وهلي دي او سیندونه او ویالې یې پکې پیدا کړي دي او هماغه انسان هم پیدا کړی ده او انسان ته یې دوه سترګې، لاسونه او پښې او هر څه هماغه ذات ورکړي دي.

### اسلام د خوښۍ دین ده

کله چې هم اسلام کوم کفري نړی ته تللی ده هلته یې روښنایي خپره کړې ده، د هغه ظلمکدې یې په عدل او انصاف بدلې کړي دي، ناهیلو زړونو ته یې هیلې پیدا کړي دي، همدارنګه د لامان زړه ته هم چې کله د حقیقت دروازه پرانستله شوه نو د لامان سترګې د حقیقتونو لپاره خلاصې شوې، ژبې یې د حقیقت لپاره خبرې پیل کړې دا ځکه چې نوموړی مخکې د نیا او نیکه پوسیله یو بې دینه شوی انسان وه، خو نوموړي په کائناتو کې د اللهﷻ د شته والي زیات دلایل په خپلو سترګو ولیدل داسې دلایل یې ولیدل چې انسان ته د الله په منلو کې رضا او خوښي ورکوي، او هر انسان که لږ عقل هم ولري ددې دلائلو په لیدلو سره به حتماً دا وایي چې دا نړی یو مدبر او ځواکمن ذات پیدا کړې ده.

### ایماني شیبې

یوه شپه لامان د ځان سره یواځې ناست وه چې بل هیڅ شی پرته له قرآنکریم څخه یې له ځانه سره نه درلودل، د نوموړي د ژوند مسیر د ښیګڼو په لور له همدې ځایه پیل کیږي او مخکیني ټول خرافات یې محوه کیږي، شکونه یې له زړه څخه د تل لپاره وځي او د خدای په یووالي باندې شهادت او ګواهي وایي، خدایﷻ هم د نوموړي په ایمان ګواهي وایي، لامان وایي:

شپې خپلې آرام بخښونکې تیارې خپرې کړې وې او زه په یوه کوټه کې یواځې ناست وم، له ځانه سره مې قرآنکریم هم درلوده، زه یواځې ومه او له

خدای پرته بل هیڅوک راسره نه ول چې احساساتو مې د خدای په وجود باندې اعتراف وکړ او د نور دا کلمې مې قلم د کاغذ پر مخ راښکلې: «أشهد أن لا إله ألا الله وأشهد أن محمدا رسول الله»، تر دې وروسته مې یو اوږد نفس وکیښ او د کاغذ په پای کې مې خپل لاسلیک هم وکړ، ټولو غړو مې یو ډول سکون او آرامتیا پیدا کړه او زما په حال خدای ﷻ ډېر ښه ګواه ده.

﴿ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَوۡلِيَآؤُهُمُ ٱلطَّٰغُوتُ يُخۡرِجُونَهُم مِّنَ ٱلنُّورِ إِلَى ٱلظُّلُمَٰتِۗ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ۝٢٥٧﴾ [البقرة: ۲۵۷].

## پر ملګرو یې اغیزه او ددې کار اعلان

کله چې یې یو ملګری چې له تونس څخه وه د لامان لدې کار څخه خبر شو نو د الله اکبر په چیغو وهلو یې پیل وکړ او نوموړی یې د ډېر وخت لپاره په غېږ کې ونیوه او بیا یې مسجد ته یوړه، د نوموړي لومړی لمونځ د جمعې په ورځ برابر شو او بیا به تل له همدې ملګري سره د لمانځه لپاره مسجد ته ولاړ بده. کله چې یې لمونځونه وکړل او ځیني نور دوستان یې هم ددې د مسلمانېدو څخه خبر شول نو لامان هوډ وکړ چې خپل اسلام په ډاګه اعلان کړي نو د خپل تونسي ملګري او ځینو نورو ملګرو سره یو ځای د لندن اسلامي مرکز ته ولاړل هلته یې نوم د لارښودل شوو په کتاب کې ثبت شو او د مسلمانېدو شهادتنامه یې ترلاسه کړه.

## پر لامان د لمونځ اغیزه

لمونځ د انسان او خدای تر منځ د اړیکو قوي کول او خپله مخامخ اړیکي او ارتباط ته وایي او نوي مسلمان شوي خلک چې تر ټولو لومړی له مسلمان کېدو وروسته کومه پوهه تر لاسه کوي هغه د لمانځه زده کړه وي چې لامان هم همداسې وکړل او نوموړي د لمونځ په کولو باندې اسلامي اخلاقیات خپل کړل او خپل لویدلی شخصیت یې یو ځل بیا د هدف ته د رسېدو په لاره کې وموند.

﴿تَرَىٰهُمۡ رُكَّعٗا سُجَّدٗا يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗاۖ سِيمَاهُمۡ فِي وُجُوهِهِم مِّنۡ أَثَرِ ٱلسُّجُودِۚ﴾ [الفتح: ۲۹].

د لمانځه په کولو لامان وکولای شول چې د نفس په لویدنو او داخلي تشویشونو باندې بریالیتوب تر لاسه کړي او په خپل ژوند کې د یو غوره بدلون خاوند شي. د لامان ژوند له اجتماعي اړخه د لویدیځ تهذیب له ټولو بې بندوباریو څخه خلاص شو او له بل پلوه یې د خپل ژوند د تېرولو لپاره یو هدف وټاکه او د هغه هدف لپاره یې ځان ستړی کړ. او مخکې له اسلامه چې یې د تحصیل په اړه کوم ناهیلیتوب خپل کړی وه د هغه د لرې کولو لپاره یې هم اسلام ستره وسیله شوه او یو ځل بیا یې په لامان کې نوی روح ورپوه کړ، نوموړي خپل پوهنتون په خورا ښه درجه خلاص کړ او ځان یې د اسلام د خدمت لپاره آماده کړ.

کله چې د پوهنتون له درسونو څخه خلاص شو نو د اسلام اړوند یې یوه ځانګړې وېبپاڼه پرانستله چې د ډېرو نامسلمانو ډول ډول پوښتنو ته به پکې ځوابونه ویل کېدل، څنګه چې لامان خپله نوی مسلمان شوی شخص وه نو د زیاتو پوښتنو د ځوابونو پیدا کولو لپاره به یې د بریتانیې اسلامي مرکز سره اړیکه نیوله او د خلکو ستونزې به یې پدې ترتیب حلولې. کله چې یې د انټرنټ له لارې دعوتي تجربه زیاته شوله نو نړیوال مشهورې اسلامي وېبپاڼې ورته بلنه ورکړه تر څو ورسره د اسلامي بلنې په انټرنټي کارونو کې مرستیال شي نوموړي هم دا دنده په ورین تندي ومنله او خپل کار یې پیل کړ، دا اوس نوموړي ته زیاتې دعوتي موسسې اړتیا لري تر څو یې په خپلو کارونو کې ورسره شریک کړي.

**د لویدیځ په اړه وایي**

لویدیځوال تل په مادي او مؤثقو معلوماتو باندې ښه تکیه کوي نو لویدیځ کفري او طاغوتي ځواکونه او حکومت هم تل د اسلام ناسمه څېره خپلو مېشتو خلکو ته وړاندې کوي تر څو د هغوی زړه له اسلام څخه تور کړي، الحمدلله پر ما کومه ستونزه رانغله خو کله چې نور خلک مسلمانېږي نو هغوی باندې

حتماً د حکومتي کړیو لخوا څه ناڅه ستونزي راتلای شي د بېلګې په توګه زیاتره خلک د دندو څخه ګوښه کوی، یا یې لمانځه ته نه پرېږدي.

# څلورم څپرکی:
# د المانیانو مسلمانیدل

**(دکتور مراد هوفمان) په الجزایر کې د المان سفیر**

دغه ښاغلي د ۱۹۸۰ زیږدیز دستامبر په ۲۵ نیټه د اسلام په مقدس دین مشرف شوي ده دده مفصله قصه د انیترنټ له دغه لاندي سایټ څخه کولای شی مطالعه کړی:

http: //www.4newmuslims.org/indexa.hat

زمونږ دغه ګران ورور وایي چې: دا ډیر ګران کار دی چې سړی دې دخپل فکری پرمختګ په هکله کوم لیست یا جدول وړاندې کړي (هیرمان هسه) د klein and wagner په ۱۹۱۹ کال کې لیکلي: دیوه شي په هکله خبره کول د ټولو شیانو په هکله د نه پوهیدلو په مانا دی او د هغه شي بې اهمیته کول دي.

د اسلام دویم خلیفه عمرؓ د مسلمانانو د اذیت او تکلیف لپاره عملا کار کوی خو چې کله د خپلی خور سره په نفطفي جنګ کې د سوره طه ایتونه اوري نو فوراً خپل مسیر ته ۱۸۰ درجې تغیر ورکوی او په خپله مسلمانیږي، همدارنګه مراد هوفمان ابوحامد غزالی (۱۱-۱۲) ل کال بیلګه وړاندی کوي امام غرالی وایي: ما اسلامی فکر یا عقیده د دلایلو په اساس نه ده منلی بلکی ما دغه سپیڅلي عقیده دیو سلسله تجاربو او اسبابونو په وسیله چې ډیر زیات تفصیل ته ضرورت لری منلي ده اسلام یوه نور وه چې الله جل جلاله زما په سینه کې ځاي په ځاي کړ.

مراد هوفمان په خپل ښکلی کتاب (د مکې په لور لار) کې د اسلام په طرف خپل هدایت کیدل داسي بیانوي داد اسمان له لوري یو ټکان وه چ ماته ورسیده، زه له کلونو کلونو بلکې له لس ګونو کلونو را په دیخوا د اسلام مجذوب وم او د مقناطیس په څیروم ځکه چې له هر اسلامی فکر سره مې زیات الفت لاره لکه چې مخکی چې له دی فکر سره ژوند کړي وي، دی

وایي چې زه درې مهمو حادثو دې لاری ته راکش کړم لمړی حادثه یوه طبیعی انساني حادثه ده دویمه حادثـه د ښـکلا او هنـر حادثـه ده او دریمـه حادثـه یـوه فلسفی حادثه ده.

لمړی پیښـه: دا حادثـه د الجزایـر هیـواد پـوری اړه لـري، د ۱۹۶۰ کـال دوه میاشتې مې په (Chateau neuf sar loire) کې تیـرې کـړی ترڅـو فرانسـوی ژبـه زده کړم او بیا د خارجه وزارت په امتحان کې ومنل شم نـو د همـدی مشـکل د حل لپاره می د فرانسوی مجلی هغه را پور چې د الجزایر د جنګ په هکلـه یـې لیکلی وه مطالعه کاوه.

تصادفا یوه ورځ د غذا د خوړلـو پـه وخـت کـې د ښـوونکو ریـس سـره مـی ملاقات وشو او هغه راته وویل ستا د سفر لوری تبدیل شو تـه بـه د ژنیـف پـه ځای الجزایر ته ځې یا سفر کوي.

داد ۶۱/ ۱۹۶۲ — ل کال واقعات دي ما چې له ۸ کلو جنګ په موده کې لـه یوې خوا د فرانسی اشغالګری قواووی ولیدی او لـه بلـی خـو مـې د الجزایـر د ازادی غوښتونکو ملی جبهه ولیده او دریم ګروپ د فرانسي هغه تروریستی پټه او ردوه چې دهغوی وظیفه صرف ترور او وژنه وه هر چیرې به چې تلی نـو پـه سرکونو به خلک مړه پراته وه او د څټ لخوا به ویشتل شوی وه او جرم به یـی دا وه چې هغوی بیچارګان عربان وه، پداسی حال کې چې د المانیانو مرسـته او کومک هم له فرانسویانو سره وه.

مراد هوفمان وایي چې زما وظیفـه داوه چـې دالمانیـانو هغـه ګـروپ چـې د فرانسویانو حمایت لپاره له وطنه راتښتیدلی وه بیرته خپـل وطـن تـه وګـرځـوم پدی دوران کې زه له مختلفو پیښو سره مخ شوم د ډیرو په قبرونـو مـی دګلونـو ګیـډۍ کیښـودلې او ډیـر نـور مـې بـه زخمـی حالـت د جنـګ لـه میـدان څخـه شفاخانو ته رسول مراد هوفمان د هغی په لیدلو دهغه وخت دواقعاتو په لیـدلو (إنا لله وإنا إليه راجعـون) وایی دی وایي یوه ورځ ماد المان د عمومی قونصـل پـه حکم د المانیانو د تیاتری رقص په هکله د فرانسی د ۵ نمبر رادیو یي بایکاه په طرف روان وم ناڅاپی مې موتر د سرک په مینځ کې خراب شو ګڼه ګونه جـوړه شوه اخوا دې هاخوا رنګونه شورع شول ګورم چې یوه سړی په بل سړی باندې

فير وکړ او هغه زخمی زما د موټر په مخ کې ولويده هغه لمړي سړي فوراً زما په لوری وسله ونيوله او اخطار يې راکړ چې له دی ځای ووزه او حرکت وکړه ترڅو ده ته د فير کولو ځای خوشې شي مانه غوښتل چې داسې کار وکړم او کولای مې هم نه شول بالآخره بيا هغه زخمی سړی ته ښه ورنيږدی شو بيا يې سړی فير وکړ او مړ يې کړ او دی بيا ښه په تبه ارام د خلکو په ګڼه ګونه کې ځان ورک کړ، وايي زه هغه وخت ډير غمګين شوم چې يوه ورځ مې دفرانسی د مخفی قواوو په باروړونکو موټرو کې د تيلو نه ډکو بيلرونو ته اور اچوه او بيايې دبيلرونه له اوچتو ځايونو د عرب ميشتو سيمو باندی را غورځول دا نو داسی وخت وه چې د هر چا په طرف په د اور بيلرونه را روان ول او هر چا په ځان سره له دې چې ژوندی دی مړه شميره ځکه چې د نجات چانس پکی ډير کم وه، دغو واقعاتو هغه وخت زور پيدا کړ چې کله دفرانسی ولسمشر شارل ريګول د ۱۹۶۲ په مارچ کې دالجزاير د ازادی د ملي جبهی سره پدی سلا شو چې په راتلونکی جولای کې به اوربند اعلانوی نو پدې وخت کې فرانسوی ترورستانو خپل ظلمونه او زياتي وروستی سرحد ته ورسول ترڅو د الجزاير خلک دې ته اړ باسی چې د اوربند د موافقې فسخ وغواړی نو ځکه دوی يعنی د فرانسی مخفی قواوو پخپله د فرانسې په اکاډمکو او پيژندل شويو څيرو په قتل شروع وکړه او هغه ښځی به يې وژلې چې حجاب به يې مراعات کاوه ترڅو د فرانسويانو او الجزايريانو ترمنځ سو تفاهم او د بی اعتمادی رامينځ ته کړی. د الجزاير له ازادی څو ورځې وړاندې زما له دفتر سره نيږدی يوماهی خرڅوونکی وه هغه هم فرانسويانو وواژه او هغه به تړوله ورځ ناری وهلی چې واخلی ماهيان.

هيچا ته يي هيڅ قسم ضرر نه وه رسولی کله چې مسلمانان کامياب شول او الجزاير ازاد شو فرانسويانو به له ضد نه هر څه پدوی غورځول ډک ډک يخچالونه به يې پری راغورځول کثافت دانی به يې پری راغورځولی او مسلمانان به يې پری په تکليف کول، ددغو ټولو حادثو او صحنو چې دوی به د مسلمانانو په مقابل کې کولی زما لپاره د ارتباط او نيزدی والی سبب کيدلی او له مسلمانانو سره مې مينه او محبت زياتيده ما چې کله د مسلمانانو دغه راز

صبر زغم او تحمل او برداشت د مشکلاتو په مقابل کې ولیده او د امې هم ولیدل چې ددی دومره مشکلاتو با وجود دوی روژه نیسی او په خپل دین باوری دی او خپله کامیابی حتمی ګڼی، د هغوی هغه انسانی اخلاق مې چې ولیدل ددغو ټولو ناخوالو سره سره د شپې ناوخته مې ښځه په اولاد مریضه شوه د وینو سیلان جاری وه، د شپی په ګرځیدو هم بندیز وه د سهار تر ۶ بجو پوری هیچا نه شوای کولای چې حرکت وکړی سهار مې چې کله امبولانس راوغوښت دغو مخفی تروریستی قواوو د کوځو نومونه هم بدل کړی وه ځای پیدا کول هم ډیر مشکل وه په هر صورت وروسته له ډیر وخته کله چې امبولانس راورسیده او شفاخانی ته لاړو داکتر دده ځخه د وینی د ګروپ پوښتنه وکړه د وینی ګروپ یې RH-O منفی وه نو ډاکتر راته وویل چی وینه ورته را پیدا کړه ! پدې کې الجزایری موټروان فورا غبږ وکړ چې زما د وینی ګروپ هم ورسره موافق دی او زه حاضر یم چې وینه ورکړم دی خبری زه په دهشت کې واچولم چې یوه بیګانه خارجی ته چې په دین کې هم ورسره شریک نه وه او د دوی سره د جنګ په حالت کې دی خو دوی بیا هم د هغوی ژوند بچ کوی او خپله وینه ورته هدیه کوی ماسم دستی د قران په لوستلو پیل وکړه او د قرآن کریم فرانسوی ترجمه می پیدا کړه او هماغه ورځ مې چې قران لوستل شورع کړه تر اوسه پوری مې نه دي پرې ایښی، دی وایې چې زه لاپخوا هم د قرآن له اواز سره اشنا وم ددفتر کړکی به چې خلاصه وی نو د دارالحفاظ د ماشمانو غږونه به مې اوریدل چې دقران کریم په حفظ مشغول وه او په شرنګ شرنګ به یې قرآن لوسته وروسته بیا یوه شوم چې د قران کریم حفظ کول د تلاوت په هر مسلمان لازم او ضروری کار دی.

## دویمه پیښه د ښکلا او هنر حادثه:

د ښکلا دغه هنر چې اسلامی هنرونو پوری اړه لري او زه یې د اسلام مقدس دین ته را کاږلم دا نو ځانګړې یوې قصې پوری اړه لری او هغه داسی چې زما ښایست او ښکلا ډیره خوښیږی زه لا وړوکی ووم چې ښکلي او زینتی شیانو سره به مې خاصه مینه وه او غوښتل به مې چې د ښکلا عمق ته

ځان ورسوم، بیا وروسته داسی وخت هم راغی چې زه د کلتور وزارت په مرسته د لایق او تکړه شاګردانو په ډله کې د یوه بورس مستحق وګڼل شوم، زما د ژوند کارونه به لاندی ډول دی له ۱۹۵۴ څخه تر ۱۹۸۰ ل پوری د امریکا، بریتانیا او المان په جریده کې د بالیه د متخصص ناقد (نقد کوونکی) په صفت مې کار کړی، همدا راز د ۱۹۷۱ ل نه تر ۱۹۷۳ ل پوری د تاریخ او د ښکلا د علم د استاد په حیث می د کولونیا په انستیتوت کې وم او همدا شان ماد المان د بالیه قوم په هکله یو را پور د کلتور وزارت ته تقدیم کړ خو چا چې زه پیژندلم نو هغوی داسی فکر کاوه چې زه د قانون او دپلوماسی متخصص یم نه د بالیه قوم— مراد هوفمان وایي چې زه د اسلام د حقیقی او معنوی هنرونو څخه ډیر زیات متاثره شوی یم خصوصا ما چی کله به اوسنی اسپانیا کې دمسلمانو معمارانو مهندسی دعرناطی په سره قصر کې او دقرطبه په مسجد کې ولیدل نو په یقینی توګه سړی ویلای شی چې دا دیو عظیم الشان تمدن نښې او اثار دي چې متاسفانه ننی نړی پری سترګې پټې کړې او هرڅه د ځان ګڼي.

زما هغه وخت ښه په یاد دې چې کله ماریا ریسلکا د قرطبه دلیدلو لپاره لاړه نو د خپلو لیدلو په پای کې یې داسی ولیکل:

د قرطبه تر لیدلو وروسته مې د مسحیت سره سخت وحشت ناک نفرت پیدا شو او زه باید قرآن ووایم ترڅو هغه اواز اورم خلک ښکلا او جمال ته را کاږی.

دی وایي چې اسلامی هنرونه زما لپاره یو د ښکلا او ښایست وطن جوړ شوی چې زه نشم کولای ددغه وطن له پولو څخه بیرون ووزم مرادهوفمان وایي چې ماد مختلفو زمانو هنری کارونه لکه غریفی، رومانی، قوطی، او د بیداری د عصر همدرانګه اصلی هنرونه او د نابغه ګانو هنرونه مطالعه کړی خو هیڅ یوه زه دومره نه یم متاثره کړی لکه چې اسلامی هنرونو به ما باندی کوم تاثیر کړی هوفمان مسلمانان د اسلامی هنرونو د قورت درک ته دعوت کوی او زیاتوی چې زه د یوه الماني فیلسوف په حیث ما چې کله د خپل کاتولیکی دین نیمګړتیاوی درک کړی نو ما هغه ترک او پریښوده.

هوفمـان وايـي چـې زه دا خوښــه وم چـې د مسـلمانانو پـه مجلسـونو او کنفرانسونو کې اشتراک وکړم ځکه چې داد لا زيات پوهيـدو او لـه مسـلمانانو سره د نزديکت سبب ګرځي او مسـلمانان هـم بايـد د غربيـانو پـه مجلسـونو او کنفرانسونو کې اشتراک وکړی ترڅـو د اسـلام هغـه صـحيح څيـره او درسـت فهم دغرپيانو په زړونو کې رسم کړی ځکه چې په غرب کې د اسلام په وړاندی ناوړه تبليغات روان دی.

مراد هوفمان وايې چې ماد کاتوليکی مذهب پـه اړه پـوره معلومـات لـرل او مسيحی مذهب مې خورا ښه پيژنده خو په شک کې وم او هميشه به را سـره دا پوښتنه وه چې ايا يوه پوه انسان ته دا مناسبه ده چې د خپلی پوهی با وجود بيـا هم د هغه مذهب او دين مسيحت وی ما پـدی هکلـه ډيـر ژور شـک درلـود او خپل ځان ته به می قناعت نه شو ورکولای سره له دې چی ما فلسـفه خوښـوله خو پوره يقين می لره چې داسی هيڅ کـوم دليـل او ثبـوت نشـته چـې د اللـه ﷻ موجوديت او شتوالی نفی کړی او زه پدی نظر باندې پـوره متمسـک وم چـې د خدای ﷻ د ذات نشتوالی په واقيعي توګـه غيـر متاکـد دی او د خـدای پـاک د شته والی او نشتوالی موضوع د يو ه شخص په خپلی ګروهې يا عقيـدی پـوری اړه لري نه دا چې سړی دې چې هر فکر وکړی نو هغه بـه خامخـا حقيقـت وی ما پخپله د الله ﷻ د وجود په هکله خپله عقيده پوره باوری کړه او د امـی ځـان ته ثابته کړه چې الله ﷻ شته بيا را سـره دا پوښـتنه پيـدا شـوه چـې انسـان څنګـه کولای له خپل خالق سره په رابطه کې شي ما ددې خبرې په ارتباط باندی پوره يقين لره بلکې دا مې د خپل ځان لپاره يو حتمی او ضروری کار ګاڼه همـدا راز زمونږ په ټولو کارونو کې الله ﷻ تصرف او دخيل توب او زمـونږ د اموراتـو پـه چلولو او را چلولو کې مـې د اللـه پـه واک او اختيـار پـوره بـاور لـره، زمـا دغـه قناعت هسی هوايي نـه وه بلکـې د انسـانانو د تـاريخ لـه مطـالعې او پـه علومـو برلاسي او دحق پيژندنې په نتيجه کې مې ځـان دې حقيقـت تـه ورسـاوه چـې طبيعت کله هم دانشی کولای چې د انسان ارتباط لـه جـامعې سـره او جامعـه د حقيقت په رڼا کې خدای پاک تـه ورسـوی، ايـا د علومـو تـاريخ ددې حقيقـت ګواهی نه ورکوی چې علمی حقـايق يـو بـل تـه پـه چټکـی سـره تغيـر ورکـوی،

ماددې حقیقت په درکولو سره د ځان لپاره وحی، دین عقیده بیخی حتمی او ضروری وګڼله او د امی ومنله چې زه باید د اسمانی وحی په رڼا کې د ځان لپاره دین او عقیده غوره کړم خو کوم دین ؟ کومه عقیده ؟ یهودیت؟ مسیحیت؟ او که اسلام ؟

ددې پوښتنې ځواب مې د خپلې دریمې تجربې (فلسفې) څخه یاد کړ او هغه داسي چې ما د سوره (النجم) دغه آیت (ولاتزر وازرة اخری) چې کله ولوست چې هیڅوک د هیچا ګناه نه پشا کوی دا آیت مسحی عقیدی ته ډیره لویه صدمه ده ځکه هغوی عقیده لری چې مونږ کومه ګناه کوو د هغی پیټی به راسره حضرت مسیح وړی او مسیح؈ خپل ځان زمونږ لپاره قربانی کړی لنډا دا چې کله د دوی دغه خرافی عقیده ولیده او له بل طرف می د اسلام هغه ثابت تل پاتی اصول مقررات لکه ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ۝٢ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۝٣ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ۝٤﴾، ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝٥﴾ همدا راز د اسلام د عباداتو ترتیب او تنظیم لکه پنځه وخته لمونځ، روژه، زکات او د فقراو لاسنوی او کومک او بل لور ته د هغوی (کلیسایانو) ظلم استبداد او حق او ناحق د مظلمو انسانانو مالونه په یوه نوم او په بل نوم غصبول. بالاخره دغه ټول شیان ددې باعث شول چې زما هغه نظری اسلام چې لا پخوا مې منلی وه او قناعت مې پری حاصل شوی وه په عملی اسلام بدل شو او د اسلام ټول اصول او مقررات مې په سر سترګو ومنل او خپل ټول کړه وړه مې د اسلام په چوکات کې منظم کړل او د اسلام د احکامو په زده کړه می پیل وکړ.

# پنځم څپرکی:
# د فلیپینانو د مسلمانېدو کیسې

## د یو فلیپیني کشیش سامي فرناندس د مسلمانېدو کیسه

سامي فرناندس د (مکسمینوفرناندس) زوی ده چې د سیبوی په جزیره کې د فلپین د بیسایس نومي سیمه کې يې سترګې نړی ته پرانستي دي، ۱۹۷۹ کال کې د لاهوت پوهنتون نه د ایدیولوژیکو تعلیماتو په برخه کې فارغ شو، دا پوهنتون ټول منصرین (چې خلک نصرانیان کوي) او کشیشان روزي نو ځکه فرناندس هم د پورتستانت د مذهب یو کشیش په توګه فارغ شو، له فارغېدو وروسته هر سړی مکلف وه تر څو خپل د کار دوره چې اتلس میاشتې وه د خلکو په نصراني کولو یا عیسوي کولو کې تېره کړي نو فرناندس وایي: ما هم د خپلې پرکتیک دورې بشپړولو لپاره د فلپین په جنوب کې د مسلمانانو په نصراني کولو لاس پورې کړ، همدارنګه مونږه باید یو څېړندویه رساله یا کتاب هم لیکلی وای او نېکبختانه چې زه مجبوره وم تر څو د ختیځو سیمو د ادیانو په هکله یو څه ولیکم چې پدې دینونو کې هم راته اسلام تر نظره ښه راغی او پدې مې پیل وکړ. کفار زیار وباسي چې له هرې ممکنه لارې څخه مسلمانان له خپل دینه واړوي نوموړي دې هدف ته د رسېدو لپاره لومړی هڅه کوي چې د مسلمانانو د فکري اساساتو په هکله معلومات پیداکړي او بیا د هغوی د ضعف ټکي لټوي او په مختلفو لیارو لکه ژبني تعصب، قومي او قبیلوي او داسې نورو باندې په خپلو منځو کې په جنګ اچوي تر څو یو بل د مرګ په کومې کښېنوي.

فرناندس وایي: ما د خپل علمي اثر د لیکلو لپاره د اسلامي کتابونو او مراجعو پر راټولولو پیل وکړ او ډېر کتابونه مې د اسلام، حضرت محمدﷺ په هکله وموندل، دا ځکه چې مونږه په یو ځای کې ویلې که غواړې چې پر دښمن

برلاسی شې نو بايده ده چې د هغوی لـه هـر څـه څخـه پـوه اوسـې لکـه فکـري اساسات، تکتيکونه....

که څوک غواړي اسلام زده کړي نو د کليسا له متعصبه کشيشانو څخـه يـې نشي زده کولای ځکه هغوی خلکوته د اسلام بله څېره ورښيي، هغـوی غـواړي خلک له حقانيت څخه لرې وساتي، مسلمانان تروریست، بې علمه، کـم عقـل او بد اخلاقه خلـک معرفـي کـوي او ځيني وخـت هغـه تصـويرونه چې د کـوم مسلمان څخه په منفـي حالـت کې اخسـتل شـوي وي خلکوتـه ښدي او يـا هـم ځيني فلمونه جوړوي چې په هغو کې د مسـلمانانو د خپلمنځـي اختلافـاتو پـه هکله ډېر افراط شوي وي او داسې نور، فرنانـدس وايـي: مـا ځينـي کتابونـه لـه تنصيري او تبشيري کتابتونونو نه په لاس راوړل خو هغه غير مسلمانانو ليکلـي ول او څه يې چې په زړه ول هغه شيان يې پکې ځاي کړي ول ما هـوډ وکـړ او له ځانه سره مې وويلې چې ولې د مسلمانانو له خپلو ليکنو نه اسلام نـه څېـړې چې د غير مسلمانو له ليکنو څخه يې څېړې د همـدې لپـاره بـازار تـه ووتـم او دوه کتابونه مې پيدا کـړل چې لـومړی يـې د سـتر شخصـيت او تکـړه انقلابـي عالم سيد ابولاعلی مودودي رحمه الله د (اسـلام هغـه ديـن چې تهمـت پـرې لګـول شوی) تـر نامـه لانـدې او بـل د حمـوده عبـدالعاطي (اسـلام تـر مېکروسـکوپ لاندې) ول.

فرناندس د دواړو خواوو له کتابونو څخه يعنې د مسلمانانو پوسيله د اسـلام تشرېح او د نامسلمانو لخوا د اسلام پـه تشـريح کې يـو سـتر تـوپير ومونـد، دا ځکه چې نامسلمان پوهان د اسلام د تخريب لپاره دوه ستر ګذارونه تل کوي:

لومړی: دا چې د اسلام څېره ناقصـه او نيمګـړي خلکـو تـه وروپېژنـي پـدې ډول چې يوه برخه يـې راخلـي او لـدې سـره بلـه مرتبطـه برخـه چې بيلـه هغـې رښتيا هم ناقص شمېرل کېدای شي نه راخلي، او پـه همـدې يـوې برخـې خپـل ګوزارونه شروع کوي.

دويم: دا چې دوی خو ډېر متعصبه او سرسـخت د اسـلام دښـمنان دي نـو ځکه له هماغه اوله د خلکو فکرونو کې دا کينوي چې اسلام نيمګـړی ديـن ده،

غیرعادل ده، حق نه ده او داسې نور په هر ځای کې بېځایه بېځایه د همدې کلماتو یادونه کوي.

فرناندس وایي: کله چې ما د مودودي صاحب کتاب ولوست نو یو عجیبه خوند پکې پیدا کړ خدای دې دهغه په قبر نورونه و اوروي، د هغه د ټول کتاب لوستلو وروسته ما ځان کې ستر بدلون کاته او همدارنګه د نامسلمانو د وګړو اعتراضونه او تعصب همدلته راته د مودودوي صاحب لدې کتاب نه پته ولګېده، مودودي صیب اسلام د ژوند د همېشنې او یوائینې او کاملې تګلارې په حیث راپېژندلی وه او رښتیانی چې همداسې هم ده. تر دې وروسته زما مینه له اسلامي کتابونو سره زیاته شوه او غوښتل مې چې لا زیات یې ولولم، د همدې لپاره مې د اسلامي کتابونو د وقف مرکزونو سره اړیکې و نیولې او ډیری کتابونه مې لاسته راوړل، د نوموړو کتابونو له ډلې څخه یو هم د افضل الرحمان لیکلی کتاب (محمد د بشریت معلم) تر نامه لاندې وه چې پر ما یې تر اوسه زیاته اغېزه پرېښې ده.

لدې وروسته ما د اسلام سهم فهم په خپل ځان کې لیدلی او احساسولی شو او دا فهم هغه وخت پیدا شوی وه چې ما نور دینونه هم لوستلي ول خو د یوه حقانیت هم له اسلام پرته راته ثابت نشو. همدلته وه چې د عیسویت نیمګړتیاوې راته بربنډې او په ګوته شولې، هغه عیسویت چې دا اوس تحریف او بدل شوی ده هېڅ کومه ګټه او یو سمه وړاندوینه یا کړنلاره خپلو پیروانو ته نه وړاندې کوي، یوائې په اوتو بوتو بوخت وي، دا ځکه چې اوس عیسویت د کلیسا د کشیشانو په غوښتنو او د کلیسا په څلور دیوالونو کې بند ده، که له عیسویت نه د ټولنیز ژوند په اړه څه وغواړې، یا د اقتصاد یا د حاکمیت په هکله نو هېڅ شی به درنکړای شي ځکه چې په منځ کې تش ده. ما د یو کال له لوستلو وروسته اسلام د خپلو پوښتنو لپاره ښه مثبت ځواب ورکوونکی دین ومونده پداسې حال کې چې مسیحیت مې لدې پوښتنو څخه ډېر پخوا عاجز او ناتوانه شوی وه، ما حقیقت ومونده خو اوس هم د کلیسا رواجونو ته تلم راتلم ولې قناعت مې پرې نه وکړی.

فرناندس وایي: کله چې زه کشیش وم نو د کلیسا لخوا پدې مجبور وم چې له خلکو څخه لس فیصده مالیه یا باج راټول کړم، ما به چې دا مالیه له غریبو خلکو څخه اخستله نو د یو ډول خجالت احساس به مې کاوه ځکه دا یو ستر ظلم وه، بیا به دا مالونه د کلیسا کشیشانو په خپلو خېټو کې اچولې، ما د خپل ضمیر پوسیله نورې داسې پېښې نشواى لیدلاى نو ځکه مې د مالیو ټولول ودرول، په یو تلویزوني چینل کې مې د (انجیل پیغام) په نامه یو پروګرام درلوده هغه مې هم بند کړ او د خلکو نصراني کولو څخه مې لاس ونیوه، له لږې مودې وروسته مې د کلیسا ټول رواجونه مات کړل او کلیسا ته له ورتګ نه انکاري شوم چې څه وخت پورې به مې ملګري راته راتلل او راته به یې بېرته د کلیسا د تګ خبرې کولې خو ما ورسره نه منله او ورته به مې ویلې چې زما روح نا ارامه ده.

خپلو مطالعو ته مې دوام ورکړ او پایله کې اسلام زما زړه ته کیوته، مخکې لدې چې خپل اسلام اعلان کړم ټولو انساني وجایبو ته چې اسلام پرې امر کوي مې غاړه کېښوده، زما زړه کې له هر څه د مخه د (لا اله الا الله) کلمې ځای ونیوه ځکه د درې ګونو خدایانو موجودیت هسې یوه ټوکه وه چې خلکو د ځان لپاره غوره کړې وه بله دا چې انسان که د خدای په څېر شي نو د الوهیت ځانګړتیا ترې ختمیږي. درې شیانو زما مینه له اسلام سره لا زیاته کړه:

لومړی: اسلام د بشریت له فطري طبیعت سره سمون لري

دویم: د اسلام شمولیت او هر اړخیزوالی

دریم: د اسلام نړیوالتوب

کله چې د کلیسا مشران او زما پخواني ملګري لدې کار څخه خبر شول نو ماته راغلل او راته یې وویلې: څه شی غواړې چې درته آماده یې کړو، ما ورته په ځواب کې وویلې: څه چې زما غوښتنه وه هغه ما ته راورسېده او دا کومه شخصي یا د ترېګنی موضوع نه ده بلکه د اعتقاد موضوع ده چې نور نشم کولای د عیسویت په دین کې پاتې شم. الله ﷻ به دا اوس غوره ګڼلې وي چې زه مسلمان شم او پخوا به راته د مسلمان کېدو لپاره وخت مساعد نه وه یا به

خدای نه وي غوښتلي. هغوی ته مې د اسلامي عقیدې اساسات واورول خو هغوی ددې په مقابل کې خپل رد شوي چلونه او نظریات را اورول او له هغه کړنلارو څخه یې کار اخیست چې مونږه به د نورو په نصراني کولو کې استعمالول ډېره مسخره کوونکې خبره وه ځکه له هماغې فاکولتې څخه زه هم فارغه وم او دا هم خو دې زما د بې لارې کولو لپاره دا شیان استعمالول ما یې په ځواب کې هغه ورته واورول چې د خولې چوله کولو جرئت یې نشو کولای او پای کې مې ترې څو پوښتنې وکړې او ورته مې وویلې چې که دا راته ثابته کړی نو زه به بېرته عیسوي شم.

- تاسې په انجیل کې څه دلیل لری چې (مسزوایت) د الله رسول ده؟
- تاسې د انجیل په کوم ځای کې لیدلي چې له عامو مسکینو او مالدارو خلکو څخه لس سلنه مالیه واخلی؟
- د پیانو، ګیتار یا د موسیقی بلې کومې آلې غږول د لمانځه په وخت کې د انجیل په کومه پاڼه کې راغلي دي؟

دوی له ځواب ورکولو څخه عاجز پاتې شول نو ما ورته وویلې چې اوس حق معلوم او تفکیک کړای شو، ما د هغوی د عقلونو په تناسب ورته دعوت ورکړ خو و نه مانه او د باندې خلکو ته یې دا اوازه خپره کړه چې زه لیونی شوی یم او زما نوم یې د کلیسا له کتابونو څخه ختم کړ. ما له هغه نه وروسته خپل نوم هم په (نجیب رسول) باندې بدل کړ.

پر وحدانیت باندې تر اعتراف کولو وروسته د الله امتحان راباندې پیل شو، کورنی، کور، ځمکه، پیسو، موټر او د ژوند له ټولو سهولتونو څخه وشړل شوم، مسلمانانو به راته د حکومت جاسوس ویلې او دا یې انګېرله چې سم ایمان یې نه ده راوړی او کفارو خو د مسلمان په نامه نه پرېښودم، بالاخره مې خپل شخصي سامان واخست او په یو مسجد کې مقیم شوم، د څلوېښت ورځو اوسېدو نه وروسته یو مسلمان زما خواته راغی او راته یې وویلې چې برسېره پر دې چې شکمن هم یم خو بیا هم تاته بلنه درکوم چې کورته راسره ولاړ شې، نوموړي به هر وخت ماته ډوډی او اوبه راکولې چې واقعاً داسې مسلمانانو ته مونږه هر وخت اړتیا لرو.

ما ځان ناهيلى نه کړ او غوښتل مې چې اسلامي بلنې ته بايد کار ووايم، زمونږ نژدې شاوخوا ته يو راديو وه چې د مسيحيت خپرونې به يې کولې، د نوموړې راديو مدير زما پخوانى ملګرى وه زه ورته ورغلم او خپله هيله مې ځرګنده کړه نوموړي هم راسره ومنله چې اونى کې يو ساعت زما لپاره راکړي او ما په هغه ساعت کې (اسلام د راډيو په څپو کې) تر نامه لاندې خپرونه چلوله او زيات محبوبيت يې پيدا کړى وه، ما به ماشومان کتل چې د پروګرام تر خلاصېدو وروسته به د دراوزې مخې ته راغلي ول او ما سره به يې ليده کاته کول. د همدې مسلمانو په مرسته او د خداى په فضل نوموړى پروګرام ورځني ډول غوره کړ او هره ورځ به نشر کېده. زما ښځه هم مسلمانه شوه او زه بېرته خپل اصلي وطن سيبو ته وګرځېدم هلته کوم راډيو يا نور مساجد څه نه ول ما دعوت د دکانونو او د سرکونو له غاړو څخه پيل کړ او بالاخره ډېرو خلکو د اسلام دغه بلنه ومنله او مسلمانان شول، زمونږه شمېره ورځ په ورځ زياتېدله تردې چې مو لومړى لمونځ په يو باغ کې په جماعت سره اداء کړ، پدې وخت کې د پارلمان يوه غړې د مدينې په نامه هم مسلمانه شوه نوموړې زمونږه موقف نور هم تقويه کړ او د راډيو لومړني نشرات مو پيل کړل، تر دې وروسته ماته د ليبيا څخه د اسلامي کنفرانس د ورکولو بلنه راغله او دا لومړى ځل وه چې د فلپين څخه دباندې زه د کنفرانس ورکولو لپاره تلم، تر دط وروسته بيا نورو هېوادو لکه ماليزيا، تايلنډ، سنګاپور، او نورو اسيايي هېوادو ته هم ولاړم. لله الحمد


د يو مسلمان په صفت دا پر ما فرض دي چې د اسلام دين ته بلنه وکړم او ما دغه بلنه له کشيشانو څخه شروع کړېده، ډېرو لويو لويو کشيشانو ته مې بلنه ورکړې ده خو د هغوى پوچ مغزونه تر اوسه لا تر اغېز لاندې نه دي راغلي، زما تخصص هم د خلکو بلل د دين لوري ته په اسلوبو کې دي او زه هم دېته ډېره توجه کومه د همدې لپاره مې زيات کنفرانسونه هم داير کړي دي او څه موده مخکې مو لومړى راډيويي پروګرام د (اسلام غږ) تر نامه لاندې په اونى کې يو ځل د فلپين په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره خپور کړ او تر دې وروسته به هم خپرېږي او زه به خپل کار ته ادامه ورکوم انشاء الله.

نصرانیان غواړي په فلپین کې د میندناو په نامه مسلمانه سیمه کې عیسویت خپور کړي د هغې لپاره دوی له مختلفو لارو کار اخلي او د عیسوي کولو لپاره یې د انګلستان، امریکا او واتیکان درې واړو کلیساګانو غټ غټ منصرین راغلي دي، دوی دلته په میلونونو ډالر مصرفویي چې د انساني مرستو په نامه خلکو ته دوکه ورکوي، یعنې که څوک دهقان وي په مقابل کې یې ورته ټکتر،تخم او پارو اخلي، د ماشومانو کفالت کوي او د روزنې لپاره یې عیسوي مکاتبو ته بیایي، سرکونه او شفاخانې جوړوي تر څو پرې خلک اعتماد وکړي، د غریبو با استعداده ماشومانو پلرونو ته پیسې ورکوي او دوی ترې بیایي او داسې نورې ډېرې لارې شته چې دوی دلته ترې کار اخلي. خو مسلمانان کولای شي دغه ټول کارونه د مساجدو پوسیله چې دیني پروګرامونه پکې جوړ کړي او د مدارسو پوسیله له منځه یوسي او خنثی کړي، له یاده ونه وځي چې د فلپین حکومت خپله هم عیسوي حکومت ده او د عیسوي کولو لپاره یې رسنی هم ددې کشیشانو په خدمت کې ورکړي دي. محترم ورور نجیب رسول یې په اړه وایي: د فلپین حکومت یو سیکولر حکومت ده او د خپل جوړ شوي قانون په اساس حکومت دا حق نه لري چې کوم دیني جریان سره مرسته وکړي خو ددې برعکس بیا د تنظیمونه او ادارې جوړې شوي دي او حکومت د مسیحي کشیشانو او بلونکو په واک کې ورکړي دي او حتی که څوک وغواړي مسیحیت پر لور بلنه ورکړي نو هغه د کلنی مالیي څخه هم معاف کیږي.

خو ددې خطرونو هېڅ پروا هم نه راځي ځکه د لسو کلونو راهیسې ځلوبښت زره کسان اسلام سره یو ځای شوي که هغوی د مسیحي کولو هڅه کوی نو دلته خلک مسلمانیږي او دغه نوي مسلمانان د اسلام لپاره ډېر ګټور او اغېزمن تمامیږي، اوس نو عیسوي بلونکي حیران پاتي دي او وایي چې څه شوي دي. زما په اند د اسلام راتلونکی په فلپین کې ډېر ښه ده او انشاء الله یوه ورځ به داسې راشي چې لکه اول غونډې فلپین بېرته یو مسلمان هېواد بانـدې مبدل شي.

د نړی ټولو مسلمانو او مسلمانو حکومتونو تـه محتـرم ورور نجیـب رسـول وايي: (غواړم چې تاسې ته ووایم او ښایي تاسې خپلـه هـم پـوه اوسـی چـې د نړی د انسان په لاس جوړشوي قوانینـو اوتګلاروتـه مـونږه هـېڅ اړتیـا نـه لـرو، همدا قرآنکریم مونږه ته بسنه کوي، او راځی چې خپلو بچیو ته د اسلام بانـدې د قربانېدلو درس ورکړو او هر څوک پـه خپلـه رشـته کې د اسـلامي خلافـت د قائمېدو لپاره هڅه او هاند وکړو، کله چې اسـلامي خلافـت پـر نـړی راشـي، د ټولو مسلمانانو یواځینی یـو اقتصـادي سیسـتم وي، یـو یـې پـولي واحـد وي او ټول په یوه بیرغ راټول وي نو د نړی هېڅ قوت به یې د لاندې کولو جرئت هـم ونکړي، په همدې هیله چې په نړی یو اسلامي خلافت راشي او کله چې راغی او نامسـلمانو د مسـلمانو وګـړو قـوت ولیـده نـو بیـا بـه ډلـې ډلـې دې دیـن تـه داخلیږي، وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین).

## د برناردو د مسلمانېدو کیسه



**له یو ژوند نه تر بله**

له مسلمانېدو وروسته نوم یې ولید ده، پخوانی دیـن یـې مسـیحیت وه، ۴۵ کاله عمر لري، واده یې کړی یو زوی او یوه لور لـري اوسـمهال پـه یـو څیړنیـز انستیتیوت کې دنده لري او په عیسویت کې د موارني مذهب درلودونکی ده.

ولید وايي: له اسلام راوړلو مخکې ژوند مې ډېر غموونکی و، نفس مـې لـه لاسه ورکړی وه، کورنی مې د لذتونو او بې حیایی په دام راګیـره شـوې وه خـو

له اسلام راوړلو وروسته مې ژوند لکه ګل داسې جوړ شو، نېکبخته ژوند مو پیل کړ، او یوه حیاناکه او پاک سیرته کورنی مو پیدا کړه.

کله مو چې هغه ته د کیسې د اورولو لپاره بلنه ورکړه نو په خورا مینه راغی کښېناست او خپله کیسه یې پیل کړه، خو په پیل کې یې اواز بند بند کېده او له سترګو څخه یې اوښکې راغلې نوموړي خپله کیسه داسې پیل کړه: ډېرې غمونکې ورځې وې کله مې چې ښځه طلاقه کړه نور نو راته ژوند خوند نه راکوه، ما چې په کومه منطقه کې ژوند کاوه مسجدونه پکې ډېر کم پیدا کېدل ځکه چې هلته د کلیسا د واکمنانو واکمني چلېده، ما له اسلام نه هېڅ معلومات نه درلودل یوازې همدومره پوهېدم چې مسلمانان ټول تروریستان دي او هغوی خدای هم نه لري چې عبادت یې وکړي. ولې زما ژوند ډېر خوښوونکی نه وه او زمونږه کورنی هم ورور د لذتونو پر خوا روانه وه له همدې کبله مې خپله ښځه هم طلاقه کړه او کله مې چې داکار وکړ نور نو ژوند خپله د خوښۍ مخه هم له ما وګرځوله او زه مجبور شوم چې د خپل د ژوند لوری بدل کړم. کویت ته راغلم او تر ډېرته تګ پورې ما له اسلام څخه زیاته اغیزه خپله کړې وه، هر څه زما د غوښتنې پر خلاف ول او اسلام ما یو سم او ښکلی دین وموندہ کله چې زما مسلمان ملګري پدې وپوهېدل چې زه ډېرته د شخصیت جوړېدنې په لټه کې یم نو راته یې د اسلام پر لور بلنه راکړه تر څو اسلام مطالعه کړم، کله مې چې داسلام په هکله ولوستل نو هېڅ یو دین مې لدې دین څخه ښکلی پیدا نکړ.

### د اسلام د پېژندلو ډول



هلته په کویت کې (د نویو مسلمانانو لپاره د اسلام پېژندنې مرکز) ته ولاړو، واقعاً یو په زړه پورې مرکز وه، د هر چا لپاره او د هرې ژبې لپاره هر ډول سوالونو ځوابولو لپاره، ما پکې

فلیپینان هم پیدا کړل چې په مختلف تدریسونه یې کول، چا عربي ښووله او چا هم بل علم، ما هم همالته د خپل د هدف لپاره ډېر څه زده کړل او د الله په اړوند همدلته پوه شومه چې ﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۝٣﴾ ده همدارنګه د حضرت عیسیؑ او نورو پیغمبرانو په هکله هم پوه شوم چې څه ډول دنیا ته د خدای د پیغام د خپرولو لپاره راغلي دي.

د اسلام د زیاتې مطالعې وروسته په همدې دین زما قناعت راغی او د ځان لپاره مې د راتلونکي لپاره غوره کړ او پدې وپوهېدمه چې یواځې همدغه دین ده چې زما ټولو پوښتنو ته هر وخت او هر چېرته سم او مثبت ځواب ویلی شي.

## د رودلیوفرناندو د مسلمانېدو کیسه



### آیا انجیل د خدای کلام ده؟

له مسلمانېدو وروسته نوم یې ذوالفقار ده، پخوانی دین یې مسیحیت وه او مذهب یې کاتولیک وه، د مسلمانېدو لامل یې د شیخ احمد دیدات د یو کتاب (آیا انجیل د خدای کلام ده) تر نامه لاندې مطالعه وه.

کله مې چې ترې وغوښتل تر څو زما سوالونو ته ځواب راکړي نو ډېر په مینه راغی خو لومړی پوښتنه مې چې ترې وکړه چې څنګه مو د اسلام په مقدس دین ایمان راوړه نو سر یې ښکته واچوه او بېرته چې یې پورته کړ له سترګو څخه یې اوښکې رواني وې په ژړانده لهجه یې خپله کیسه داسې پیل کړه:

مونږه په فلپین کې پدې عقیده وو چې اسلام د تشدد او زورزیاتي دین ده، ټول مسلمانان تروررستان دي، په غرونو کې اوسیږي، له علم او پوهې لرې پاتې دي، راښکته کیږي او خلک ناحقه وژني، دا ټول هغه څه ول چې د نصراني رسنیو مونږه ته اسلام راپېژندلی وه. ما غوښتل چې د اسلام په اړه مطالعه وکړم او د هغه عیبونه ځانته څرګند کړم ځکه چې مونږه ته زیات

عیبجن معرفي شوی و د همدې موخې لپاره د اسلامي کتابونو په لټه کې شومه او په ډېره سختۍ مې د شیخ احمد دیدات کتاب (آیا انجیل د خدای کلام ده) تر نامه لاندې پیدا کړ، کله مې چې دا کتاب ولیده زړه مې ټکان وخوړ او لږ بې سیکه غوندې شوم ځکه چې ما څنګه شک کولای شو چې انجیل د خدای کلام نه ده خو څه وکړم د کتاب عنوان همداسې رابښکل شوی و، ددې لپاره چې د خپل دین نه مې دفاع کړې وي او خپل فرض مې سرته رسولی وي د کتاب په مطالعه کولو مې پیل وکړ او تر څو ځان هم و ازمایم چې زه د خپل دین څخه دفاع کولی شم او که نه، کله مې چې د کتاب په لوستلو پیل وکړ نو ورو ورو مې مینه د اسلام پر لور پیدا شوه او دېته یې و هڅولم چې د اسلام په اړه مطالعه وکړم. له لږې زیاتې مطالعې وروسته مط د اسلام او مسیحیت تر منځ په مقایسوي زده کړه باندې پیل وکړ نو د عیسویت په هکله زیاتې پوښتنې راته پیدا شوې، آیا عیسی نصراني وه او دین یې نصرانیت ده؟ حق دین کوم دین ده؟ څه وخت پیل شوی؟ او څنګه پیل شوی؟

ډېر اندېښمن شوم، سترګې مې کم دیده شوې، بې سیکه شوی عقل د کشیشانو پر لور لاړم خو هغوی به هم د ځواب راکولو پر ځای راباندې غوصه کېدل تر دې چې نژدې و چې لیونی شم، خو کله چې مساجدو ته ولاړم هلته هر عالم په خورا ورین تندي ځواب راکاوه، د عادت له مخې مې د یوه عالم په خوله اکتفا نه کوله او څو ځایه به مې یوه پوښتنه له څو عالمانو نه کوله. پایله کې پوه شوم چې اسلام حق دین ده او عیسویت اوس باطل ده او انجیل کې زیاتې لاسوهنې شوي خو په پیل کې چې پر عیسی علیه السلام نازلیده د خدای کلام وه ولې وروسته وروسته په نورو نومونو یاد شو او زیاتې بدلونې پکې وشوې.



زما په اسلام زما د کورنی هیڅوک هم خبر نه ول او تل به یې همدا له ما پوښتنه کوله چې ته چېرته ځې او څه کوې، څه شي دومره سرګردانه کړی یې، زما له اسلامي درسونو سره مینه زیاته شوه، او بالاخره مې د شهادت کلمه په پوره قناعت او د ذهن په پوره اطمئنان سره په خوله راوړله او مسلمان شوم.
(رضیت بالله ربا وبالإسلام دینا وبحمد صلی الله علیه وسلم نبیا ورسولا)

ما به تل خپل کارونه له خپلې کورنی نه پټ کول خو یوه ورځ مې اودس کاوه چې یوه ورور مې ولیدم او رانه یې وپوښتل چې ته ولې خپل د بدن غړي پدې ډول وینځې ما ورته ځواب نه ورکاوه، لمونځ به مې د بام په سر کاوه خو تر ډېره مې ترې اسلام پټ ونشو ساتلی ځکه زما په ژوند کې زیات بدلون راغلی وه او تل به یې هغوی ماته متوجه کول بالاخره ټول خبر شول چې زه مسلمان شوی یم، زما ددې خبرېدو سره یې ماته کومه ستونزه جوړه نکړه، مور او پلار مې په عیسویت کې وفات شول او ډېر متاسف یم چې هغوی د ایمان د خوند له چښلو پرته ولاړل او ما ورته د بلنې کومه موقع پلاس رانه وړه، ورونو ته مې بلنه ورکړه، او ډېر ټینګار مې پرې وکړ خو ځینو زما بلنه ومنله او ځینو نه، خو بیا هم د ټولو عقیده لږه څه ناڅه جوړه شوېده او زه هیله من یم چې زما په پل قدم کښېږدي او هغوی هم مسلمانان شي.
زما په ژوند کې زیات بدلون راغی، له لهویاتو او الکلیاتو څخه منع شوم، همدارنکه زیات نرو نشه یي توکي مې هم استعمالول له هغې نه هم منع شوم، هېڅ حرام کار ته زړه نه ښه کوم ځکه چې زما پر اوږو سخت مراقبت کوونکي شته دي او تل مې څاري نو زه څنګه داسې کارونه وکړم چې په اخرت کې د هغې په سبب نیول کېږم؟ لمونځ کومه، روژه نیسمه او هڅه کوم چې له خدای تعالی سره ټینګې اړیکې وساتم.
کله چې مسلمان شومه نو د اسلام پېژندنې مرکز چې کویت کې ده هلته ولاړم او اسلامي درسونه مې پیل کړل، ددې تر څنګ مې حفظ هم کاوه او بالاخره شل سورتونو مسابقه کې دویم نومره راغلم. بیا مونږ ټولو سپین احرامونه تړلي ول او د حج پر لور ولاړو او تلبیه مې ویلې، ټول غړي مې په حرکت کې او د خوښی او شکرانې اوښکې مې له سترګو جاري وې.

## د هېرمن تشنکو د مسلمانېدو کیسه



له مسلمانېدو وروسته نوم یې محمد عبدالمؤمن ده، پنځه څلوېښت کاله عمر لري او پخوانی دین یې مسیحیت وه، په یو شرکت کې کار کوي. نوموړی د خپل اسلام راوړلو په هکله وایي: ما لکه د نورو عیسویانو په څېر د اذان غږ نه و اورېدلی خو د کلیسا د ناقوس غږ به راباندې ډېر اغېزمن تمامېده، تل به مې د کلیسا عبادت ته ځانګړې پاملرنه کوله، زه کشیشانو روزلی ومه او د هغوی په ټولو خبرو مې باور درلوده، ما درې خدایانو باندې ایمان لره او عیسی‌علیه‌السلام مې د خدای زوی باله او پدې معتقد وم چې که څوک دا عقیده ونلري نو لمونځ او عبادت یې هېڅکله هم نه قبلیږي دا چې عیسی د بنده د ګناهونو بخښلو لپاره د خدای تر منځ یوه وسیله ده او کشیشان کولای شي د مسیحیانو ګناهونه وبخښي. زمونږ ځای کې په نامه مسجد نه تر سترګو کېده چې زه یې له همدې امله په تیارو کې پاتې وم، د اسلام په اړه مې معلومات نه درلودل او هېڅ مسلمان سره مې هم اړیکې کله نه وې نیولې.

له مکتب لوستلو وروسته مې پوهنتون وویلې او د انګلیسې په برخه کې مې سند تر لاسه کړ او بیرته چې له کوم پوهنتون نه فارغ شوی وم همالته استاد شوم خو زما هیلې لوړې او غوښتل مې چې د خپلې او خپلې اوه کسیزې کورنی ټولې هیلې باید پوره کړم نو ددې لپاره مې باید بل چېرې ځانته یوه بله دنده پیدا کړې وای ما کولای شو چې په بهرنیو هېوادو کې هم کار وکړم نو په لټه کې شوم، په فلپین کې خو د کویټ نوم د کار او بار په هکله خلک ډېر یادوي او

پیسې یې هم قیمته دي بس هوډ مې وکړ او کویت ته ولاړم چې لله الحمد ټولې هیلې مې هلته پوره شوې.



کله چې کویت ته ورسېدم له څه وخت تېرولو وروسته څرنګه چې زه مسیحي وای نو ما باید یوه کلیسا پیدا کړې وای او خپل عبادت مې پکې سرته رسولی وای ما دا کار کاوه او له زیات لټون وروسته مې کلیسا پیدا کړه او د معمول په څېر به د عبادت لپاره ورتلم خو د کار او دندې او نور ځایو کې به مې پنځه وخته ځیني اوازونه تر غوږو کېدل چې نه پوهېدم چاته نارې وهي، شاید زما د نه پوهېدلو یو سبب هم په عربي ژبه د نه پوهېدلو له امله وي خو ددې تر څنګ پدې غږ کې یو ډول داسې اغیزه موجوده وه چې زه به یې په خپل لور کش کولم، له لږې مودې وروسته پوه شوم چې دا مسلمانانو ته بلنه ورکوي تر څو د خدای عبادت ته راشي لکه څنګه چې په کلیسا کې زنګ شرنګیږي.

دې غږونو زه دې ته اړ کړم چې د اسلام په اړه باید معلومات پیدا کړم هسې هم په کویت کې زیات کتابونه پیدا کیږي ځکه چې اسلامي هېواد ده ما ډېر کتابونه پیدا کړل او دا ټول کتابونه له اسلام سره د پېژندنې اسلامي مرکز لخوا خپاره شوي ول، مونږه فلیپینیانو ځانته هوټل درلود او هلته به تل ددې لپاره هم ورتلو چې که څوک نژدې دوستان راشي او زمونږ د کورنی احوال راته راوړي او یا زمونږه احوال زمونږ کورنی ته یوسي، یوه ورځ دې هوټل ته ولاړم او هوټل کې مې یو فلیپیني سره ولیدل چې ډېر نیک زړی سړی وه، سلام یې راته وکړ او په فلیپیني ژبه یې خپل پېژندګلوي پیل کړه، ویل یې چې دلته له اسلامي مرکز سره کار کوي، پخوا مسیحي و او اوسمهال پرې خدای ﷻ خپل فضل کړی او مسلمان شوی ده، هغه پوهېده چې نامسلمانو په

ځانګړي توګه مسیحي وکړو سره کوم ډول خبرې وکړي، دهغه خبرو پر ما زیات اغېز پرېښود او زما لپاره ډېر ګټور هم وه.

دې سرې زه د اسلامي مرکز لیدلو ته راوبللم او ما هم ورسره د پنجشنبې ورځ وعده کېښوده، مرکز ته ولاړم، ای زما خدایه دا څه وینم، څومره لویې لویې ناستې، څومره فلیپینان آیا دا ټول دعوت شوي دي، ډول ډول خلک او مختلف درسونه یې اورېدل او هر چا د اسلام په اړه معلومات پیدا کول، زما تګ هم د اسلام سره د پېژندنې لپاره شوی و، لېږې شیبې وروسته مونږ ه فلیپینانو سره ناسته وکړه او خبرې اترې مو سره تبادله کړې، زه درسي ټولګیو ته ولاړم او ډېر مې خوښ شول، بله جمعه هم راغلم او کرار کرار مې د ټولګیوالو سره مینه زیاته شوه ددې په مقابل کې مې له کلیسا سره مینه کمېدله لکه څرنګه چې د شپې تیارې د ورځې په رڼا کې ورکیږي.



زه د خپل حال څخه بې خبره شوی وم، خو ددې معلوماتو پوسیله مې له زړه د تیارو پردې لرې شوې ځکه علم نور ده چې د انسان قلب منور کوي، پایله کې پوه شوم چې اسلام څه شی ده؟ پوه شومه چې خدای یو ده او شریک نه لري، نه له چا پیدا شوی او نه څوک ترې پیدا شوي دي، همدارنګه حضرت عیسی‌علیه‌السلام د الله‌جل‌جلاله لخوا د پیغمبر په توګه را استول شوی ده او محمدﷺ د ټولو پیغمبرانو وروستی پیغمبر ده. همدارنګه پوه شوم چې خدای‌جل‌جلاله پر مسلمان پنځه وخته لمونځ فرض ګرځولی ده او دا نارې هم چې مخکې ورسره نابلده وم اوس یې په اصلي فلسفه باندې پوه شوم، حقیقت مې په مخ کې پوره واضح شو او قناعت مې حاصل کړ چې اسلام د حق دین ده، مسلمانان

په یوه خدای ایمان لري، سترګو مې د قرآن حقیقت لیدلو لپاره پرانستل شوې، غوږونه مې د الله اکبر الله اکبر اوازونو اورېدو لپاره پرانستل شول او زړه مې د اسلام دین منلو ته پرانستل شو.

**اعلان**



د کلمې په ژبه راوړل راته تر ټولو ستره معجزه ښکاره شوه ځکه چې زه یې له بیلارېتوب نه سمې لارې ته راوستلم، او له خدای سره یې زما اړیکه ټینګه کړه، زه د ورځې پنځه وخته لمونځونه کوم او نامسلمانو وګړو ته تل بلنه ورکوم تر څو راشي او خپل حقیقي خدای وپېژني او ایمان راوړي. لومړنی څیز چې ذهن ته مې راغی دا و چې کورنی مې لدې کار څخه خبره کړم کله چې مې هغوی ته د خپل نوي دین په اړه خبرې کولې هغوی به ډېر ښه غوږ ورته کېښود او هغوی پوهېدل چې هېڅ قدم هم له ډېر غور او فکر مخکې نه اخلم. وروسته مې یو ته لیک واستوه او زما خواته راغی هغه ته مې د اسلام بلنه ورکړه او هغه هم لله الحمد مسلمان شو.

**عمره**

زه د نویو مسلمانانو سره د عمرې کولو لپاره چمتو شوم، دا عمره د کویت د اسلامي مرکز لخوا د هماغوی په مرسته کېږي تر څو د نویو مسلمانو په زړونو کې د ایمان جرړې نورې هم محکمې شي. زه چې کله د بیت الله پر لور وخوځېدم او هغه مقدس او سپیڅلي ځای ته ورسېدم نو خپلې اوښکې مې ونشوې تم کولی، ما هېڅکله هم نشو انګېرلی چې زه به داسې مقدس ځایونو ته ځمه خو الله راباندې رحم وکړ، هلته مې د خپلو تېرو ټولو ګناهونو څخه خدای ته پیښمانتیا ښکاره کړه او د خپلې پاتې کورنی دهدایت سوال مې هم ترې وکړ، زه اوس هغه ماشوم ته ورته یم چې تل غذا ته اړتیا لري، زه هم

روحي معنوي او دایمي خوراک ته اړیم چې دا پرته له اسلام نه بل څه نشي کیدلای.

## د محمد سوامي د مسلمانېدو کیسه



محترم محمد سوامی چې پخوا د کلیسا د شماس په درجه د کلیسا د سندرغاړو څخه و اوس د اسلام مبارک دین یو نه ستړی کیدونکی بلونکی ده، دا سړی که له هر نسل او یا هرې ژبې څخه وي خو مرتبه او درجه یې د الله په نزد ده، نوموړی خپله کیسه داسې پیلوی: د هر صنعت لپاره یو صنعتګر وي او د هر کار لپاره یو تدبیر کوونکی وي، دا ښکلې او ښائېسته نړی له پوه او مدبر ذات پرته د چا د لاس جوړښت کېدای شي؟ هر څه د یو علت لپاره او د یوې ځانګړې دندې لپاره پیدا شوي دي، انسان دځمکې پر مخ خلیفه ګرځول شوی تر څو د اللهﷻ نماینده او استازی و اوسي او د خدای قوانین په ځمکه باندې نافذ کړي، هر مخلوق ته ښايي چې په خپل پیداکوونکي یو ذات باندې ایمان ولري. دا ورور د فلپین د یوې کلیسا سندر غاړی ده او ډېر زیات د کلیسا رواجونو ته متمسک و خو اوس ورته له لارښوونې وروسته اللهﷻ د بلنې مسئولیت ورپه غاړه کړه ځکه دا دین له دعوت او جهاد پرته ژوندی نشي پاتې کېدلی.

نوموړی وایي: زما د ایمان سفر په ۱۹۹۰ کال د عراق او کویت د جګړې پر وخت پیل شو، ما د کلیسا د نورو خلکو غوندې په عیسیؑ باور درلود چې د خدای زوی ده ځکه چې ماته همداسې روزنه راکول شوې وه، ما به د عیسویانو په ټولو پروګرامونو کې برخه اخستله ځکه چې زه د هغوی د ترانو په ټیم کې وم، خو ولې ددې تر څنګ مې ډېری سوالونو ذهن ته رنګارنګ تشویشونه اچولي ول، ما هېڅ تصور نه کاوه چې زه به کویت ته ځم ځکه زما کسب ولډنګکاري و او همدلته فلپین کې به مې کله ناکله ډریوري هم کوله.

زما د خور تګ کویت ته یو ناڅاپي او د خدای د حکمت پـر بنسـټ شـوی و، هغه عراق ته په سـفر تللې وه او وروسـته لـه یـوې هفتـې څخـه د عـراق او کویت تر منځ جګړه ونښته، مـونږه پـدې تـرڅ کـې لـه خپلـې خـور څخـه هـېڅ احوال نه درلوده، زمونږه ټولې کورنی ته هغه ډېره ګرانه وه او مشر ورور یـې زه ومه نو ځکه ما باید څه چاره کړې وای، تل به کویـت تلونکـو مسـافروته ورتلـم او ورڅخه به مې پوښتل او یا به چې له هغه ځایه کوم مسافر راتلل ولـې دا ډېـر ستونزمن کار و، خو ورځې او شپې تېرېدې ولې دخور مـې هـېڅ درک هـم ونـه لګېده او مونږه د هغه په وژل کېدو کې نور شکمن نشو پاتې کېدلی.

**ناڅاپي خبر**

له نهو میاشتو وروسته یو لیک راغی چې د خور مې و، زمـونږه کـورنی چـې لیک ولید او پوه شول چې خور مې ژوندی ده نو زیات خـوښ شـول او داسـې انګېرل کېده چې خور مو یو ځل بیا نوې زېږېدلې وي او رښتیانی نـوې زېږېدنـه یې هم شوې وه چې هغه مسلمانه شوې وه او مونږه ته یې په لیک کې خپل لـه مسلمانېدو وروسته نوم هم لیکلی و او ویلې یې ول چې له یوه کویټي مسـلمان هلک سره یې واده کړی، مونږه ته دا خبرې دومره مهمې نـه ښـکارېدې یـواځې مهم شي زما د خور ژوند و چې زما د مور له سترګو نه د ډېرې خوښی لـه کبلـه اوښکې هم روانې شوې، یو څو موده وروسته یې یو بل لیک راولېږه او یـواځې دومره یې لیکلي ول چې زما راتلو ته یې ډېره تلوسه ده او د خپـل ځـان خواتـه (کویټ ته) ته یې وربللی وم، کله چې مې لیک ولوست نـو زمـا هـم تلوسـه وه تر څو خپله خور ووینم نو له همدې کبله مې هوډ وکړ چې کویـټ تـه ولاړ شـم ما د ویزې او پاسپورټ لپاره ورقې تیارې او خور ته ولېږلې او د کویټ پر لـور روان شوم.

**نوی ژوند**

کویت ته له رسېدو سره یو ځای مې خور ولیده له ډېره مودې وروسته لیدل مو ول، خور مې په ژړا شوه او ویل یې چې باور نه لرم چې تاسې په ویښه کې زما په خوا کې یاست، په هر ترتیب هغې زه خپل کور ته بوتلم چې د القصور

په سیمه کې و او د زیاتې مودې لپاره هلته پاتې شوم، هغوی دواړو به زه اسلام ته بللم، زه پوه شومه چې هغه کوم ډول مسلمانه شوې ده، هغوی به راته ډېره مینه راکوله او هر وخت به یې د اسلام پر لور بلنه راته کوله، ما له هغوی وپوښتل چې آیا له فلپین نه مو همدې لپاره غوښتی وم چې اسلام په اجباري ډول ومنم؟ دواړو په یوه اواز وویل چې ﴿لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ﴾.

نو ما یواځې پرېږدی تر څو د اسلام په اړه فکر وکړم او کتابونه مطالعه کړم او په قناعت سره اسلام ومنم، ما هم پیل وکړ ترڅو د اسلامي عقیدې اساسات ولولم او ځان پرې پوه کړم، خور او د خور خاوند مې به تل کتابونه او کېسټې راوړلې، خور مې راته د حلال او حرام په اسلام کې تر نامه لاندې یو کتاب راکړ خو ما ویل چې زه باید لومړی په عقیدې باندې ځان سم کړم ځکه عقیده راته د عبادت لپاره مهمه ده او دا کتاب خو د مسلمان د ژوند تېرولو انځور او لایحه راته ښیي، تل به مې د اذان ملکوتي غږونه تر غوږو کېدل او زما زړه به یې لا نرموه.



**اذان ژورنالیستیکي وسیله**

لومړی څیز چې راته څرګند شو د اذان معنی وه، زه پوه شوم چې اذان مسلمانان لمانځه ته بولي، لکه څنګه چې کلیسا د زنګ پوسیله خلک وربولي خو د دواړو تر منځ ځمکه او اسمان هومره توپیر شته ځکه چې دکلیسا زنګ له ټنګولو پرته کوم بل مفهوم نه لري او هغه هم په اونی کې دوه درې ځله ټنګېږي حال داچې د مسلمانانو اذان د پراخ مفهوم تر څنګ په ورځ کې پنځه ځله خلک د رب د اطاعت لورته وربولي. ورځې او شپې تېرېدلې او لیدل مې چې زما خور په خورا سکون او اطمئنان سره ژوند کوي چې زما پر ذهن یې خورا ژوره اغیزه کړې وه.

### د تلویزیون بلونکی

یوه ورځ مې خور د خپلوانو کره ولاړه او زه یې کورکې یواځې پرېښودم ما هم د ساعت تېرولو لپاره د تلویزون بټن کښېکاږله، هغه ځه ډېر عجیبه او ماته په زړه پورې ول چې ما په دویم کانال کې ولیدل، د اسلام پر لـور بلنې د مرکـز مسئول او مشر شیخ صلاح راشد یې مېلمـه کـړی وه او د ادیـانو پـه هکلـه یـې مقایسوی خبرې کولې، ما باندې یې خبرو زیاته اغیزه وکـړه او د هغـه بحـث د مسیحیت او اسلام تـر ځنګ راورسید، کلـه مې چې واورېدل چې حضـرت محمدﷺ په توران او انجیل کې هم ذکر شوی چې لـه عیسـیؑ وروسـته بـه پیغمبر کېږي نو زه لږ پرېښانه غوندې شـوم ځکـه مـا پخـوا داسـې خبـره نـه وه اورېدلې، دا چې اسلام وحدانیت پر لور بلنه کوي هغـه ځـه یـې وویـل چـې مـا پرې پخوا هم ایمان درلـود او یـو ځیـز چـې زه یـې لکـه مـدهوش داسـې پسـې واخستم هغه د حضرت محمدﷺ د پیغمبری ثبوت وه چې د انجیل د مقـدس کتاب او نورو مؤثقو کتابونه پوسیله باندې شوی و.

کله چې مې د راشد له خولې دا خبرې د انجیلونو په ادرس واورېـدې نـو مـا همدا خبرې په هماغه انجیلونو کې په ورته ډول سره ولیدلې او هلته صریحاً د حضرت محمدﷺ د رسالت په هکلـه ویـل شـوي ول، نـور نـو مـا لـه حقیقـت ځخه سترګې نشوې پټولی ځکه په کوم دین چې مـا ایمـان درلـود د هغـې دیـن کتابونو هم دا تصدیق کاوه چې اسلام حق دین ده او زه باید مسـلمان شـم. لـه همدې امله مې هوډ وکړ چې د خپلې خـور سـره د اسـلامي مرکـز پـر لـور ولاړ شم او خپل اسلام په ډاګیز ډول اعلان کـړم تـر څـو خپلـو نـورو نویـو مسـلمان شویو ورونو له کاروان سره یو ځای شم.

### مسیح د خدای بنده او رسول

زه پـوه شـوم چـې مسـیحؑ د خـدای بنـده او د هغـه رسـول ده،یعنـې زه د مسیحؑ له وجود نه منکر نه شوم بلکه یواځې دومره چې ما ومنله چې زمـونږ رب اللـهﷻ ده او حضـرت محمـدﷺ د هغـه رسـول او وروسـتی پیغمبـر ده، یواځې د عیسـیؑ تـوپیر همـدومره ده چې هغـه پخـوا تېـر شـوی وه او پـرې

انجیل نازل شوی و او حضرت محمدﷺ له هغه وروسته د نبوت د لړی پای او پرې قرآنکریم نازل شویده.

**د اسلام زده کړه**

ما خدای وپېژنده او لله الحمد د اسلام په اساساتو باندې پوه شوم، حلال او حرام راته معلوم شول د خدای عبادت راته څرګند شو او د یو مسلمان په څیر هڅه کوم تر څو له خپل رب سره ارتباط ټینګ کړم، زه به هېڅکله هم د خپلې خور او د هغه د میړه دا ښیګڼه هېره نکړم او له خدایه ورته د اجر غوښتونکی یم، همدارنګه د تلویزیون دعوتي پروګرامونه او د اسلامي مرکز خادمان چې ماته یې اسلام راوښود، هلته ټول داسې خلک دي چې د اسلام د ښوونې لپاره یې ځانونه وقف کړي دي او خدای دې هغه چاته ستر اجر ورکړي چاچې دا د دعوت ستر مرکز یې جوړ کړی ده.

ما د اسلامي مرکز کورسونه ټول خلاص کړل او د یو داعي د مرستیال په صفت فارغ شوم، اوس لله الحمد د یو دعوتي ګروپ مشر یم او خلک اسلام ته رابولم، ډیر خلک زما پوسیله اسلام ته راننوتي دي او دا د خدای فضل ده چې پر ماباندې یې کړی ده. همدارنګه حج او عمرې ته هم څو کرته تللی یم او د خدای نه زیات شکر ګزاره یم، خدای راته لارښوونه وکړه اودا د خدای خوښه وه چې زه یې یو وخت د سندرغاړي په توګه په کلیسا کې ساتلی وم او اوسمهال د یو داعي په توګه د اسلام دین ته بلنه کوم.

# شپږم څپرکی:
# د هندیانو د مسلمانېدو کیسې

## د ناریر د مسلمانېدو کیسه



له مسلمانېدو وروسته نوم یې عبدالله ده او د هند د جمهوریت اوسیدونکی ده نوموړی خپله د مسلمانېدو کیسه داسې پیلوي: زه د اسلام په اړه هېڅ نه پوهېدم ځکه زما پلرونه او نیکونه له ډېرې پخوا زمانې څخه د هندو مذهب پیروان ول، زه هم همداسې د هغوی پر پل روان ولې دومره پوهېدم چې نور دینونه هم شته لکه اسلام یا کوم بل یو.

تاسې له کله نه اسلام سره آشنایي پیدا کړه او له کوم ځای مو پیل کړه؟

ما په کویت کې د یوې شریفي کورنی له دفتر سره کار کاوه، کله چې به اذان وشو نو ټول به لمانځه ته د جماعت لپاره ولاړل یوائې زه به پاتې وم، ما به له ځانه پوښتل چې آیا ولې ته لمانځه ته نه ځې، ستا اود هغوی تر منځ کوم توپیر شته ده چې زه لمانځه ته نه ځم، له یوې میاشتې تېریدو وروسته یوه مسلمان عالم ته ولاړم او له هغه مې وپوښتل چې ولې لمونځ کوی؟ چاته یې کوی؟ مونږ او تاسې چا او د څه لپاره یې پیدا کړي یو؟

هغه عالم زه نور هم فکر کولو ته تشویق کړم او څه کتابونه او کستې یې راکړلې تر څو د اسلام په اړه پوه شم، ما به یوائې له غرمې وروسته کار کوه نو ځکه مې د مطالعې لپاره پوره وخت درلود او دا یوه اونی مې پرلپسې پر

همدې څېړنو ولګوله او پایله کې د اسلام په حقیقت پوه شوم او هماغه عالم ته بېرته ولاړم، ترې مې وغوښتل چې زه د اسلام رسمی اعلان وکړم. هغه عالم زما خبره رد کړه او راته یې وویل چې لږه حوصله وکړه تا لږ وخت کې اسلام مطالعه کړ ته لږ نور هم خپل قناعت ښه حاصل کړه تر څو که مور او پلار دې درباندې اغیزمن شي نو ته اسلام نه بېرته وانه وړې، ما ورته په ځواب کې وویلې چې ما هر څه په قناعت سره منلي دي او زه نوره کومه مانع د ځان لپاره نه وینم هماغه وه چې نوموړی عالم له ما سره ولاړه او ما خپل اسلام رسماً اعلان کړ.

کله چې مسلمان شوې اسلام دې څنګه وموند؟

لومړی خو د توحید عقیدې زما له آرامتیا سره مرسته وکړه او ددې دین په محکموالي کې یې ستر رول لوبولی ده، دویمه د قرآنکریم خبره ده چې ټول رښتیا او ټوله شفا ده.

نورو نامسلمانو وګړو ته څه نصیحت او ویل لری؟

زه ځینې نامسلمانه دوستان لرم او هغوی چې له ماپوښتي چې ولې دې اسلام منلی ده نو زه ورته وایم که تاسې د اسلام په ښیګڼو وپوهېږی نو ښایي لږ صبر هم ونشی زغملی.

د کورنی عکس العمل مو څه و؟

کله چې ما ایمان راوړ نو د پنځو میاشتو په ترڅ کې مې کورنی راڅخه خبره نه وه، خو کله چې مې مور او پلار لدې کیسې خبر کړل هغوی زیات غوصه شول او حتی ژړاګانې به یې کولې او تقریباً د یو کال لپاره یې د لیکونو رالېږلو لړی وځنډوله او د کال په پای کې مې مور راته لیک کې داسې لیکلي ول (که تا هر څه په خپله خوښه منلي وي نو خیر ده خو زه غواړم چې تا ووینم). زه چې هر ځل لیک لیکم نو ورته لیکمه چې ستاسې دین ناحقه ده او راځي د یو خدای بندګی ته غاړه کښېږدی، زه ګورم چې کله هند ته (کورته) ولاړ شم د هغوی عکس العمل به څه وي آیا زما بلنه مني او اسلام راوړي او که ردوي یې.

## د ارای یوراج له ټولې کورنی سره د مسلمانېدو کیسه



له مسلمانېدو وروسته نوم يې ابراهيم خليل ده، پنځه څلويښت کاله عمر لري، د هند اوسيدونکی ده او پخوانی دين يې هم هندو مذهب و، د زامنو نومونه يې له مسلمانېدو وروسته اسماعيل او اسحاق دي.

زه پداسې يوه خاوره کې زېږيدلی يم چې زيات دينونه لري، هلته مسلمانان او مسيحيان هم اوسی، څوک بتانو ته عبادت کوي او څوک هم اورته، څوک لمرت او څو غواته بس د خپلو نفسونو په مطابق يې چې هر څه خوښ شوي دي د خدای په نامه سره يې د عبادت لپاره ځانته نيولي دي، دغې ټولو عقيدو زه پريشانه کړم، مونږه به له ختو جوړو بتانو ته عبادت کاوه خو دا بتان به د يو خدای څو رقمه او مختلف الشکله ول، مونږه به رام خدای ګاڼه خو هر چا به ځانته رام درلود، زه د خدايانو دې کثرت بيخي متعجبه کړم او د حقيقت په لټه کې شوم. له بلې خوا مې مسلمانان ليدل چې په خورا وقار او متانت باندې پنځه وخته د لمانځه لپاره مسجدونو ته درومي ما د هغوی د ليدو سره په ذهن کې وويلې چې ولې د اسلام په اړه څېړنه نه کوې ښايي په همدې کې د دې تشويشونو لپاره دخلاصون لاره وي، خو کله چې به مې د مسلمان څخه د اسلام په اړه د پوښتنې کولو جرئت کاوه نو شيطان به مانع کېده خو کومې تيارې چې زما زړه يې تياره کړی وه زه دېته مجبورولم تر څو د اسلام په اړه څېړنه وکړم، زه، زما ښځې او بچيو ټولو د اسلام په اړه څېړنې باندې لاس پورې کړ، مونږه له نژدې مسلمانو ګاونډيانو څخه وپوښتل چې اسلام څه شی ده او لاره يې کومه يوه ده؟ خو چاراته کوم قانع کوونکی ځواب نه راکاوه.

زه کويټ ته راغلم او دلته مې د اولس کالو ژوند وروسته له مسلمانانو سره ښه ملګرتيا پيدا کړه اود اسلام په اړه په ډېرو څېزونو باندې وپوهېدم، ددې تر

منځ زما یو ډېر نژدې مسلمان دوست حماد نومېده چې هغه به هر وخت زه د اسلام پر لور بللم او د اسلام ښیګڼې به یې راته بیانولې، ماته یې د اسلام په اړه زیات شیان را زده کړل پدې یې وپوهولم چې خدای یو ده، شریک نه لري، هماغه روزي ورکوي او هماغه خلکو ته ګټه او زیان رسوي. پدغه ډول مې له اسلام سره ورو ورو مینه زیاته شوه، مینه مې دې کچې ته ورسېده چې مسلمان نه وم خو د مسلمانانو په څېر به مې د روژې په میاشت کې روژه نیوله او ماښام به مې افطار کوله، او ډېره بې کچه مینه مې له لمانځه سره لرله، هر وخت به مې چې مسجد او د مسلمانانو نېک اخلاق، لمانځه ته د هغوی تګ ولیده نو زما له مسلمانېدو سره مینه به په ولولو شوه، پایله کې مې یوه ورځ هوډ وکړ چې مسلمان شم او له حماد مې وپوښتل چې څنګه کولای شم خپل ایمان اعلان کړم.



حما راته وویل: څه.. څه..څه ته بیا ووایه، ما ورته بیا وویل چې زه غواړم چې مسلمان شم کله چې د هغې په خپلو غوږونو باور راغی نو زه یې په غېږ کې ونیولم او زما له سترګو اوښکې روانې شوې هغې راته وویلې دلته په کویت کې د اسلام سره د پیژندنې کمیټه شته او هلته به دې یوسم تر څو ستا ټولې غوښتنې هلته پوره شي، له یوه بل ملګري څخه مو د مرکز ادرس واخست او هلته ولاړو، اه خدایه، څومره ښکلي اخلاقو والا خلک ول دې مرکز کې، کله چې مرکز ته ننوتو نو د مختلفو هېوادونو مختلف خلک مو ولیدل چې د اسلام راوړلو وروسته خپل کورسونه وایي، څوک عربي وایي، څوک هم اساسات د عقیدې زده کوي او څوک نور څیزونه، زما لیدنه له یو هندي بلونکي سره

وشوه، نوموړی ډېر نرم زړی او شريف النفس سړی و، ماسره يې زما پخپله مورنی ژبه خبرې پيل کړې، هغه د شهادت کلمه راوښووله او ما وويله او د حاضرينو د تکبير په غږونو بدرګه شوې.. اه..اه.. دا سې معلوميږي چې نوی له موره پيدا شوی يم، حماد راغی زه يې بيا په غېږ کې ونيولم او راته يې د مسلمانېدو تبريکي وويلې.



کله چې کورته راغلم نو ټوله کورنی مې له خپل اسلام څخه خبره کړه او هغوی زيات خوښ شول ځکه مونږه ټولو په شريک قناعت کړی وه، هغوی مې هم يو يو اسلامي مرکز ته يوړل او د اسلام اعلان يې وکړ، ما په اسلامي مرکز کې د اسلام په زده کړه پيل وکړ او د زامنو نومونه مې له هندوانو څخه د مسلمانانو په نومونو بدل کړل.

**ابراهيم او اسماعيل په بيت الله کې**

مونږه په اسلامي مرکز کې د حج د کولو لپاره امتحان ورکړ او زه او زوی مې دواړه لله الحمد کامياب شو، زه ډېر خوښ شوم او هره ورځ به مې انتظار يوست تر څو د بيت الله ليدلو ته ورشم او مينه به مې ورځ په ورځ زياتېدله. بالاخره د موټر له لارې په وچه باندې د حج د تللو لپاره روان شولو. زما زوی به موټر کې د تلبيي تکرار په لوډسپيکر کې تل کاوه او دې حالت ليدلو به زما زړه ډېر خوشحاله کاوه، بالاخره ميقات ته ورسېدو او احرامونه مو وتړل، کله چې کعبې ته ورسيدو او زما سترګې د کعبې پر ديوالو ولږېدې له سترګو مې

اوښکې روانې شوې او د خدای زیات شکرونه مې وایستل، اوس نو ټول نوي مسلمان د کعبې په طواف کې له خدایه غوښتنې لري او رب یې هم غوښتنو ته ځواب ورکوي اه... څومره نه هېرېدونکي ول هغه وختونه.

د سفر مسئول وایي: کله چې له جمرې ویشتلو خلاص شو نو اسماعیل یې له پلاره ورک شو او مونږه ټول دهغه په لټولو پسې شو کله چې مې پیدا کړ نو ما سره شو او پلار یې مطمئن د حرم پر لور ولاړ اسماعیل له نورو ملګرو سره خوښ و او ویل یې چې له هماغوی سره یو ځای طواف کوي ما هم ورسره ومنله کله چې حرم ته ورسېدم نو ابراهیم د اسماعیل په نه لیدلو لږ خفه شو او ویل یې چې ځان سره به دې راوړی و خو ما ورته اطمئنان ورکړ چې له خپلو ملګرو سره به راشي انشاء الله او د طواف هوډ مو وکړ، کله چې مخکې شوم نو زما له احرام نه یې ونیولم او راته یې وویلې چې زه غواړم تاسره یوځای طواف وکړم تر څو کومې دعاوې چې ته کوې هماغه زه هم وکړم، همداسې مو وکړل او څه چې به ما ویل هغه به هم تکرارول تر دې چې اوازونه مو ورو ورو په ژړا بدل شول او یو وخت یې زما لاس پرېښود او رانه ورک شو. کله چې له طواف نه خلاص شوم نو بېرون راته ولاړ و ما ترې د اسماعیل پوښتنه وکړه چې پیدا دې کړ او که نه هغه راته وویل چې هو پیدا مې کړ هلته د صفا او مروه تر منځ په سعی بوخت ده. ټولو حاجیانو ځانونه حلال کړل او سرونه یې وخرییل او حج مو پای ته ورساوه. الحمد لله رب العالمین.

## د راما شاندرا د مسلمانېدو کیسه



له مسلمانېدو وروسته نوم یې عبدالسلام ده، پخوانی دین یې هندوئیزم و، دوه دېرش کاله عمر لري او د مسلمانېدو لامل یې د مسلمانانو نیکه رویه ده. نوموړی وایي چې هندوان د رام په نامه یو بت لري چې هغې ته په خورا عاجزی ودریږي او ترې خپلې غوښتنې کوي حال داچه هغه له ډېرې جوړ شویدی، دا خولا څه کوې چې ډېر کتابونه هم د هغه په اړه لیکل شوي دي. زمونږه عقیده هم همدغه وه، ما د مسلمانانو سره نژدې ژوند کاوه او پوهېدمه چې هغوی هم عبادت کوي او خدای لري خو زمونږ له عبادت سره یې توپیر درلود ځکه هغوی دومره په عاجزی عبادت کاوه چې تا به ویل په سر یې کوم څارونکی ولاړ وي، زما شاوخوا ته نامسلمان هندو وګړو ژوند کاوه چې رانه د تورې وریځ په څېر چاپېر ول او زما او مسلمانانو تر منځ د عایق په څېر ګرځیدلي ول، ما کوم بلونکی ونه لیده چې ما اسلام ته وبولي او زه هم له اسلام نه ناخبره پاتې وم.

### له اسلام سره پېژندګلوي

اوس زه په کویت کې ژوند کوم دلته مې ډېر مسلمانان ولیدل، هر یو د ټولنې د یو فعال او نېکمرغه وګړي په څېر ژوند کوي، ډېر ښه اخلاق او پاک زړونه لري، په ځانګړي توګه زما هغه ملګری چې زه ورسره په شرکت کې کار کوم، واقعاً د نېکو اخلاقو درلودونکی و، هغه په عملي توګه راته د اسلام زده کړه راکړه او زه پوه شوم چې اسلام یو داسې دین ده چې خلک د نېکو اخلاقو پر لور بولي. ما وغوښتل تر څو د اسلام په اړه زیات معلومات له همدغه

ملګري څخه په لاس راوړم نو کله به مې چې ترې د اسلام د کومې مسئلې په اړه پوښتل بې نهایت به خوښېده، له هغه څخه مې زده کړل چې الله یو ده، هغه داسې یو ذات ده چې ټول مخلوقات یې پیدا کړي دي او نړی او څه چې په نړی کې دي هماغه په خپل قدرت سره خلق کړي دي. همدارنګه پوه شوم چې انسان هسې نه ده پیدا شوی بلکه د یوې موخې او هدف لپاره پیدا شوی ده، انسان به همداسې نه سوزول کیږي او له مرګ وروسته به بې پروا نه پاته کیږي بلکه هغه سره به حساب او کتاب کیږي او که څوک ښه کارونه وکړي نو جنت ته به ځي او که بد وکړي نو دوزخ ته، دا ستر دین مې ډېر زیات خوښ شو.

**اسلام ته داخلېدل**

کله چې مې له اسلام سره مینه ډېره زیاته شوه او پوه شوم چې د بشریت د ژغورلو لپاره یواځې همدا دین ده چې د حضرت محمدﷺ پوسیله د وروستي پیغمبر په عنوان دې دنیا ته راوړل شوی، نو له یو دوست سره مې خبره شریکه کړه چې هغه هم نوی له خپلې ټولې کورنی سره مسلمان شوی و، هغه زه د کویت اسلامي مرکز ته بوتلم او یو بلونکي سره یې مخامخ کړم چې زما په ژبه یې خبرې کولې نوموړي راته د ایمان راوړلو ټول حالات بیان کړل او ما داسې احساس کړه چې نور هغه وخت رارسېدلی ده چې خپل ایمان په ډاګه اعلان کړم. او خپل نوم مې هم په عبدالسلام باندې بدل کړ.

اسلام ریښتینی دین ده، هغه غوره لاره چې انسان له خالق سره وصلوي، په هندوئېزم کې خو د عبادت لپاره داسې مفکوري شته دي چې سړی بیخي بېلاری کوي څکه هلته خو بې ساه بتانو ته سجدې کیږي. په اسلام کې مې وموندل چې هر سړی به د خپلو عملونو پوسیله محاسبه کیږي او دوه پرښتې له انسان سره په اوږو ناستې دي چې د انسان ښه او بد لیکي تر څو په اخرت کې محاسبه ورسره وشي ولې په هندوئېزم کې بیا د انسان له کرامت سره لوبې کوي، انسان سوځوي او ایرې یې په هوا کې بادوي څکه هغوی معتقد دي چې له مرګ وروسته د انسان هېڅ هم نور نه پاتې کیږي. په اسلام کې دروغ

ويل، زنا، شراب، لواطت او نور هغه کارونه چې د اخلاقي فساد سبب کيږي منع دي چې دا خپله د اسلام په ريښتينولی باندې دلالت کوي.

زه خبر شوم چې له اسلام سره د پېژندنې کميټه خلک له څه کورسونو څخه وروسته حج او د بيت الله زيارت ته ليږي چې دا زما تر ټولو ستره هيله ده، د همدې لپاره هلته د بيت الله د مناسکو د اداء کولو په درسونو کې تل کښېنم، تعين شوي سورتونه هم يادوم او الله ته دعا کوم تر څو ما په امتحان کې کامياب کړي او د بيت الله زيارت کولو فضل راباندې وکړي.

ټولو هغو کسانو ته چې له ماسره يې مرسته کړې او زه يې له تيارو نه رڼا ته راوېستی يم له الله نه ستره بدله غواړم او هغه څوک چې د اسلام په اړه ځان پوه کوي ورته د ژړ مسلمانېدو سوال کوم تر څو له دنيا څخه بې ايمان لاړ نشي.



## د فينکاتاريدي د مسلمانېدو کيسه

له مسلمانېدو وروسته نوم يې: مصطفی

تابعيت: هندوستان

عمر: څلوېښت کلن

دنده: دريور


پخواني دين: هندوئيزم

الله ﷻ پر ما ډېر لوی احسان وکړ چې زه يې مسلمان کړمه، زه پخوا هندو وم، هغه شيانو ته به مو عبادت کاوه چې له خاورو يا لوټو به جوړ شوي ول، نه يې څه اوريدلی شو او نه يې څه ليدلی شو، نه يې عقل درلود خو دومره وه چې ماهر تيره توږونکي به هغه وتراشل او مونږه به هغه په يوځای کې کېښودل او هغه ځای ته به مو نوم معبد ورکړ. خلکو به چې د هغه بتانو عبادت کوه نو فکر يې کاوه چې پدې کې کومه ګټه په دنيا کې شته نرانو به نران بتان په خدايی نيول او ښځو به مؤنث. عجيبې شيبې وې، دا زما پخواني ژوند و چې بايد پرې تاسف وشي د داسې شيز عبادت مو کاوه چې په خپلو لاسونو مو جوړ کړی و، څنګه مو هغه شيزونو ته رکوع کوله چې ماتېدل لکه بوتل؟... خدای

مونږه په بهترین شکل پیدا کړي یو او مونږه په زوره خپل ځان له ځارویو څخه هم بدتر کوو، زما ژوند بې بندوباره و، که به مې شراب څکل او یا... کوم ځانګړی هدف یا مسئولیت مو د ژوند لپاره نه لره چې ورته کار وکړو. د مسلمانانو په اړه یواځې دومره پوهېدمه چې هغوی هم دین لري او لکه څنګه چې مونږه معبد ته ځو داسې مسجد ته ځي او خپل عبادت تر سره کوي.

**د هدایت لار**

زه د مزدورۍ لپاره کویت ته راغلم او دلته له یوې کورنۍ سره د ډریور په صفت و ټاکل شوم، زه به تل له هغوی سره یو ځای د ډوډۍ خوړلو او تلویزون لیدلو لپاره کښېناستم، خو کله چې به د اذان غږ اوچت شو نو غلي به شول او د اذان له تمامېدو وروسته به ټول مسجد ته ولاړل او یواځې زه به پاتې شوم. زه د اذان له کلماتو سره عادي شوم او وروسته له اذان څخه چې کلمات وایي هغه مې هم په یادو یاد کړل، کله به مې چې اذان اورېده پرته لدې چې په معنی یې پوه شوم یو جذب او کشش به مې احساسوه، ما به د اذان دعا تل د اذان له ختمېدو وروسته ویلې او کله ناکله به مې په لاره کې له ځان سره هم تکراروله ځکه زما زیاته مینه ورسره پیدا شوې وه، یوه ورځ دغه کلمات زما له خولې زما یو مسلمان ملګري واورېدل نو رانه یې وپوښتل چې ولې نه مسلمانیږې؟ ماورته په ځوا ب کې وویلې چې زه څنګه مسلمان شم پداسې حال کې چې ستاسې ډېری مسلمانان د اسلام د اصولو په اړوند هیڅ پروا نلري او سم یې نه اجرا کوي نوموړي راته وویلې چې ته هغوی څه کوې پرتا لازم دي چې ته دین سم زده کړې او سم یې عملي هم کړې ما ورته وویلې چې ددې خبرې وخت لا پاتې ده.



دا پوښتنه داسې یو زړي په څیر وه چې ما باید دا خړوبه کړې وه تر څو په حقیقت بدله شي. زه پدې شپه وخته ویده شوم او د شپې په اخره برخه کې

مې دا کلمې تر غوږ شوې (أشهد أن لا إله إلا الله) له خوبه راپورته شوم ما ویل ګنې اذان پیل شو له راپورته کېدو سره سم زما په ژبه هم همدا کلمې روانې شوې. سهار شو او دکار ځای ته ولاړو هلته مې هم له خولې نه پورتنی کلمې ووتلې، ملګرو رانه وپوښتل چې آیا ته غواړې چې مسلمان شې؟ ما ورته وویل هو، خو هغوی داسې بابیزه غوندې وګڼله او داسې یې احساس کړه چې زه پوره جدي نه یم خو خپل تضمین کوونکي ته ولاړم او هغه زما د خبرې په اورېدو ډېر زیات خوښ شو او زه یې حج او اوقافو ته بوتلم تر څو هلته د اسلام په هکله مې زیات شیان زده کړل. زه پوه شوم چې خدای یو دی او ټوله نړی یې پیدا کړې ده، پیغمبران یې د لارښوونکو په توګه بشر ته رالیږلي دي، اسماني کتابونه د اسلامي لارښوونو په توګه هغوی ته ورکړل شوي دي او پرښتې شته دي چې د الله ﷻ تسبیح او پاکي وایي. همدارنګه جنت وجود لري چې د نېکو کارانو لپاره تیار شوی ده او دوزخ هم شته چې د بدکارانو او کافرانو لپاره تیار شوی دی، لدې پوهې وروسته مې داسې حس کړه چې ما د نور په دې پانه کې ډېر ځنډ کړی او دا ځل مې بیا د شهادت کلمه په خوله راوړه خو هر ځل به یې له ځانه یو نوی خوند ښود.

**هر څه په حساب دي**

له مسلمانېدو وروسته زما ژوند د یو ډول نظم او قانون تر ظابطې لاندې راغی چې پخوا هېڅکله داسې نه و شوي، دهر کار لپاره قرآن او احادیثو کې طریقه ښودل شوی ده، لکه د قرض ورکولو په معامله کې چې قران خلک دې ته تشویقوي تر څو یې ولیکي ځکه چې په اخره کې ورته څه ګړبړ پیدا نشي، ما د واده کولو په اړه لږه ستونزه احساسوله ځکه چې زه مسلمان ومه او د اسلامي شریعت په لارښوونه ما باید مسلمانه ښځه کړې وای چې زیات وخت یې په دربر کې نیولی شو، خو هغه څوک چې اوس زما ښځه ده زما خوښېدله ولې مسلمانه نه وه، ما هغې ته وویلې که غواړې چې ماسره واده وکړې نو باید مسلمانه شې، او داسې څه نورو طریقو باندې مې د هغې مینه له اسلام سره

پیدا کړه او پایله کې مسلمانه شوه، مونږه دواړو په اسلامي طریقه بانـدې نکـاح وتړله او لله الحمد اوس یو لور او یو زوی لرم.

## مور او پلار

پلار مې وفات شوی ده او د مور په اړه مې زه چې کله هند ته ولاړم نـو مـور مې هماغسې په تیارو کې اوس هم د بتانو عبادت کاوه، ما ډېره هڅه وکړه چې هغه له تیارو څخه راوباسم خو وسه مې ونه رسېده ځکه د هغه په ذهـن بانـدې شیطان ناست ده، ور ته مې وویلې چې بتان هېڅ نه ګټه رسـولی شـي او نـه هـم زیان، ورسره د هندوانو معبد ته ولاړم خو هغـې بانـدې یـې هـېڅ تـاثیر ونکـړ. خیر زه هیله لرم چې دا به هم مسلمانه شي، زه تل نورو نامسلمانو وګړو ته بلنه ورکوم تر څو مسلمان شي خو د هغوی په ذهنونو بانـدې شـیطان سـپور شـوی ده او دومره په اسانه ترې راوتلی نشي، زه پوهېږم چې د اسلام پر لـور بلنـې تـه باید د هغې له اسلوبو کار واخستل شي او له نامسلمانو سره نرمي وشي تر څـو د اسلام دا سپېڅلی او مبارک دین ومني.

## مالوریدي سوپاریدې د مسلمانېدو کیسه



له مسلمانېدو وروسته نوم یې عبدالمالک ده، دوه دېرش کاله عمر لـري، پـه هند کې اوسېږي او پخوانی دین یې هم هندوئیزم و. نوموړی خپله کیسه داسې پیلوي: زه هندو وم او کویت ته د کار کولو لپاره ولاړم، هلته مې عجیبه خلک ولیدل داسې چې نیک زړي ول، غـوره اخـلاق یـې درلـودل او پنځـه وختـه بـه مسجد ته تلل تر څو خپـل رب تـه عبـادت وکـړي، مـا د اسـلام پـه اړه چنـدان پوهه نه درلوده خو دلته مې عملي اسلام زده کړ، ډېر وخت تېر شو او زما مینـه

له مسلمانانو سره زیاته شوه، ما دغوا عبادت کاوه او اوس دا کار راته یو ډول مسخره توب ښکارېده، دلته زما چاپېریال ټول مسلمان و، خلک مسلمانان، ټلویزون له اسلام څخه بحث کاوه، مجلو اسلامي معلومات خپرول او حتی که به مجلې په هندي ژبه هم خپرېدلی نو د اسلامي معلومات څخه به برخمنې وې. ما چې له کومې کورنی سره کار کاوه هغوی هم ډېرې اسلام ته وفادارې کورنی ولې، زما تضمین کوونکی ډېر نیک سړی و، تل به یې په خوله خندا خپره وه، زه یې د اسلام پر لور جذب کړم، کله مې چې مالک زما لدې کار څخه خبر شو نو پوه و چې زه په زور نه یم راضي شوی بلکه د قناعت له مخې به اسلام منم. کله به چې هغوی لمانځّ ته تلل نو زما زړه به په درزا شو او له ځانه سره به مې ویلې چې زه به هم کله وي چې لمانځه ته ولاړ شم؟ ما دوه کاله له همدې یو سړي سره کار وکړ او هغه راته په دوه کلونو کې د اسلامي عقیدې اساسات راوښوول، زما عقیده په یوه او لایزاله ذات باندې کلکه شوه، مینه مې له اسلام سره څو چنده زیاته شوه او یو حقیقي مسلمان جوړ شوم، لمونځ به مې کوه او ډېر په شوق به خدای ته ودرېدم. زما له جماعت سره زیاته مینه وه او ما غوره بلله چې وروسته لدې خلک ما د مسلمان په نامه وپېژني له خپل مالک څخه مې وغوښتل چې ما اسلامي مرکز ته بوځي تر څو خپل د اسلام اعلان وکړم او له نورو سره یو ځای مسجد ته د لمانځه د اداء کولو لپاره ولاړ شم خو نوموړی پدې موده کې لږ بوخت و





عبدالمالک زیاتوي:

کله چې پوه شوم چې مالک مې بوخت ده نو خپله به مې اودس کاوه او لمانځه ته به تللم، یوه ورځ د مسجد پر لور روان وم چې نوموړي ولیدم را

څخه یې وپوښتل چې مسجد ته د څه لپاره ځې؟ ما ورته په ځواب کې وویل چې ته خپله ښه پوهېږې چې خلک مسجد ته د څه لپاره ځي... ددې لپاره چې په جماعت سره یو ځای لمونځ اداء کړم. نوموړی زما لدې خبرو وپوهېده چې له اسلام سره مې مینه ز یاته شوې ده او غواړم خپل اسلام اعلان کړم نو یو دوست یې راوغوښت او زه یې ورسره ملګری کړم تر څو اسلامي مرکز ته ولاړ شو او هلته مې خپل اسلام اعلان کړم. کله چې اسلامي مرکز ته ورسېدم هلته مې یو بلونکی د بلال په نامه وموند چې زما په مورنی ژبه غږېده او پخوانی دین یې هم هندوئیزم و خو اوس پرې خدای رحم کړی او د اسلام بلونکی جوړ شوی ده. هغه راته د اسلام اساسات یو ځل بیا تشریح کړ او ما هم خپله د شهادت کلمه د ټولو خلکو په مخ کې په ژبه راوړه. اه... څومره خوږه وه دغه ورځ داسې بریښي چې زه پدغه ورځ نوی له موره زیږېدلی یم، پخواني دین سره مې د تل لپاره خدای پاماني وکړه او اوس د یو مسلمان په صفت ژوند تېروم. زما نوم ثبت شو او په اسلامي لکچرو او درسونو کې د ګډون لپاره راته بلنه راکړل شوه او ما هم دا بلنه په ورین تندي ومنله تر څو د اسلام په اړه زیات پوه شم.

### انسان محاسبه کیږي

ما زده کړل چې انسان د خدای لخوا نه د قیامت په ورځ محاسبه کیږي او د څارنې لپاره یې دوه پرښتې پر اوږو کښېنولي دي، یو یې د نیکو اعمالو لیکنه کوي او بله هم د بدو اعمالو، که د قیامت په ورځ پر هر چا خدای رحم وکړ او د نیکو تله یې درنه شوه نو هغه به جنت ته ځي او که د بدو تله درنه شي نو دوزخ ته به ځي. اسلام د حق دین ده او نړی ټوله خدای پیدا کړې ده، انسان نورو عقایدو باندې که ایمان ولري هڅې خپل بېلابېلوب کوي او الله د ټولو اعمالو ښه محاسبه کوونکی ده.

**د کورني عکس العمل**

زما پلار پخوا وفات شوی ده او مور مې ژوندی ده، مور مې هغه وخت راسره خبرې وکړې چې زه په حج کې وم، زه تل هغوی ته د اسلام په لور بلنه ورکوم او له خدایه هیله من یم چې تر څو هغوی ټول مسلمانان شي.

**بیت الله**

زه حج ته هم ولاړم او کله چې مې په بیت الله باندې سترګې ولګېدې نو لـه سترګو مې اوښکې روانې شوی، نه پوهېږم چې څه لامـل و خـو ښـایي چـې مـا ګناهونه ډېر کړیدي او د هغوی د بخښنې لباره مې له سترګو دا اوښـکې روانـې شوي وي، دلته په هېواد کې مې یوازینی هیله دا ده چې زه یو مسجد جوړ کـړم تر څو زما هېوادوال پکې لمونځ وکړي.

# اووم څپرکی:
# د سریلانکایانو د مسلمانېدو کیسې

## د فیمالاسینا د مسلمانېدو کیسه

له اسلام راوړلو څخه وروسته نوم یې عبدالعزیز، د سریلانکا اوسیدونکی، پنځوس کاله عمر لري او د بودایي دین پیرو ده. نوموړی د ځان په اړه وایي: زه په بودایي وم او په همدغه دین مې عبادت کوه، د بودا له شکل څخه ډېرې مجسمې مونږه ته جوړې شوې وې او مونږه به د هماغه دین د احکامو په پلوي عبادت کوه، بودا یو انسان و چې ډېر کلونه مخکې پیدا او مړ شوی و ولې نظریاتو یې خلک ځان پسې کړل او یو مطرح سړي په جامه کې ټولنې ته وړاندې شو، ما هم د هغې لاره نیولې وه خو یوه ورځ هم زما قناعت په یادو عبادتونو رانغی او که به مې عبادت هم نه کوه نو کومه وېره مې احساسوله نشوه ځکه اصلاً حق دین نه و. داسې ښکاري چې دا عقیده به ډېر ژر د زوال تر کندې ورسیږي ځکه د انسان له عقل سره په ټکر کې واقع ده، د داسې بتانو عبادت کوي چې نه ساه لري، نه چاته کومه ګټه رسوی شي او نه کوم تاوان، بلکه خپله مونږه په خپلو لاسونو تراشلي وي او بېرته یې د خپلو معبودانو په توګه په عبادتځایونو کې ږدو. زما زړه په سریلانکا کې تنګ شو او زړه مې وکړ چې د یوې مړی ډوډۍ د پیدا کولو لپاره کوم بل هېواد ته پردېس شم نو ځکه مې د سعودي عربستان پرلور اراده وکړه او روان شوم.

## اسلام پېژندنه

زه پوهېدم چې هلته مسلمانان مېشت دي خو د عقیدې په لحاظ ترې په ځانګړي توګه خبر نه وم، یواځې دومره پوهېدم چې هغوی د یوه خدای عبادت کوي او بس. خو کله چې سعودي عربستان ته ورسېدم نو زما اړیکې لدغو کسانو سره معمولاً ډېرې ټینګې شوې، پوه شوم چې هغوی روژه نیسي، لمونځ

کوي او په یوائې یوه خدای ایمان لري، د هغوی نیتونه، اخلاق او نېک سلوک مې ولیدل او زه یې تر خپل اغېز لاندې راوستم، تر ټوله زیاته اغېزه به پر ما هغه وخت کېدله چې دوی به د اذان نه وروسته ډلې ډلې مسجد ته روان ول. زه مسجد ته ولاړم تر څو ووینم چې دوی په مسجد کې څه کوي او دا کړنه مې هم د خپل نېک احساس له مخې وه چې له مسلمانانو سره پیدا شوی و، اوف خدایه! دا څه وینم، هغوی د یوه خدای عبادت کوي، ددې پر ځای چې په مسجد کې شور او غوغا جوړه کړي او یا کومه بې نظمي رامنځ ته کړي په یوه صف کې د خپل رب لور ته متوجه دي، داسې عبادت کوي لکه ته چې وایي پر سر یې کوم څارونکی ولاړ وي یا هماغه خدای چې دوی ورته عبادت کوي لکه دا اوس یې چې څاري، دوی ډېر په اطمئنان خپل رب ته رکوع کوي او چې کله سجدې ته ولاړ شي څومره ښکلي ښکاري:

﴿تَرَىٰهُمۡ رُكَّعٗا سُجَّدٗا يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗاۖ سِيمَاهُمۡ فِي وُجُوهِهِم مِّنۡ أَثَرِ ٱلسُّجُودِۚ﴾ [الفتح: ٢٩].

درې کاله تېر شول او پدې موده کې زه د اسلام په حقانیت باندې پوه شوی وم، ما دا هېره کړې وه چې زه بودایي یم، زه د اسلام په هکله د خپلو ملګرو څخه پوه شوم، ما سره د هغوی نېک چلن او د هغوی ملګرتیا ددې ډاډ راکوه چې اسلام زما د راتلونکي لپاره تر ټولو سم دین ده. هغوی به راته اسلامي کتابونه راوړل خو زما اساسي ستونزه د ژبې وه او په عربي ژبه باندې سم نه پوهېدم خو ماسره بیا هم د اسلام مینه لا زیاتېدله او تل به مې دا ارمان کاوه چې له مسلمانانو سره مسجد ته ولاړ شم. د بودایي دین عبادات او رواجونه اوس راته هسې ټوکې ښکارېدلې ځکه هغه عباداتو نه راته ګټه رسولی شوه او نه هم تاوان، زه بیا بېرته سریلانکا ته ولاړم او ټوله کیسه مې خپلې ښځې ته وکړه ددې تر څنګ مې ورته تشریح کړه چې مسلمانان ډېر نېک زړي او ښه خلک دي، د یوه خدای عبادت کوي او په معاملاتو کې له عدل او انصاف څخه کار اخلي، له یوه بل سره همدردي لري او زه هم غواړم چې انشاء الله مسلمان شم، ښځې مې راته په ځواب کې وویلې: هر څه چې کوې ستا خپل

کار ده او ما سره کار نه لري، زه هغه وخت دومره د اسلام له اساساتو سره بلد نه وم او ومې نشو کولای د اسلام د دین بنسټیز شیان ورته تشریح کړم.

زه بېرته سعودي ته وګرځېد م او دا ځل مې یواځینی هیله دا وه چې مسلمان شم، له رسېدو سره سم مې له خپل تضمین کوونکي یا کفیل سره ولیدل او خپله هیله مې ورته څرګنده کړه، هغه په ډېری خوښی سره زه یو مسجد ته بوتلم او ما د شهادت کلیمه د زرګونو کسانو په مخ کې په ډاګه اعلانه کړه او لله الحمد مسلمان شوم. له ایمان راوړلو وروسته مې د قرآنکریم ځیني کوچني سورتونه هم یاد کړل خو ولې بیا هم راسره د ژبې ستونزې مرسته نه کوله او بېرته سریلانکا ته د یو مسلمان په توګه وګرځېدم. له سریلانکا څخه داځل کویټ ته ولاړم او هلته د اسلام سره د نویو مسلمانانو د پېژندنې اسلامي مرکز ته بوتللی شوم. ما هلته په خپله مورنی ژبه پوه بلونکي ومونډل او له خوښی څخه نژدې وم چې والوزم ځکه ما مینه درلوده چې د اسلام په اړه باید په زیاتو څیزونو پوه اوسم، هو همداسې وشول ما عربي ژبه زده کړه او پدې هم پوه شوم چې څرنګه کولی شم قرآنکریم تلاوت کړم، همدارنګه د اسلام په ګټه او نورو ادیانو په زیانونو هم پوه شوم او الحمدلله رب العالمین.

ما ددې اسلامي مرکز پوسیله داسې شیان زده کړل چې پخوا مې زده نه ول، زما ورور هم کویت ته راغی او له اسلامي مرکز سره له بلدولو وروسته هغه هم مسلمان شو، اوس مې ښځه هم راځي او زه هیله من یم چې هغه به هم مسلمانه شي او ټولو مسلمانانو ته زما پیغام داده چې راځی اسلام ومنی او د باطلو ادیانو له پیروی څخه لاس واخلی ځکه له الله پرته بل حق رب او معبود نشته او اسلام د همغه لخوا را استول شوی دین ده.

اوس زما یواځینی هدف اسلام ده او د الله ﷻ عبادت ده، زه ترې ډېر ویرېږم او هیله لرم چې د قیامت په ورځ مې جنت ته داخل کړي.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

ورور مو عبدالعزیز (فیمالاسینا)

# اتم څپرکی:
# د فرانسویانو د مسلمانېدو کیسې

## د موریس بوکای د مسلمانېدو کیسه

کله چې په ۱۹۸۱ کال فرانسومتران د فرانسې د حکومت واګې په لاس کې واخستل نو د اعرابو له حکومته یې غوښتنه وکړه څو د د مصر د فرعون مجسمه هغوی ته د طبي څېړنو لپاره او د هغې دبیا جوړونې لپاره د څه مودې لپاره ورکړي، د مصر حکومت دغه بلنه ومنله او جسد د فرانسې په هوایي ډګر کې داسې پلی شو چې تا به ویل روغ او ژوندی فرعون یې میدان ته راښکته شو، دواړو خواووته فرانسوي عسکر د استقبال لپاره ولاړ او مخې ته یې د فرانسې رئیس جمهور هم راغلی و، د استقبالیي له مراسمو څخه چې وزګار شول نو جسد یې د څېړنو او رغونې لپاره د شفاخانو پر لور بوته. هلته زیان پروفیسوران او متخصصین راټول شوي ول چې پدوی کې د جراحانو سرمشر محترم موریس بوکای و. هر چا خپلې څېړنې شروع کړې خو موریس بوکای یوې بلې کیسې پرېشانه کړی و، نوموړي غوښتل ځانته څرګنده کړي چې دا سړی څنګه هلاک شوی ده، له ډېرو څېړنو وروسته د شپې په وروستی برخه کې بوکای ته پته ولګېده چې نوموړی په بحر کې غرق شوی و او له غرقېدو وروسته ډېر ژر بېرته را وېستل شوی او مومیایي شوی څو یې جسد وساتل شي. دا پایلې هغه وخت لاسته راغلې چې بوکای د جسد په یوه برخه کې د بحر مالګې ولیدي.

موریس بوکای غوښتل خپل علمي راپور تیار کړي او خلکو ته وښیي چې د فرعون جسد چېرته ډوب شوی او څه وخت مومیایي شوی، خو پدې وخت کې یې چا په غوږ کې وڅڅول: مسلمانان پخوا لدې کیسې څخه خبر دي. موریس بوکای وویل: دا له امکان نه لرې خبره ده ځکه چې نوموړی اکتشافات ایله د ډېرو پرمختللو او عصري وسایلو پوسیله په ډېر زحمت سره وشول او

مسلمانان یې په اړه معلومات لري. بل نفر ورته وویل چې مسلمانانو ته داکیسه د هغوی کتاب قرآن کوي. موریس بوکای بیسیکه غوندې یو لور ته کښېناست او په خپلو غوږونو باندې یې باور نه راته، له ځانه سره یې ویلې دا څنګه کېدای شي چې قرآن دې ددې په اړه خبره وکړي پداسې حال کې چې انجیل او تورات دا کیسه نکوي.

جسد یې د شیشو په قطی کې بند بېرته مصر ته ولېږه خو موریس بوکای دې مسئلې د ځان پر لور اخستی و، موریس بوکای خپل سامانونه وتړل او په عربستان کې کېدونکي د طب یو کنفرانس ته یې ځان تیار کړ تر څو هلته له مسلمانو ډاکټرانو سره هم پدې اړوند خبرې وکړي. کله چې کنفرانس کې بوکای ته نوبت ورسېد نو تر ټولو لومړی یې د فرعون د جسد کیسه پیل کړه، یو مسلمان پاڅېد، قرآن یې راواخست او د دې آیت په لوستلو یې پیل وکړ:

﴿فَٱلۡيَوۡمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنۡ خَلۡفَكَ ءَايَةٗۚ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ عَنۡ ءَايَٰتِنَا لَغَٰفِلُونَ ۝٩٢﴾ [یونس: ۹۲].

دلته و چې بوکای د ټول مجلس مخې ته پورته شو او پو لوړ غږ یې وویلې چې زه مسلمان شوم، ما پدغه قرآن ایمان راوړ. موریس بوکای په یو بل ډول فرانسې ته وګرځېده، پداسې حال کې چې پوره مسلمان شوی و، په فرانسه کې یې لس کاله تېر کړل او پدې موده کې یې یو کتاب ولیکه چې ټوله نړی یې ولړزوله او ډېری پوهان یې تر خپل اغېز لاندې راوستل. د نوموړي د کتاب نوم (انجیل، تورات، قرآن او اسلام). دا کتاب په مختلفو ژبو چاپ شو په انګلیسي، عربي، اندونېزیایي، فارسی، اردو، اوکراینې، ترکي، کجراتې، المانې او نورو.... په لومړنی ځل خپرېدو یې د لویدیځ او ختیځ کتاب پلورنځي ډک کړل او د خلکو ډېر خوښ شو ځکه پدې کتاب کې د علمي دلایلو او قرآن مقایسه شوې وه چې له یو بل سره یې پوره اړخ لګولو، محترم بوکای غوښتي ول چې که څوک کولای شي ددې کتاب رد راوړي نو رادې وړي خو ولې هېچا هم ونشو کولای چې د علمي دلائلو رد راوړي بلکه ددې کتاب په لیدلو سره یې د شهادت کلمه هم په ژبه راوړه. بوکای د کتاب په سریزه کې لیکي.:

د قرآن علمي خواو زه ډېر حيران کړم ځکه ما هېڅکله ګومان نشو کولی چې قرآن دې دومره دقيق مسائل بيان کړي خو ولې اوس چې ګورو له ننې عصر سره بيخي اړخ لګوي او دا پدې باندې دلالت کوي چې د خدای کلام ده. درنو لوستونکو نشم کولی چې د مصر د فرعون په هکله څه ووايم خو يوائې د قرآنکريم دا آيتونه په ژبه راوړل غواړم چې:

﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ۝٨٢﴾ [النساء: ٨٢].

رښتيا هم چې که قرآن د خدای کلام نه وای نو د موريس بوکای په زړه کې به يې ځای نه نيوه.

## د تياري هانري د مسلمانېدو کيسه

تياري هانري د فوټبال مشهوره څېره مسلمان شو، نوموړي خپل اسلام د نړيوال جام لوبو له شروع کېدو تر مخه اعلان کړ، دا اعلان د هغه د مسلمانو مينه والو لپاره يو ډېر خوشحالوونکی خبر و ځکه يو آرام، نېک خويه او ښه اخلاقو والا لوبغاړی په اسلام مشرف شوی و.

تياري هانري يو اوه ويشت کلن فرانسوي لوبغاړی ده چې د فرانسې د فوټبال په ملي ټيم کې لوبېږي او ددې ټيم له شمزی څخه شمېرل کيږي. د نوموړي د مسلمانېدو ستر لامل ښايي د فرانسې د ټيم کپتان زين الدين زيدان وي ځکه هانري په خپلو مصاحبو کې وايي چې د زيدان اخلاق، فداکاري او ملګرتيا زه په انديښنه کې اچولی وم او نه پوهېدم چې کوم څيز دېته اړ کړی ده چې دومره غوره اخلاق يې خپل کړي همدارنګه نوموړی به مې ليده چې لمونځ به يې کاوه او ډېره پاملرنه به يې هم ورته کوله چې دې څو خبرو زما پام هم اسلام لورته ورواړوه او مجبوره شوم تر څو د اسلام په اړه څېړنې پيل کړم.

هانري وايي: زه يو ورځ کورته روان وم چې مسلمانان مې په يو مسجد کې وليدل، د هغوی شمېر زيات و خو ډېر منظم يو بل سره په يوه سيده ليکه باندې ولاړ ول، يو تن يې مخکې کړی و او چې څه به يې کول نو دوی به هم

ورسره تکرارول، داسې یوه تواضع او نظم پکې موجود و چې واقعاً د جهـانونو د رب له عبادت سره ښايي ما له ځانه سره وويلې چې خـا زمـونږ او ددوی تـر منځ توپير له کومـه ځايـه شـروع کيـږي، دوی څـومره پـه نظـم عبـادت کـوي او مونږه په کليسا د نظم څومره پابندي؟؟؟!!!

# نهم څپرکی:
# د یهودانو د مسلمانېدو کیسې

## د حاخام د مسلمانېدو کیسه

حاخام چې یهودان خپل رهبر، مشر او عالم ته وایي خپل اسلام په داغستان کې اعلان کړ، نوموړی خپلې مصاحبه کې وایي چې اسلام یې د یوې ښځې په بلنه باندې منلی ځکه هغه ښځې ورته ویلي ول تر څو تورات او قرآن دواړه سره مقایسوي وګوري او حقیقت ځانته څرګند کړي نو کله چې یې حقیقت وموند مسلمان شو. د نوموړي د مسلمانېدو نه وروسته په داغستان کې بل حاخام نه پیداکېده نو یهودان مجبوره شول تر څو یو ځوان کس خپل حاخام وټاکي. مسلمان شوی حاخام اصلاً د مسکو اوسیدونکی و، خپل تحصیلات یې د یهودیت په برخه کې کړي ول او د مخاشکالا په آیالت کې په دنده ګمارل شوی و.

تر دې د مخه یو بل حاخام هغه هم مسلمان شوی و، نوموړی د اسلام انلاین په وینا د یو مسلمان العیسی په بلنه له دوه کلونو خبرو اترو وروسته مسلمان شو او بیا چیچن ته ولاړ، هلته یې په اسلام مرکز کې له زده کړې کولو وروسته بېرته خپل هېواد ته راوګرځېد او له یوې مسلمانې انجلی سره یې واده وکړ. د یهودانو رسمي مرکز په داغستان کې لیکي چې: د داغستان یهود نور د زوال سره مخ کېدونکي دي ځکه هغه کسان چې مري له نویو زېږېدلو ماشومانو څخه یې شمېر زیات ده همدارنګه ډېری خلک یې اویا کاله عمر لري او ددوی تر منځ هېڅ کوم حاخام په دوربین کې هم نه لیدل کیږي.

## د یوسف کوهین د مسلمانېدو کیسه

اصلي نوم یې یوسف حنان کوهین، شپږدېرش کاله عمر لري او د عوفادیا غړی هم ده. نوموړی په خپل یهودیت کې دومره کلک و چې د خپل یو زوی

نوم يې هم عوفاديا ايښی ده، عوفاديا د يهودو سخت دريزو يوه ټولنه ده. نن هغه مسلمان ده او انټرنټ يې د مسلمانېدو ستر لامل ګرځيدلی ده.

نوموړی وايي: يوه ورځ په کور کې انټرنټ ته ناست وم او د حزب يوه د خبرو اترو (چټ) پاڼه مې پرانستې وه، پدې کې يو عرب چې شيخ صالح يې ځان راښوده زمونږه پاڼې ته راننوت، خبرې اترې مو سره پيل کړې خو زمونږه ټولو ملګرو نوموړی رد کړ او سپکې سپورې به يې ورته ويلې ولې يواځې ما يو څه مدلل بحث ورسره غوښته، پدې کې زمونږه بحث ډېر اوږد شو او زما ملګرو هم نه غوښتل چې نور دا بحث واوري مونږه د خپلې شخصي پاڼو له لارې يو بل سره انلاين شو، خپل بحث ته مو دوام ورکړ او تقريباً اوه ساعته وخت يې ونيوه مونږه د يهوديت او اسلام په هکله زيات کلک بحثونه وکړل خو د شيخ صالح پوهه له ما څخه زياته وه ځکه هغه ډېر مدلل ځوابونه راکول او ما خو تورات لوستی و ولې دومره قوي ځوابونه مې ترې نه شول ورکولی، د فلسطين په اړه سره وګړيدو، هغه ويل چې فلسطيني مظلومان دي او د يهودو لخوا پرې ظلم او تيری شوی ده خو ما به نه منل بالاخره يې زه منلو ته تيار کړم. مونږه پداسې حال کې رخصت شو چې د بيا ليدو هيلې مو له ځانه سره لرلې.

**د قرآن کريم لوستل**

نوموړی کيسه کوي چې زه يوه ورځ قدس کې د الخليل دروازې تر څنګ له يوه مسلمان ځوان سره مخامخ شوم او هغه ته مې خپله موخه وويله او ترې مې وغوښتل چې راسره مرسته وکړي نوموړی راته وويل چې لومړی قرآن ولوله او وروسته تر هغې د مسلمانېدو تصميم ونيسه. ما د قرآنکريم انګليسي ژباړه ومونده او د هغې په لوستلو مې پيل وکړ خو ډېر داسې حقايق مې پکې ومونديل چې په نورو کتابونو کې مې نه ول ليدلي، ماته څرګنده شوه چې اسلام سم دين ده او بېرته نوموړي هلک خواته ولاړم هغه راته د قرآن د دويم ځل ويلو توصيه وکړه او راته يې وويلې چې دا ځل يې په ډېر غور سره مطالعه کړه. د قرآنکريم لوستل په يهوديت کې له سترو جرمونو څخه شمېرل کيږي خو ما دا کار پټ کاوه او حتی خپله ښځه مې هم لدې کار څخه نه خبروله خو

یوائځې شیخ صالح ته مې دا خبره واوروله هغه ډېر خوښ شو، وروسته مې بیا ښځې ته وویلې او هغه هم زما او د اولادونو د مصلحت په خاطر مسلمانه شوه.

نوموړی وایي: د اسلامی عبادت کولو لپاره زه مجبوره وم چې خپل اسلام مې اعلان کړی وای ځکه زه تر اوسه د یهودانو رسمونو ته تللم او بچې مې د هغوی په مکتب کې ول ما له خپل یو قدسي ملګري سره د خپل د اسلام اعلانولو په اړه مشوره وکړه او هغه راته وویل چې څه موده وروسته حج او اوقافو ریاست ته ولاړ شه او خپل اسلام دې هلته اعلان کړه تر څو تاته د اسلام شهادتنامه درکړلی شي، تر دې وروسته دې بچې ټول یو عربي ژبې سیمي ته یوسه تر څو د قرآن ژبه زده کړي، نوموړی وایي ما همداسې وکړل او پدې موده کې به مې لمونځ په کور کې د بندو کړکیو تر شا کاوه څو کله چې محکمې ته ولاړم نو قاضي چېرته تللی و له راتګ وروسته یې ماته هم شهادتنامه راکړلی شوه او مسلمان شوم.

نوموړي د ښځې نوم هماغه پخوانی نوم ده، د کوهین نوم په خطاب، د یو زوی نوم یې عبدالعزیز د بل عبدالله او د یو لور نوم یې حسیبه کېښودل شول. نوموړي خپل نفرت له یهودانو سره په ډاګه اعلان کړ.

# لسم څپرکی:
# د عربي مسیحیانو د مسلمانېدو کیسې

## د اسحاق هلال د مسلمانېدو کیسه

ماته به یې تل ناز راکاوه او غوښتل یې چې ما د اسلام اړوند تحقیق او څېړنې څخه منع کړي خو دا کار زما فطرت هم قبول کړی و، د کشیشتوب د مرحلې وروستي درسونه مې ویلې او د فارغېدو وخت رانژدې شو، ماته وویل شو تر څو یوه رساله یا کتاب د خپل څوکلني علم په رڼا کې ولیکم خو موضوع یې د ادیانو او مذاهبو پرتله وه، ما هم پیل وکړ او څلور کاله مې په رسالې لیکلو تېر کړل باالاخره په لیکلو بریالی شوم ما دغه رساله د اسلام او مسیحیت په اړه لیکلې وه، کله مې چې لارښود استاد ته خپله تېزه وړاندې کړه نو هغه پردې ډېر غوصه شو چې حضرت محمد ﷺ وروستی پیغمبر ده او حضرت عیسیٰ علیه السلام به په پای کې له اسمان څخه راښکته کیږي زمونږه دغه جر او بحث تر کلیسایي مشرانو پورې ورسېده او ما د هغوی په مخکې د خپلې رسالې څخه تر نهو ساعتونو پورې دفاع وکړه خو پایله کې د کشیش امر دا وه چې په هېڅ صورت هم زما رساله ونه منل شي. لدې وروسته زما کتابخانه تر څارنې لاندې راغله او ما هم نشو کولای اسلامي کتابونه مطالعه کړم. یوه ورځ د اسکندریې په موټرو کې کښېناستم تر څو هلته ولاړ شم ما نو دوه نیم سوه ګرامه صلیب د کشیشانو د کالیو سره په غاړه کې اچولی ده، په موټر کې ناست وو چې یو کوچنی هلک راوخته او خلکو ته یې کتابونه وړاندې کول تر څو یې واخلي ما ته چې راوړاندې شو نو بېرته وګرځېد ما پرې غږ کړ چې ماته هم کتاب راوړه خو هغه راته په ځواب کې وویلې چې ته کشیش او کافر او ته باید قرآن ته لاس ورنه وړې، زه ورپسې شوم بالاخره چې پدې بریالی شوم تر څو ترې یو کتاب راواخلم، ما د دېرشمې پارې مخونه اړول او ناڅاپه مې د ﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١﴾ په عبارت سترګې ولګېدې، پر ما یې عجیبه اغیزه

وکړه او څو کرته مې ولوستل را ولوستل تر هغه چې ښه مې په ذهن کې کښېناست پدې موده کې زه يو بل کشيش پېژندلم هغه راباندې غږ وکړ چې ای ابو اسحاقه زما له خولې نه ناڅاپي ورته ووتل ﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١﴾.

يوه ورځ د کليسا د اعترافاتو مېز تر شا ناست وم چې د معمول په څېر به خلک ورته راتلل او کشيش به يې ګناهونه ورته بخښل، يوه ښځه راغله او راته يې خپل فريا واوروه او پای کې يې راته وويلې چې داځل ما وبخښه نور به ګناه نه کوم، ما له ځان سره فکر وکړ چې دا بېچاره داسې يو چاته راغلې ده چې هغه خپله دګناهونو پيټې تر شا ګرځوي، زه ژړا ونيولم او ساه مې بنده بنده کېدله، ژر مشر اسقف ته ورغلم او لدې مې دا وپوښتل چې زه خو د خلکو ګناهونه بخښم خو زما ګناه به څوک بخښي: هغه بې درنګه ځواب راکړ چې روحانی پلار. ما وپوښتل: د روحاني پلار ګناه به څوک بخښي؟ پدې سره هغه له غوصې تور او شين واوښت او راته يې وويل چې ما څو ځله روحاني پلار ته ويلي چې تاته کومه مهمه دنده ونه سپاري ځکه چې ته خپلو اسلامي افکارو خلک بې لاري نه کړي خو هغه تاکيد کاو چې خير ده خو اوس به زه ستا خوښ شم.

د روحاني پلار په امر زه زنداني شوم، هلته به زما شاوخواته ډېر راهبان او کشيشان راتلل او هر يو به خپلو امساو باندې زه وهلم او ويل به يې چې څوک د کليسا سره خيانت کوي دا يې عذاب. زما په هکله يې هر ډول تعذيب څخه لاس نه نيوه، د ورځې به اوه کرته دوی تعذيبولم او دې کار اوه نوي ورځو ادامه درلوده بالاخره يې زه د راهبانو مشر ته بوتلم هغه راته وويلې: (بچيه! الله‌ﷻ د اعمالو اجر نه ضايع کوي، صابر اوسه او که هر څوک تقواداره شي نو الله‌ﷻ هغې ته پراخي ورکوي او له هغه ځايه چې ګمان يې نه کوي ورته روزي ورکوي). ما ويلې دا خبرې خو د مقدس يا کوم بل انجيل نه دي بله ورځ مې همدا راهب وليده نو راته يې وويلې! زويه زما نصيحت او پند تاته د يو راز په توګه و او تر هغه حقيقت څرګند شوی نه وي چاته يې مه وايه. د نوموړي مشر په خبرو پوه نشوم خو يوه ورځ مې يې د خبرو تعبير په خپلو سترګو وليده هغه داسې چې زه يو سهار د نوموړي د کوټې پر لور ورغلم ګورم

چې نوموړی راهب د مسلمانانو په څېر په لمانځه ولاړ ده ما ژر دروازه بېرته بنده کړه تر څو کوم بل کشیش رانشي، کله چې له لمانځه اوزګار شو نو راته یې وویلې! زویه دا راز له ځانه سره غلی وساته، زما درې ویشت کاله کیږي چې زه دغسې کوم زما خواږه قرآن او د یوازیوالي ښه ملګری مې توحید ده.

څه موده وروسته یې زه بېرته کلیسا ته ولیږلم او دا ځل سوډان ته ولاړو تر څو د هغه ځای غریب مسلمانان د پیسو په مقابل کې مسیحیان کړو، مونږه هلته پنځه دېرش سوډانیان مسلمانان کړل او مصر ته مو له ځانه سره راوستل. دلته د هغوی څو ورځې وتلې وې چې زه د یو کوټې ته ولاړم چې هغه مې ولیده پر لمانځه ولاړ ده، د هغه اوسنی نوم عبدالمسیح و ما ترې تپوس وکړ چې ای عبدالمسیحه داسې ولې کوې؟ نوموړي په ځواب کې راته وویلې چې تاسې زما جسم یواځې په پیسو اخستی ده خو هغه عقیده او باور او کوم تړاو چې زه یې له اسلام سره لرم که ټوله دنیا هم راکړې رانه یې نشی اخستلی. دغو ټولو پېښو نور زما صبر تمام کړ او نور ما نشو کولای چې ځان تر کنترول لاندې راولم بالاخره د ډېرو ضرب العجلونو او اخطارونو سره سره مې د خپل اسلام ښکاره اعلان وکړ. کله چې مې پلار او مور لدې کیسې خبر شول نو هغوی خپل ځانونه ووژل او زه پدې باور لرم چې انشاء الله له هغوی به خندان مخ د رب لورته ورځم. انشاء الله

# يولسم څپرکی:
# د کاناديانو د مسلمانېدو کيسې

## د ګاري ميلر د مسلمانېدو کيسې

محترم ګاري ميلر يو ډېر غټ مسيحي بلونکی و او غوښتل يې چې قرآنکريم کې څه غلطيانې پيدا کړي تر څو پرې خپله څېړنه او يا هم تنقيد وليکي ولې هغه ليکي: قرآنکريم کې دا خبره ياده شوې ده چې که قرآنکريم چېرې د بل چا کتاب وای نو تاسې پکې يوه غلطي پيدا کړی، ښاغلی ميلر پدې اړه وايي چې د کتاب هېڅ مؤلف دا جرئت نشي کولی چې داسې خبره وکړي خو ولې قرآن د الله کتاب ده نو هغه خو معلومه ده چې دا خبره په صراحت سره کولی شي. ما فکر کاوه چې قرآنکريم پخوا ليکل شوی او هماغه د پخوا وخت د صحرا کيسې به پکې وي خو داسې نه و، همدارنګه ما ويلې دا به د حضرت محمدﷺ له شخصي دردونو او ستونزو څخه ډک وي خو هسې هم نه و او بيا مې د مريم په نامه پوره سورت وموند‌ه چې قرآن کې ذکر شوی ده. همدارنګه داسې آياتونه مې هم وليدل چې پخوا ويل شوي خو ولې اوس پوهانو د څېړنو پوسيله هغه ثابت کړي او د نوبل جايزې يې اخستې. يوه بله خبره دا چې کفارو به ويلې چې حضرت محمدﷺ سر شيطانانو ددې کتاب په ليکلو کې مرسته کړې پداسې حال کې چې داخبره پخپله همدا قرآن ردوي او وايي چې کله قرآن شروع کوی نو (أعوذ بالله) ووايی.

ميلر د حضرت محمدﷺ او د هغه د تره ابي لهب کيسې څخه ډېر اغېزمن شوی او هغه وايي: کله چې د ابولهب په هکله آياتونه نازل شول نو په هغې کې ويل شوي ول چې ابولهب به دوزخ ته ځي خو د هغې معنی دا وه چې دالس کاله به دا نور هم کافر پاتې کيږي او دی به تر مرګه پورې مسلمان کيږي نه، د همدې لپاره خو دا رښتيا هم شوه او ابولهب و نشو کولی چې مسلمان شي او د يوې لحظې لپاره دا خبرې غلطې ثابتې کړي اصلاً نه يې شي کولی ځکه دا

خو د محمد خبرې نه بلکه د خدای وینا وه. همدارنګه قرآن وایي چې د مسلمانانو سرسخت دښمنان یهودان دي او دا تر اوسه پورې ثابته شوې ځکه تر اوسه د یوې شیبې لپاره داسې نه دي شوي چې یهودانو دې له مسلمانانو سره مینه کړې وي، دا خبرې د قرآن چلینجونه دي پر حقانیت یې دلالت کوي او په دې دلالت کوي چې دا د بنده خبرې نه بلکه د خدای خبرې دي.

دا او لدې څخه نور زیات هغه څه ول چې د میلر د مسلمانېدو سبب ګرځېدلی و.

# دولسم څپرکی:
# د چینایانو د مسلمانېدو کیسې

## د اس اس لای د مسلمانېدو کیسه

زه چې دا لیکنه کوم تقریباً پنځه کاله او یوولس میاشتې مې له مسلمانېدو څخه اوړي، هر ماشوم په لومړی ځل له مور څخه په فطري ایمان سره پیدا کیږي خو وروسته یې مور او پلار یهودان کوي، زمونږه نسب چینایانو ته منسوب کیږي او نیکونه مو د بتانو په عبادت باندې مشغول ول دوی به زه هم ډېر دې ته هڅولم چې د بتانو عبادت وکړم، راته به یې ویل چې ډېر خدایان شته دي ځیني یې د خیر دي او ځیني یې د شر، څوک د خوښی دي او څوک د غم خو ډېرې عجیبې او غریبې خبرې به یې راته کولې او زما پر ماشوم ذهن به یې کلکه اغیزه کوله. زما تره مسلمان و، کله به چې مکتب کې راته څه ستونزه پیدا شوه او په څه شي به پوه نشوم نو له تره به مې پوښتل چې دا ولې؟ هغه به پدې پوښتنو زیات خوښېدوه او تل به یې هڅولم چې ترې پوښتنه وکړم. زه د انګلستان بورسونو ته کامیاب شوم او دامې یواځینی له وړوکتوبه هیله وه، ما غوښتل چې په خپله ټولنه کې یو سم سړی و اوسم، مشهور څیره شم او مور او پلار مې راباندې وویاړي.

ما زیات مسلمان ملګري درلودل خو یو یې هم زه پدې قانع کړم چې مسلمان شم، دومره پوهېدم چې مسلمانان روژه نیسي، لمونځ کوي او دیو خدای عبادت کوي، یعنې ما به ویلې چې مسلمانان ټول ګمراه او بېلاري خلک دي. دا وختونه تېریدل خو یو وخت یو عجیب احساس راته مخې ته شو هغه دا چې غوښتل مې د خپل تره په څېر مسلمان شم.

**یو ښکلی خوب**

یوه شپه مې خوب ولیده چې په خوب کې د اذان اوازونه اورم، ما دا اوازونه پخوا هم اوریدلي ول، دا اوازونه همداسې زما پر لور روان ول او زه هم ورته پورته شم، ورپسې ورغلم او روان وم تر څو یو سپین کورته ورسیدم چې اواز ترې راته د دې کور د دراوزې په سر یو څه په عربي ژبه لیکل شوي ول خو زه پرې سم پوه نه شوم خو دننه ولاړم، هلته مې خلک ولیدل چې په سپینو جامو کې ولاړ ول او لمونځ يې کوه. کله چې له خوب نه پورته شوم نو هوډ مې وکړ چې یو مسلمان ملګري ته خپل خوب تېر کړم، کله چې مې هغې ته خپل خوب تېر کړ نو هغه وویلې چې خدای پر تا رحم کړی او غواړي چې پدې توګه تاته لارښوونه وکړي. زه لومړی ځل دېته مجبوره شوم چې د اسلام په اړه څېړنه وکړم او ځان پرې پوه کړم، ما کور کې وویل چې زه باید له خپلو درسونو څخه یو کال تاجیل واخلم تر څو خپلو فکري ستونزو کې آرام شم او درسونه په ارام ذهن ولوستلی شم. خو کورکې يې راته اجازه رانکړله او ما به تل ژړل خلکو دا فکر کوه چې لیونی شوی ده. یو ځلې ما څو پوهنتونونو نه غوښتنه وکړه چې طب پوهنځی کې شامل شم خو ټولو زما غوښتنه رد کړله زه ډېر خپه وم او سوال مې وکړ چې خدایه ای د مسلمانانو خدایه که زما غوښتنه د طب پوهنځی په اړه ومنل شوه نو زه به د مسلمانانو په څېر ایمان راوړم. په تصادفي ډول سبا بېرته راته احوال راوړ چې کوم پوهنتون چې ستا غوښتنه يې نه وه منلې هغوی ستا د طب په اړه غوښتنه ومنله. پدې وخت کې مې نور څه په خوله رانغلل پرته لدې څخه چې: أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمد رسول الله.

لدې وروسته مې د اسلام په اړه څېړنې وکړې او یو دوست مې هم له زندانه خپل احوال راولېږه چې مسلمان شوی ده نو زه پوره او سم مسلمان شوم، ډېر شیان مې د اسلام په اړه زده کړل او پوه شوم چې اسلام د ژوندیواځینی قانون ده.

# دیار لسم څپرکی:
# د واتیکان دیو غړي مسلمانېدل

محترم محمد ادریس د خپل د مسلمانېدو کیسه داسې پیلوي: ما د مسلمانانو په اړه هغه څه اوریدلي ول کومو چې لویدیځو رسنیو ویلي دي، هغه دا چه دوی تروررستان دي، خلک وژني او ترور کوي، د همدې خبرو نه زیات څه نه پوهېدم، ما هلته په یو ځای کې درس ورکاوه زه له خپل روحی کارونو ستړی شوم او تصمیم مې ونیوه چې چېرته د چکر او تفریح لپار ولاړ شم، د ډېر غور څخه وروسته مې مصر انتخاب کړ، کله چې مصر ته راغلم دلته مې وضع بل ډول ولیدله، یو تن مې د لمانځه د اداء کولو په وخت ولیده چې ډېر په خشوع سره لګیا وخپل عبادت یې کوه، بل تن مط د سرک په غاړه ولیده چې کیلې یې خرڅولې، زه ورنژدې شوم او هغه راته د السلام علیکم په کلمې ښه راغلاست وویلې، ما ترې د حال او احوال تپوس وکړ هغه راته وویلې چې الحمد لله رب العالمین.

له ډېرې اغېزې سره یو ځای بېرته لندن ته وګرځېدم او په خپل درس ورکولو مې پیل وکړ، ما ددې تر څنګ د اسلام په اړه هم مطالعه شروع کړه، کله به چې مې ټولګي کې درس ورکوه او د حضرت محمدﷺ نوم به راغی نو زما له سترګو به اوښکې روانې شوې.

یو ځل مې په مکتب کې درس ورکاوه چې څه زده کوونکي راغلل او راته یې وویلې چې مونږه غواړو دلته لمونځ وکړو نو ما هم اجازه ورکړه او زه د کوټې په یوه کونج کې کښېناستم، دې کار راباندې ډېره اغیزه درلودله. کله چې لندن کې اوسېدم تل به مې د مسجد په خوا تبلیغ ته غوږ کېښوده، یوه ورځ یوسف اسلام خبرې کولې زه هم ورغلم وروسته د خبرو خلاصېدو مې یوسف سره ولیدل له هغه مې وپوښتل چې مسلمان کوم کوم کارونه باید وکړي.هغه راته په ځواب کې وویلې:

- مسلمانان په خدای عقیده لري. ما ویلې زه یې هم لرم.
- مسلمانان پنځه وخته لمونځ کوي ما ویلې پوهېږم.
- ویل یې د روژې په میاشت کې روژه نیسي ما ویل زه یې هم نیسم.

پدې وخت کې یوسف یو ځل ماته ځیر شو او راته یې وویلې چې دا څه شی ده چې له تا یې احمق جوړ کړی او مسلمانېدو ته دې نه پرېږدي، هغوی په لمانځه ودرېدل او زه په فکر کې ډوب یوې خواته بې سیکه کښېناستم، له لمانځه خلاصېدو وروسته د یوسف خواته ولاړم او ترې مې وغوښتل چې زه مسلمانېږم، هغه راته د شهادت کلمه ولوستله او ما تکرار کړه او لله الحمد زه مسلمان شوم، اوس له خدایه غواړم چې یو واقعي مسلمان له ما څخه جوړ کړي. امین

ومن اللّه التوفیق